Ketabton.com

د اطلاعاتو او کلتور وزارت

PROPERTY
ARIC
Established
1989

# د نغمو کاروان

536

ټولوونکی : نصرالله حافظ

Ketabton.com



# دنغمو کاروان

PROPERTY OF ACKU 9860

ټولونکی :

نصرالله حافظ

PROPERTY OF ARIC

د بیهقی کتاب خپرولو موسسه

۱۳۵۶ = دزمری ۱۵

Ketabton.com



د نغمو د کار وانه جرس غزیزی

دمقصود دمنزلگاه په لوری یون دی

مونږ له مخی خاروانا ند دی کار وان یو

یو موخدای یو موهیواد یو مو تږون دی

Ketabton.com



# يادونه!

په راديو افغانستان کې د پښتو سندرو دا مجموعه چې د «نغمو کاروان» په نوم «په دوو وروستيو پېړيو کې د پښتو د چاپ شوو آثارو د سيمينار» په مناسبت چاپ شوې ده د جمهوري دولت د کلتوري پاليسۍ هغه برخه بشپړوي چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ئې د شعر هنر او موسيقۍ د مثبتې پراختيا او پياوړتيا په باب هيله لري. پښتو سندرې او نغمې زموږ د لرغوني هيواد ډېره پخوانۍ ادبي او هنري شتمني ده چې له پېړيو پېړيو راپه دې خوا ئې خپل لرغونی رنګ او خوند ساتلی دی. په دغو سندرو او نغمو کې د بل هر څه نه د هيواد سره مينه او د هيواد آبادولو او ښادولو ته د خلکو جهد او کوشش ډېر ستائيل شوی دی چې موږ همدغسې هڅو ته په اوس وخت کې زياته اړتيا لرو.

دا سندرې او نغمې چې زموږ په ګران هيواد کې د شعر او موسيقۍ د هر ډېره ښه نمايندګي کوي او تر اوسه پورې يوازې د غوږونو له لارې ورسره زموږ خلک آشنا وو د راديو افغانستان د نغمو د کاروان په مجموعه کې د سندرو د شعرونو متن او خپله د سندر غاړي انځور هم ګتلی شي. زه باور لرم چې زموږ ګران هيوادوال او د ذوق خاوندان به له دغې مجموعې څخه په زړه پورې استفاده وکړي او د پخوانه په زيات د ملي سندرو او موسيقۍ سره مينه او علاقه پيدا کړي.

**پوهاند دکتور نوين**
**د اطلاعاتو او کلتور وزير**

Ketabton.com

# د نغمو کاروان

## سريزه:

په دې نامه د شعرو نوې مجموعه ښاغلي حافظ صاحب راټوله کړې ده دا اشعار ټول په راډيو کې هارمونيزه شوي او بيا د خوږ وږمو سندرغاړو له خوا ويل شوي دي دا اشعار په خپله هارمونيزه تشکل د افغانستان د راډيو په ارشيف کې ، پرتيو پراته وه ، چې ښاغلي حافظ ور ته د افغان اولس زاړه او ځوانانو ته د ښوولو همت وکړ . ښاغلي حافظ د اېډې نغمې د بيد و زړونو بيدارۍ په غرض د افغاني بزم محفل ته راټللي او د اوس د اشعارو د ښايسته شهرۍ د ځرنګوالي په برخه کې يې زه هم څه ويل غواړم :

وايي چې لومړني انسان د ساده او لومړني توليد هڅه وکړه دا هڅه د انسان د ژوند په برخه کې لومړنی پانه وه ، چې وا ونه دا هڅه او ښتنه وه چې د انسان لوی والی او عظمت ته د لومړي وار د پاره ست يکښتي نغښتي ؤ :

هغه هڅه چې له يو خوا د توليد په هکله حرکت بالاخره له پله پلوه د نظم بنسټ ته هم يوه بلنه ګڼله شوي ده ، چې هغه هڅه په پای د موسيقۍ د پيدا کېدو لوخښته ايږدي او ضربي الات پيدا کوي ، په همدې دوران کې يې ژبه اليوه د يوه ، مشکله کيږي «نظم» هم کله هم مکرګي کيږي يا دا چې همدغه پروسه د شعر د مرحلې د خلاصيد لو د اماده ګۍ پړاو باله شي . په همدې اساس په ټولو علومو کې ښکاره کوي چې لومړني افغان د خپل ژوند

Ketabton.com



په شروع کې هنرد ځان منګړی باله ، چې نڅاء موسيقي او سرودونه (شعرونه) يې لويه برخه وه وايي :

نڅا دغړيو ، دودې دپاره او موسيقي د فکري غښتلتوب دپاره وه خو سرودونه دالفاظو دښه آهنګ پيدا کيدلو دپاره ؤ چې له يوې خوا رنګينې پکښې پيدا شي ، او دبلې خوا دعواطفو په پارونه کې مرسته وکړي. دې دعواطفو دپارونې او الفاظو دښه آهنګ تنده دخلکو پرګنو، دژوند او دنيا کې دپاره داولس پيژندنې ( Folklore ) يا خلکي ادبياتو پرمخ ور خلاص کړ چې وروسته يې ويش دا بولي :

دخلکو کيسې

دخلکو خطابې

دخلکو ترانې

دخلکو هنر

ځرنګه چې زمونږ دخبرو مخه دشعريا ترانولورې ته ده نو بايد ووايو :

دري نيم زره کاله پخوا داريائي تکم زيشيانو(شاعرانو او مبلغينو) اول دباختر په سيمو او بيا دهندوکښ په لمنو کې ، خپلې دپلرونو کارنامې مذهبي احساسات دوداو دستور روايات او نورې اخلاقي لارښوونې په شعر کې ځاي کړي دي ، او ددې کار علت هم داؤ چې د خپلو نيکونو او پلرونو کړه وړه ، راتلونکي نسلونو ته وسپاري دا کار د ( ويدا ) د سرودونو او د (اوستا) دګاتونو په رنګ پښتو ته پرې ښوول شوي دي، چې فنني پښتانه هم دغه سلسله ساتي .

په همدې اساس پښتانه خپل روايات ، افسانې اخلاقي او مذهبي لارښودنې ، حتی خپلې لومړني او ښکې لومړني خنداوې لومړني مينې او لومړني دردونه او غمونه مونږ ته راسوي دا کار چا کړي دي ؟ دخلکو سندرو او دفولکلور همدغې برخې ، نو ځکه ما کسيم ګورکي وايي "مزه پيامشا سوپام دي تکي ته اړوم چې فلکلور دخلقو دژبې محصول دی يا دا چې دوی له دغې لارې ډيرپياوړي اتلان ، چې په هنري لحاظ ډير کامل تيمونه بلل کيږي پيدا کړي دي ، يا دا چې خلکو په خپلو فلکلوري آثارو

Ketabton.com



کې هغه هنري ښکلي ځواک لري، چې په پېدا کېدلو کې يې له عقل، ابتکار، فکر او احساس څخه کار اخستل شوی دی. په دې برخه کې انګرېزي مستشرق مستر راورټي وايي: «پښتانه که څه هم ورځپاڼې نه لري، بيا هم د دوي هغې عاميانه او خلکي اشعار، او بدلې چې په عامو دول د خلکو په واسطه ويل شوي دي، د دوي تاريخ او ورځپاڼې ګڼل کېدای شي» خو بيا هم دا اشعار او بدلې د خلکي والي او خصوصيت په لحاظ پر دوه ډوله دي:

۱ - هغه د خلکو او عوامو عمومي سندرې چې شاعر نه يې ښکاري يا خو نه دی معلوم

۲ - هغه سندرې، اشعار او بدلې دي، کومې چې شاعر يې معلوم يا کوم چا ته منسوبې وي.

په عين حال کې دا ادبيات، پر دوو برخو ويشل شوي دي، چې يوه برخه يې داتڼ ناري يا بولالې - د کاکړو نارې يا غاړې، د شين خالو نارې يا غاړې غړانګې ټيمکې يا سروکې - چاربيتې - لوبه يا بګتي، بدلې رباعي يا څلوريځې ټپې يا لنډۍ چې دا دول ادبيات د وزن مله ادبيات دي مګر دوم ګروپ وزن لرې خو پښتانه نه ورته اشعار نه وايي لکه:

متلونه، لنډې کيسې - اساطيري افسانې، غير مهذبې کومېډي کيسې - تمثيلي متلونه، ماشوما نو ته د مېنډو خبرې - د او بو په وخت کې ماشوما نو ته مسجع خبرې.

چې د خلکو د ادبياتو دا برخه د لومړۍ برخې په اندازه د وزني اصول پابنده نه ده په هر تقدير کله چې مونږ د ملت نوم اخلو مطلب يکښې د يوه ملت د ژوندانه فکري - انګيرونو احساساتو، شته مراد دی، چې په دې برخه کې، د مستر راورټي په قول د پښتون ملت د تاريخ فکر، احساساتو انګيرونو يوازېنی اخبار د پښتو خلکي ادبيات او بدلې او اشعار ګڼل کېږي چې په دې مجموعه کې راټول شوي او موږ دې ته اړ باسي، چې د هر ډول شعر يوه لنډه څرګندونه هم وښيو خو د مخه تر هرڅه بايد د او وايو چې ددې مجموعې موضوع د خلکي ادب کومه برخه ده.

Ketabton.com



په دې کتاب کې د خلکي ادب د ادولې برخې او اشعار راټول شوي دي:

١ — لوبه (یکتي)

٢ — قصه او داستان

٣ — چاربیته (د خپلو ټولو انواعو سره)

٤ — نیمکۍ یا سروکي

٥ ټپې یا لنډۍ

٦ — ناري

٧ — غزل

٨ — رباعي

٩ — ترانه

اوس به د دې دولونو په برخه کې د پښتنې تعریف – توپیر او پېژندنې په اساس لږ وږغیږو په دې شان:

اول د پښتو د بیاتودا برخه داوزانو په لحاظ څه دول قوانین لري؟

په دې برخه کې د اریایي ژبې اصول چې د وید په یاد ریګوید ادبیاتو څخه دریشیانو څخه له شاعرانو او پوهانو څخه راپاته دي او د — ګهوچه Ghocha لوپامودره Lopamudra او ماته Mamala څخه چې (۸۰۰ ق م) ته رسیږي دلته د شعر د سم او ناسم د پېژندلو لاره هجا او سلیبل ګڼل شوي دي نه د دوهمې هجري پېړۍ د خلیل بن احمد الفراهید وضع شوی عروضي تقطیع.

په همدې اساس زه د وزن لاره، د پښتو د اشعارو د پارمه د وود لیلونو هجا او سلیبلي لاره غوره بولم.

اول: دا چې د اریایي سرودونو او اشعارو قدامت پر عربي اشعارو د مخه بولم

دوهم: — دا چې اریایي ژبې پر عکس د کلمې شروع په ساکن سره کولای شي، او پښتو هم دا ژبه یا بې ژبو لري څخه شمیرل کیږي د مثال په ډول د (۲۰۰ ق م) د «اویستا د ګاتونو» دا پارچه د آهنګ خاوند ده او هیجایي نظم په ډول منل شوي د مو ګوري: (۱)

(۱) د هدایت صادق د تیتو پر ګویا د اشتونو څخه ۲۹۹ پاڼه

«وهو خشم وریږم ... با غم ای بریښتم»

«سکیږو ثنای مزداوهستم ... تت نه نوهوت ورښانه»

په همدي شان د پښتو د چار بیتي داسې تاسې وګوري چې داولي مسې د سر کلمه یې په سا ګن سره شروع کیږي او په عربي کې اصلاً ابتدا په سا ګن نشته. «ستا په دیدن پسې سوري وهم بیمار شومه» «اي لیوانیه په پردي مال پسې ژاړي څله؟» په لومړي بیت کې د «ستا» کلمه موګوري چې د(س) توري نه زور لري نه هم زیراو پېښ، په همدي اساس مو نیوبایدو وایو.

د پښتو اشعارو دسم او ناسم ښونه په هجا او سلیبل سره کیدلی شي چې مونږ دادي د یوې مسرې یوه برخه د سلیبل او هجا په اساس وېشو:

ستا، د، دي، دن، پ، سې، سو، ري، و، هم، بي، ما، ر، شو، مه:

دا بیت (۱۴) سلیبله لري.

اي، لي، و، ن، یه، په، پر، دي، مال، په، سې، ژا، ړي، څه، له، —

دا بیت بیا (۱۵) سلیبله دي.

په دې دول تقطیع کې د تورو د پیروالي او لږوالي هیڅ اعتبار نه لري خو هجا یا سلیبل دسم او ناسم معیار تاکونکي دي لکه د خلیل په زحافونو دا پیرو کیږي چې کوم تصرف لیدل شوې دي دا ښيي چې د عربي مشتبه دا پیره اصلاً دخیلو بحرونو په اعتبار په پښتو کې له سره منلې کیدای.

په دې برخه کې د ویل Veil هغه ایرادچې د عروضو او صرف او نحوه په برخه کې پرا واله Evald شوې او وابې اوالله یوناني او زان د عربي د پاره استخداموول غوښت داسې نه وو د لته هم که د عربي عروضو قواعد پر پښتو تطبیقول غوښتل کیږي هغه ایراد ورته محکي دي.

د پښتو د اشعار وپه برخه کې زما په نظر څه چې د پښتو د مقاماتو او منلو یوزو اصولو پر بنا د ګوپار Guzard هغه نظریه ده کتل غواړم چې هم چې د عرضو قواعد د موسیقي د علم د قوانینو تابع کول غواړي.

د لته د پښتو د خاصې ممیزې په وول او ښاورو ګرځول د یوه دول زانیرو نیول په اثر کله کله نه بلکه اکثر د ځاینو سره پیه اشي ..........

Ketabton.com



انس نیولولوي عنت د نوي فکر او نوي جهد یا پیدا ینبت مخه نیول دي په هر حال راشي چې د همدي بروسی په تننده کی لږ او ډیرد (وزن) په برخه کی تریوه حده رنا واچوو اودا ډول چې وزن څه ته وایه شی ؟

وزن : هغه برابري او نظم ته وایه شی، کوم چه په ږغونو کی شوي وي .

## شعر وزن:

هغه نظم او برابري ته وایی کوم چې دوینا په ږغونو کی پیدا کیږي

## دشعرد وزن ویش :

وزن د کمیت Prosodique هغه وزن ته وایی کوم چې په هغه کی هجاوي ، د کمیت لنډوالی او اوږوالی په اعتبار منظم شوي وي . دتکیې کولو وزن Tonique چې په هغه کی هجا شدت او کراريء د کمزوري په اعتبار ترتیب شوي دي وزن دزیراو بم Hauteur چې وینا پر ږغ با ندي بنا شوي وي .وزن دشمیراو عدد Vumerique چې د په هغه کی د هجا د برابري او شمیر هغه هم د وزن او مسریو په اعتبار جوړ شوي وي . په هر تقدیر شعر د ږغونو مجموعی ته وایه شی خو دلته بایدو ویل شی چې دشعر دآهنګ او وزن په برخه کی څه ویل د شعرد «اوریدنی» سره اړه لري نه داچه د (لیکنی) سره اړه و لري .

## ګاتونه یا سرودونه او شعـــر :

د دي تولووزنی او شعری یادونی څخه په لنډ ډول داخرګندیدل ضرور دي چې دشعردوزن په برخه کی دآریا نازاړه اد بیات دوزن ملګري ؤ خود اوستا د نظمونو قواعد د عربی عروضی قواعدو سره اصلا مشابهت نه لري بلکه اصلی مبنی په ار یا یی سرودونو او اشعارو کی د هجاو برابري ده چې د هری مسري په پرتله کی کتل کیږي .

Ketabton.com

دعربي عروضو بنياد پرمتحركو او ساكنو توروايښودل شوي دي او دي برخې ته توجه نه ده شوي چې ساكن يا صامت Consomine دوينا په وخت كې نه تلفظ كيږي خو هغه وخت په تلفظ شي چې د حركت ملګري شي نو په همدي اعتبار د لته د مصوتو Cozelle تور و سره چې دي تورو ته ښور ور كوي دارپايي سرود ګارشته د مثال په ډول د (سبب و تد - فاصله) په برخه كې چه د عروضو مقررات تاكې وايي .

اول- كله كه كلمه د ومتوري ولري يو متحرك يو بل ساكن هغې ته «سپك سبب» او كه د كلمې دوه توري متحرك وي لكه «رمه» هغه ته درونه سبب ويل كيږي .

۲ - كله چې د يوي كلمې دوه توري متحرك او يو ساكن وي هغه ته مجموع وتد ، وايي لكه چمن او كه اول او رومتي توري متحرك وي او منځنى توري يې ساكنو هغه ته مفروق وتد ، وايي لكه واله . او د كثرت وتد هم د دو متحركو او دو ساكنو سره وي لكه جهان

۳- كه څلور تور يخه كلمه چې لومړني دري توري يې متحرك او ورومتى توري يې ساكن وي هغې ته صغري فاصله ، خو كه د پنځمه توريځه كلمې څلورتوري متحرك او پنځم ورومتى توري ساكن وي دي ته كبري فاصله وايي سپك سبب دفع پروزن دروند سبب دفع پروزن او منځني سبب دفعل پروزن مجموع وتد دفعل او — مفروق وتد دفاع پروزن راځي .

په همدي شان هر اسباب او او تاد افاعيه وزن لري .

خود عروضي مقرراتو د څرګندو نې سره څرنګه چې مو پوهرا هنګونه هم خبري لرو، غوارم داهنګو نو د دوزن خصوصيت ته هم يو ه لنډه كتنه وكړو اهغه داچه ږغ يا آهنګ د نغمو څخه جوړ شوي دي ، او نغمې د ايقاع او فقرى څخه جوړې شوي دي په همدي اساس ، د تولو اصل په حقيقت كې پرحركت او سكون ولاړدى .

مګر شعر !

شعر د منظوړ يود افاعيلو او افاعيل د وتد سبب او فاصلې څخه جوړ شوي دي مثلاً په اهنګو نو كې تن تنن او تننن شته لكه په عروضو كې چې فع فعل فعلن دا كار كوي .

Ketabton.com



دا او د شعر او آهنګ د وزن د اصولو کلیات خو په دې دواړو اصولو کې شرط او عقده وزني مبدأ ګرځېدلی ده ؟

دا خبره د غور وړ ده ، په دې ډول چې د آهنګ تن تنن او تنن او د شعر د افاعیل او فعل او فعلن د حرکت خطه منشاء اصلي یعنې ابتداء په حرکت سره کېږي اي شي نه په سکون . او تنهنتو د ژبې شعر شاعري او د آهنګ اصول و چ کلک په هجا یعني سلیبل و لاړ دی نه په رغنا ص حرکت مثلاً د (لمر) کلمه دو سلیبل لري او توري یې د وی د ي یاد اچې یوه حرکت لري هغه هم په د و هم توري کې یعني (م) متحرك دی د لته خو د ( وتد ) سبب او فاصلي اصول برابر په لای شي نه هم د آهنګ تن تنن . . .

دا دی چې مونږ د پښتو د شعر او موسیقي یا شعر او آهنګ اصول د عربي د عروضو آهنګي او اعد و خطه بېلوو او د پښتو شعر او شاعري د منلو یزو اصولو سره په جلا تعریف او جلا قواعدو سره یا ید څرګنده شي ، چې د دې پر تللي خاطرو اصول د شعر د سلېره هجا او د هجاو څخه دي سره د آهنګ و اټن یې Forkeany پر پخوا نی وضع شوي اصولو تکیه ای شي او په دې ډول .

١ — لوبه (مکتي)
٢ — ګلیسه یا داستان
٣ — چار بیته
٤ — نمیکۍ یا سرو کې
٥ — رباعي
٦ — غزل
٧ — ناری
٨ — ترانه
٩ — ټپې یا لنډی

دا دې هغه مقامې یا د آهنګ په لحاظ د فورم او وزن کلفه ملاد ماهیت لسمېږي او هر یو په سلي لحاظ او توضیح خوا ری په دې شان :

اول لوبه یا مکتي : مکتې یا لوبه د غزلو او چار بیتو په شان کې ده چې وه ګرم تال سره په تولد او چا یک او از و یل کېږي .

Ketabton.com



بګټۍ ګله د دوو نفرو او ګله د یوې ډلې له خوا په ګډه هم ویل کېږي او په ځینو بګټیو کې لنډۍ هم اچول کېږي. بګټۍ هغه ملي شعر دی چې د ګلاسیکو شاعرانو په دیوانونو کې نه لیدل کېږي او د ملي شاعرانو مال ورته وایه شي.

بګټۍ هم لکه چاربیته او غزل چې یو سرلري او زیاتره یو بیت لري چې دد دي بیت د دواړو مسرو قافیه سره برابره وي ترسرو روسته بندونه لري! چې د هر بند په اخر کې بګټۍ ورسره راوړل کېږي.

## کیسه یا داستان:

لکه چې وموویل چې دري زره کاله پخوا دار یایي اقوامو پښیانو (شاعرانو او مبلغینو) لومړي د باختر په سیمو او بیا د هندوکش په لمنو کې خپل د پلرونو کار نامې مذهبي احساسات دود او دستور روایات او نوري اخلاقي لارښوونې په شعر کې ځای کړي وې او دا ددې د پاره چې د دوی راتلونکې نسل د خپلو پلرونو خصوصیات او کړه وړه هېر نه کړي د ویدا مجهول او معلوم سرودونه او د اوستا ګاتونه هم دغه د ریشیانو اشعار او خطابې او لارښودنې دي چې د پښتو شاعرانو ترنن ورځې پورې د غه سلسله ساتلې ده او په شعر کې یې اخلاقي او مذهبي لارښودنې د کیسو او روایاتو په توګه راوړي دي.

هغه روایات او افسانې چې پښتنې شاعرانو په نظم سره ویلې د شعري فن او ادبي خصوصیاتو له مخې په عمومي ډول دا دي:

**اول کیسه:** هغه شعرونه دي چې د چاربیتو په شان ویل کېږي او په همدغه ترتیب یې دوام موندلی دي ترهغه وخته چې کیسه خلاصېږي.

۲-د داستان په رنګ چې دا ډول شعر د عربي مثنوي په شان ویل شوي دي—د شعر دا ډول سرنه لري او د بیت دواړي مسرې یې یو شان قافیه لري دا او د کیسې او داستان په برخه کې یوه لنډه څرګندونه.

Ketabton.com



## چاربیته (سندره) یا بدله:

چاربیته بدله او سندره د موضوع په لحاظ عشقي یا حماسي وي کیسې او نکلونه حتی داستانونه پکښې ویل کېږي بندونه يې د څلورو بیتو څخه یا خود څلور مسریو څخه کم نه وي چاربیته د فورم به لحاظ پر ساده او زنځيري باندي ویشل کېږي . د مسریو په اعتبار هم ویش لري څلورو یا پنځو، شپږو، نوو، اتو، نهو او لسو مساوي لنډو یا اوږدو مسریو باندې يې ویش کېدای شي . په چاربیتو کې هر کله اوږده موضوع چې اکثره عشقي او حماسي وي لکه د عروضي اشعارو قصیده او مثنوي افاده کېږي د چاربیتي ویل یوه غښتلي شعري قریحه غواړي او یوه ځانده استعداد ته ضرورت لري چاربیته ځکه چاربیته بلل کېږي چې بندونه يې د څلورو مسریو څخه نه شي ابرېدلای .

چاربیتې ته ځيني خلک سندره وايي او نوري بدله بولي .

## نیمکۍ یا سروکی:

د پښتو په اشعارو کې سروکي سر نیمکي یوه ډېره په زړه پوري برخه ده .

دا شعر دوه جزه لري یو جزئي مکرر راځي او هغه ته «سر» وايي او بل جزئي په منځ کې و راچوي هغه ته ټیکی ویل کېږي .

(سر) عموما یو بیت یعني دوه مسرې لري چې اوله او ږده او دوهمه لنډه او کله د واړی مسرې برابرې هم وي او قافیه هم پکښې شرط نه وي نیمکیو د پښتو د موسیقي دنیا هم پراخه کړې ده او هم يې خوږه کړې ده .

موږ پلای شو چې د پښتو موسیقي کې په سلو کې اتیا کمپوزه د نیمکیو څخه الهام اخلي په سوو نو سوو نو نیمکۍ چې په پښتو کې موجودې دي هره یوه په موسیقي کې ځانته بېل بېل بوښه کمپوزا و یوه خوږه نغمه لري .

نیمکۍ زیاتره د هندي کورس په شان د یوې ډلې له خوا په ګډه سره ویل کېږي .

په موسیقي کې د نیمکۍ برخه واتڼ ته یا داتڼ ناروته ور کړه شوې ده داتڼ اکثره ناري په نیمکیو جوړېږي چې دا برخه يې دا هنګ او شعر پېوستون ښه شاهد ده نیمکۍ داتڼ د ناري په اعتبار داډول ویشل کېږي .

Ketabton.com



اول – هغه برخه چې په خاص ډول په اتڼ کې راځي .

دوهم – هغه چې په اتڼ کې نه راځي او د نیمګړو مستقل حیثیت لري .

**رباعي :** رباعي په وروا او ږده او ازتر چاربیتو لو بو غزلو او نورو شعرو نو د سخه و یل کیږي رباعي دغلوریزي په نامه هم یادیږي خو کله کله ترغلورو مسریو دشمیر په لحاظ بریدلای شي .

په رباعي کې پند او نصیحت هم راځي او هره د ژوند هغه پکښې ترسه یږي نو په دې لحاظ رباعیو ته غزل هم ویل کیدای شي .

## غزل ، ترانه:

غزل د پښتو شعر یو معرب او مفرس شوی شکل دی چې ترسرو دو نو ، لنډیو نارو سرو ګواو چار بیتوورو سته ویل کیدای شي او په موسیقي کې نسبت نورو ډولونو ته لږ راځي یا خو خپل اصلي مقامي رنګ نه لري بلکه رنګ و رکول کیدای شي چې په دې کتاب کې یې کمپوزې ډولونه بېودل شوي یا ارمونیزه رنګ یې د سندرغاړو د پاره شته او پیدا کیدای شي .

**ناري :** دا ډول شعر په پښتو کې ډیر ډولونه لري چې د اتڼ ، شیخالو کاګرو ناري یې نسبت د نکلو نو نارو ته ډیري دي وزن یې خاص او آهنګونه یې هر ځای بیل دي یا دا چې ناري د هندي راګونو په اصطلاح پېژي ته وای او پېږ غرته ویل کیږي او ناري هم اکثرا د تال سره نه دي جوړي یا دا چې آزاد شوي آهنګ دي .

**ترانه :** ترانه په پښتو کې نوی رنګ دی چې د وطن او ملي غوښتنو او خوښیو تمثیل په کې کیږي ترانه د پښتو د شعرو نو یوه نوي پیرایه ده یا دا چې د نویو مفاهیمو نوي فورم دی ، چې دلته یا په دې کتاب کې تاسې ډول او رنګ ایدای شي د اوځ پښتو د اشعارو او موسیقي سره د اشعارو پر ارتباط څو خبرې چې ، دو زن ضرب هجا او سلیبل سره په پرتله ډولونو او د بریه و رغیدلو او د ښاغلي حافظ سره مود ده دز یار په ویاړ ځان شریک کړ .

شیرزمل محمد دین «ژواک»


۱۳۵۶-۲-۲۵

Ketabton.com



## ددی سریزی دلیکلو په‌وخت کی‌دا اثار کتل شوی دی:

۱—دز بری گنی‌د سپنتا مقالی
۲—دا کتر علی اکبر تولنپیژندنه
۳—دخلکو سندری —ر فیع
۴—ترانه های کهسار
۵-پښتنی فلکلو رسیال گاکر (کوئته)
۶— بحورلا بحان، فرحت شیرازي
۷—د لیکونکی نما نکړی یاد اښتونه
۸—پښتني‌سندری دو هم‌توك



Ketabtbn.com

# ملی سرود

څوچې دا زمکه آسمان وي
څوچې دا جهان ودان وي

څوچې ژوند په دې جهان وي
څوچې پاتې یو افغان وي

تل به دا افغانستان وي
تل دی وي افغان ملت

تل دی وي جمهوریت
تل دی وي ملي وحدت

تل دی وي افغان ملت جمهوریت
تل دی وي افغان ملت جمهوریت

ملي وحدت ملي وحدت

Ketabton.com



د خدای بخښلی استاد غلام حسین ۱۸۹ ر ۱
په آواز کی



# سروکی

جانانه راشه جانانه راشه مالتانه بیلوینه جانانه راشه

* * *

جانان زما د جانان یم که په بازار می خرڅوی ورسره ځمه

گل می په لاس درته ولاړیم

یامی گل و اخله یا رخصت راکه چه ځمه

جدائی راغله لاړی دوی شوی

مرگ می قبول دی جدائی نه قبلوومه

* * *

دمیرمن پروین آواز ۸ر۱۵۰۲



# لوبه

مړاوو کتودې په ما کړې پساتو نه یاره    درپسې مرمه

*   *   *

سینې دې دومره اثر کړی    قسم دی یاره قسم دی
په ما ئی هرڅوك خبر کړی    »   »   »
اریا نادریان یم چا نه وساتم حالو نه یاره    درپسې مرمه

*   *   *

غلې نظر دی درپسه در کړم    قسم دی یاره قسم دی
بیلتون دی لاخاوری په سر کړم    »   »   »
اوس به درلیږم سپینې اوښکې سوغاتو نه یاره    درپسې مرمه

*   *   *

خوب او ارام په ما حرام دی    قسم دی یاره قسم دی
ژوندون می واړه نا ارام دی    »   »   »
سیلاب خو تل وړی په سر سترگو ستا نازو نه یاره    درپسې مرمه

**دمېرمن پروين آواز** ۵ر۱۵۷۴

# غزل

خمارو سترګو خوړولی یمه ـ لیونۍ مینې ژړولی یمه

ستا دخوږو شونډو خوږو سترګو لکه ما شوم راپارولی یمه

دخوږې مینې دنغمو ترنم دعشق آسمان ته رسولی یمه

د غلچکی نظر نخرو میلابه
په لوړو خوړو ګرزولی یمه

* * *

سنورغاری: پروین

# رائحه رائحه زیمه‌ی بیماردی




ketabton.com

د پروین اودهغی دملګرو آوازونه ۳ر۱۵۹۷

# لوبه

راځه راځه زړه‌می بیمار دی     ارسلاخان ته‌می پلار نه ورکوی خوار دی
راځه راځه

• • •

راشه زما دسترګو توره     غمونو ستا کړم تکه توره
دنیا په ما شوله تسکوره

خبر سی واخله چه‌ می عمر په انګار دی     راځه راځه

* * *

خوب او خوراك شو نه راپاتی     منی په ما وکړی پساتی
په جانان کړمه ننواتی

چه‌خپه نه شی زما څه واکی او اختیار دی     راځه راځه

• • •

له ډیره غمه نه ژړیږمه     همیشه تا پسی کړیږمه
دخان په خوږ ونپوهیږمه

ستا د تومت زنځیر زما د غاړی هار دی     راځه راځه

د پروین آواز ۱۴۳۳ر۳

# سروکی

په غاړه کړې مې د گلو امیلونه راځه اختردی
ځنکې گرځی په نکریزو سره لاسونه راځه اختردی

* * *

اد کی سو رسا لومی را کړه د اختر ورځ ده د همزولو سره ځمه
اختر د تو لو مبارک شه زه به د اسری منگولی یارته ورکومه
که د اختر په ورځی راغلی د رنه بد جار کړم د سر کوشونه و سرونه

* * *

Ketabton.com

دمیرمن پروین آواز ٢٫١٣٧٠

# سروگی

جانانه راشه چه‌دی سورپه‌دیدن کړمه لوړی تیراته‌په بانه‌وراغلی‌یمه

* * *

بانه‌وته ځکه خوشحالیږم

چه‌توری زلفی سی‌دغرو شمال‌و هینه

* * *

دجگو غرو سرو نه‌خوند کړی

نجونه‌ځانونه‌جوړوی‌په بانه‌و ځینه

* * *

جانانه‌راشه که‌دیدن کړی
بیامی بانه‌ی دستا په خنګ‌و هلی‌دینه

Ketabton.com



دمیرمن پروین آواز ۱۳۲۲ر۵

# لوبه

زړه‌ترګی دواړه فرش‌دي بې‌مثاله که راځی
یو څو ګیلای کووم درته بیګاله که راځی
* * *

راځه چه څو پیالی کړو دواړه نوش‌سره دمینی
په‌ژوندکی کله کله راځی داسی‌شپی رنګینی

راځه ګېره وړه مسته دخیاله که راځی
یوڅوګیلای کوم درته بیګاله که راځی
* * *

راځه چه ددنیا غمونه کیږدودواړه شاته
توبه دغه‌توبه چه دتوبو هسی کړو ماته

بیاخدای خبرچه څه‌کیږی سبا له که راځی
* * *

راځه چه‌یوی‌شپی له کړوځان‌هرڅه نه‌بې‌غمه
دنیا وهی دغم تیالی چه څه به‌وی ترد مه

نیتی به راکوی څوکال ترکاله چه راځی
یو څوګیلی کووم درته بیګاله که راځی

Ketabton.com


دمیرمن پروین آواز ۲۰۱۰۵

# غزل

یو.ی نازبل جفا څور وی
رنگ په رنگ میآشنا څوروی

* * *

خیال او هوس را نه پاغی دی دواړه
شوخ نظرمی نن بیا څوروی

خلک به‌د هجر کړاونه ژاړی
ما یه کړس کړس خندا څوروی

چه‌مونه مینه راته مه‌ګوره نور
بیا می دا تماشا څوروی

مه‌لا به بیا! خه‌لیونی غوندی شوی
چیتش خیال دی دچا څوروی

Ketabton.com



## داستاد دري آواز





### لوبه

په کټ کې پروت یمه رنځور شاه خوبانه          یو ځل په ما شه مهربانه
راوړه ملهم دلبو سرو

* * *

په کټ کې پروت یمه رنځور          خبر په حال مې شه ضرور
غمو نوستا کړمه چکچور
درپسې و یني غورځو مه له دهانه          یو ځل په ما شه مهربانه
راوړه ملهم دلبو سرو

* * *

په کټ کې پروت یمه کړیږم          زه د نارنج په شان زیړیږم
په طبیبانو نه رغیږم
علاج مې و کړه خدایږو مرمه بې لتانه          یو ځل په ما شه مهربانه
راوړه ملهم دلبو سرو

* * *

زه چې په تا بانده شیدا شوم          خپلو پردو ځنې جدا شوم
لکه مجنون سر په سارا شوم
په غریبانو لږ نظر و کړه جانانه          یو ځل په ما شه مهربانه
راوړه ملهم دلبو سرو

Ketabton.com



داستاددری آواز ۱۵۱۱ ر۳

# سروکی

مه راوزه ساپه‌لاسونه خوب میزنگوینه یاره وفاداره

* * *

خنگه کراره به ویده وی ماته په‌زمکه پیلتون‌څای نه‌راکوینه

راځه چی‌غم‌سره‌شریک کړو یوازی ما په غم کی مه سیزه‌مینه

عمرمی‌تول په‌غم کی تیرشو خاونده خدایه‌خوشحالی به کله‌وینه

Ketabton.com



داستاددری آواز

٦۱۴٦ ر

# ترانه

وخت د نو بهار دی رنګا رنګ زیری ګلونه دی    څه عجب سیلو نه دی
هر طرف کی اورم د بلبلو آوازونه    څه عجب سیلو نه دی

• • •

وخت د نوبهار دی د سهار شمال لګیږی    زړه می نه صبر یږی
وینم په دامان کی د لاله سوی داغونه دی    څه عجب سیلونه دی

• • •

وخت د نو بهار دی زمانوی ګل په کار دی    زړه می ناکرار دی
څکه چه هر خوا کی زاوتلی عالمونه دی    څه عجب سیلو نه دی

• • •

وخت د نو بهار دی خلک تول ګلو ګلشن ته ځی    هم د یار دیدن ته ځی
بوی دارغوان او د شرابو ډک جامونه دی    څه عجب سیلو نه دی

Ketabton.com



داستاد دری آواز ۱۲۲۹ ر ۳

# غزل

پری و اخله له مخه نقا به بنا ئسته ئی ترگل دگلا به
پری حسن د باغ حرم ئی سترگی توری شهلا غنچه فم ئی
ژرمی کا ره دغم له دریا به

غنچه فم ئی صفا مخ دی گل دی په تندی دی دزلفو کا کل دی
تیک دزرو دی پاس په وربل دی مست په مینه دی یم له شرا به
ژرمی کا ره دغم له دریا به

کلی کور او عالم راخبر شو زړه می زخم په تیغ دخنجر شو
په رقیب او غماز لوی اختر شو چی راځی می له سترگو خونا به
ژرمی کا ره دغم له دریا به

* * *

Ketabton.com



داستاددری آواز

۱۳۲۶ه

# غزل

ستا په فرقت که همیش سوی په انگار یمه  جانانه راشه ډیر ناکرار یمه

* * *

شونډی دی سری که راشه  زلفی خوری که راشه
دګودر لاره کی ولاړ په انتظار یمه  ډیر ناکرار یمه

* * *

ښکلی دلبر می ئی ته  دزړګی سرمی ئی ته
بی له تا یاره له ژوندون څخه بیزار یمه  ډیر ناکرار یمه

* * *

زما حبیب راولی  دزړه طبیب راولی
خوب او خند ار اڅخه تللی ده بیمار یمه  ډیر ناکرار یمه

* * *

دری دی تل یادوی  بلبل په ګل یادوی
دشپی را نه غلی اوس په تمه دسهار یمه  ډیر ناکرار یمه

Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۲ر۲۳۶۳



# لوبه

پری‌سی پرده باغوانه باغچو ته نن تازه غونچوته چه گلونه تولومه
باغوانه

خانگی به نه‌ماتوم گوره درجاشم ته‌هم ماته گوره زه به بوتی لتومه
باغوانه

مینه په گلو منظور پری درجارشم نوی سپرلی دی یارته‌ورمه سوغاتونه
باغوانه

ستا په گلو نوبرکت شه درجارشم زه به پلودك کرم ته‌می‌و کره دید نونه
باغوانه

درزاقی سلام ته‌خمه درجارشم غاره کی ئی اچووم دگلو امیلونه
باغوانه

* * *

Ketabton.com






# سروکی

کاروان روان دي    مابې ولاړه    د ظریف دیدن کوینه
مه خه ظریف خانه

چې د سفر په تیلې سپور شوی
د زیړو گلو باغ په چا سپاری مینه
کاروانه خدای د پاره تم شه
چه په کرار د جانان و کړم دیدنونه
ظریفه یو وار مخ راستون کړه
د سپیلنی په شان لوگی در پسې شومه



Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۲۲۳۶

# ترانه

ښکلی تا توبی داوي افغانه گرانه هیواده افغانستانه
زره د ایشانی جنت نشانه گرانه هیواده افغانستانه

* * *

ستا په گوگل کی و یده پراته دی زاړه برمونه تیر پرتمونه
تادی روزلی په خپلی غیږ کی لوی اتلان او ننگیالی مړونه
ننگ دی په خاوره کی دی اغږلی یا د په نړی کی ئی په میړانه
زمونږ هستی شه لوگی له تانه

څلیږی لمر د جمهوریت دی پر آسمان څکونه واوریږنو غرونو
پرسرد رو او شینکورودونو پرورشوگانو پر گل کښونو
تورتمه شپه دی په ورځ بدله لړی دی ورکی نور له فضانه
او کوب دی لوړ دی تر کهکشانه

* * *

Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۱۹۵۶ ار ۵

# غزل

مه ر اځه نیژدی ز لفی می په مخ با ندی ما ر ان گرځی
یا ره د سرو شونډو په خندا کی می توفان گرځی

مه راځه نیژدی زه په ښائست کی بی نظیره یم
ته غریب سړی یی آشنا زه د نجونو میره یم

ستاپه شانته ډیر زما په در کی ملنگان گرځی

• • •

وخت می دځوانی دی راته مه گوره په سینه ته
روغ به لیونی شی زړه تل به خوری دځگرو ینی ته

چاچی یم لیدلی غمزده خیری گریوان گرځی

• • •

مه راځه نیژدی هلکه ډیر دحسن زور لرم
ستر گو کی اثر دلیونتوب شونډو کی اور لرم
واوره شرفیاره عشق کی ډیر خیری گریوان گرځی

Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۱۹۷۲ ر ا

# غزل

آشنا دې پاکې مینې ولولو سره راځه
په هجر کې له منه د ګیلو سره راځه
تازه مې چې ګوګل کې شي بیلتون وهلې زړه
بهار شه د سرو ګلو د غونچو سره راځه

که غواړې چه ځای د ر کړم د مینې د پاسه زه
دغاړې لونګین شه د تالو سره راځه

مطلب دی که په مخ د تورو زلفو خور ول وی
نسیم د سبا ئی شه دو ړمو سره راځه

پدل کې به ئې در کړم دخوږو شونډو شربت
(حافظه) دخوږو خوږو شعرو سره راځه

Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۱۸۷۷ر ۱

# لوبه

پهتورو زلفو کی دسرو گلو کتار جوړوم
دغاړی هارجوړوم راوړه گلونه
* * *

زماجانانه کهراوړی گل دراسېل راوړه
گل دلاله گل دړیدی اودچاسېل راوړه
* * *

پاس په سینه باندی دسرو گلو گلزار جوړوم
دغاړی هارجوړوم راوړه گلونه
* * *

موسم دمینی محبت سی په جمال راغی
جدائی ورکه شوه آشناوخت دوصال راغی
* * *

لهدی کبله ستادپاره خپل سنگار جوړوم
دغاړی هار جوړوم راوړه گلونه
* * *

وربل شانه شوئدی می سری ستر گی می توری کړی
ماپه ښکلا کی راپیدا خبری نوری کړی
* * *

دسرو پیزوان «سرتیره» ځان ته مزیدار جوړوم
دغاړی هارجوړوم راوړه گلونه

# لیلم دی لیلم ری

گسترۀ غنایی: رخشانه



Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ١ر١١٦٨٦

# سرو کی

وه سوری رادو که لرم‌دی لرم دی

ډیره‌ویر یږم چه اشکه کی ئی غم‌دی

* * *

سوری ډیوه راته رنها که

دعاشقی لرم‌په زړه‌چیچلی یمه

* * *

ستړگی می‌توری توری کیږی

دمینی زارمی په بدن کی‌خواره شونه



Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۱۳۱۶ / ۱ / ۱

# غزل

راکړه ساقی راکړه چه نشی می نوری زیاتی شی
ماچه دی ایستلی توبی هغه بیرته ماتی شی

راشه ساقی راشه خماری سترګی راواړوه
خومره چه نشی دی راته سرپه نواتی شی

ساته صراحی کړه شراب توی کړه جام دی اری کړه
داځکه نشی دی چه جامی می روغی پاتی شی

سوزم لکه شمع تویوم اوښکی اوخاندمه
نه یمه پتنګ چه دریاقصی می پاتی شی

مینه لیونتوب دی لیونتوب عقل او پوهه ده
راشه لیونی می کړه اشنا چه هرڅه پاتی شی

نه یمه شاعر او نه دشعر وزن پیژنم
دادغم چپی دی په غمګین زړګی چه ماتی شی

* * *

Ketabton.com

PROPERTY OF ACKU 9860



دمیرمن رخشانی آواز ۱۹ ر ۲ ر ۲

# دغروسروکی

وه‌داو بېی‌و اله‌ر اتم شه

لېرخور اتم شه‌چه‌د مورېه د یدن کړمه راتم شه

* * *

زړگی می ستا خبری غواړی

لکه‌د المې غنم شواړی پارانونه

* * *

ستابه دحسن دوران تیرشي

سوي به پاتی شي زما پېزړه داغونه

* * *

دمیرمن رخشانی آواز ۹۳۵۵ ر د

# لوبه

پاس په تندی سی درته اینبی دی لاسونه سلام د ی سلامونه
په خیر راغلی جانانه

* * *

ستا د راتلو په انتظار کی سوزم دمینی په انګار کی
ستر ګی می فرش پرتی په لار کی
شه مهربانه لږ پری کیږده قدمونه سلا م دی سلامونه
په خیر راغلی جا نانه

* * *

دسترګو تور دزړه ارمانه ماته له خپله ځانه ګرا نه
پام چه خپه نه شی لمانه
په بیلتانه کی دی په ما بل کړه اورونه سلام دی سلامونه
په خیر راغلی جا نانه

* * *

ښکاره زما دحسن زور دي راته حیرانه کلی کور دی
وربل می تور په مخ راخور دی
په کښېنی ی اینبی کت په کت دي سره ګلونه سلا م دی سلا مونه
په خیر راغلی جانانه

* * *

«حافظه» سترګی دی بینا کړه زما دسترګو تما شاه کړه
جوړه دمینی مشغولا کړه
ارمان به وکړی بیا به نه وي دیدنونه سلام دی سلامونه
په خیر راغلی جانانه

Ketabton.com



دمیرمن رخشانی آواز ۶۲۳ ۲ ر ۶

# غزل

بهار تازه کړل دشړشم گلونه
غونچی غونچي ډک د شبنم گلونه

* * *

گل دگلابو غوټی وسپړلی
بلبلان ستا ئی صحبدم گلونه

* * *

سحرمابنام ئی په تا سترگی لگی
ځکه می خوبن دي ستا دچم گلونه

* * *

چی دی دصبر پیمانه ډکه شی
په زړه دی وکره دزغم گلونه

* * *

## داستاد نبی ګل

آواز

۱۶۸۵—۱



# سروکی

وه وړی لیلو سهار دی
شمال لګیږی و نې پانې رژوینه

* * *

زما دی څه عمر په دار کړ
لکه هوسی په سېږ تون شپې تیروه

* * *

زما دی څه و کړه چه لاړی
ځان دی په خپله بې دید نه کړینه

Ketabton.com



دا استاد نبی گل آواز
شعر د غني خان

# خوب

خوب و ینم عالمه! که ئې خوك را كړي ما نا (۱)
پروت یم سرمی ایښی د خپل یار په زنگانه

*    *    *

خوب و ینم چې باغ دی د گلو نو او ما ښام دي
سرې سترگې ساقي د ساقي سرو گوتو کې جام دی
لاس په ستار پروت لیونی مست لکه خیام دي
اړي پرې نرۍ سزې د مینې افسانه

خوب و ینم عالمه که ئې خوك را كړي ما نا

خوب و ینم چې سپینه سپو ږمۍ پاس په خندا راغله
مالم (۲) محبوبه په شرم شرم ترخوا راغله
شونډو کې شراب او په کو کی کې قضا راغله
سرخماري را كړ پیمانه په پیمانه

خوب و ینم عالمه که ئې خوك را كړي ما نا

---

(۱) مانا د خلکو په ژبه معنی
(۲) مالم (ماله هم)

Ketabton.com




خوبوینم چی پټ شوم په نسیم کی بهرلاړمه
خو اله د جانان لکه د مینی نظرلا ړمه
ستر گو د دلدار اله لکه خوب د سحرلاړمه
یو شر نګث کی می لوټ کړه د عمرو نو خزانه

خوب وینم عالمه که ئی څوك راکړی ما نا

خوبوینم چی زه لکه لولکه په سیلووتم
پورته د نرگس نه شوم په خوادرامېل ووتم
تاو د سپینی غاړی دلیلا په امیل ووتم
پټ می ورته ووی سلامونه جانانه

خوبوینم عالمه که ئی څوك راكړی ما نا
پروت یم سرمی اښینی د خپل یار په زنگانه



Ketabton.com



د استاد نبي ګل آواز — ۱۵۹۳ ر ٦

# سروکی

ستا په یارانه کې زه اورانې شوې ډیرې  دلبرو هی ناري

* * *

دا اور بلیږي خلک ناست دي

په ستر ګو ړوند شو مه اشنا نه پیژنمه

* * *

مینې دی بل را باندی اور کړ

تا ته معلوم نه شو زما سوی داغونه

* * *

که عاشقی داوره نه وای

پتنګ به ولی شیرین ځان په اور سیزنه

* * *



Ketabton.com



داستاد نبی گل آواز

۱۳۴۸ را

# سروکی

یا رەسینە یارمی زیړی گل دی
پەدامان ورژیدنه

* * *

خیال د وصال نەهیڅ کم نەدی
زەتسلی دزړگی ځکه پری کوومه

* * *

مادرته ویل پوره بەئی نه کړی
دیارانی خبری گرانی دې مینه

* * *

دفکر تال دی رانه جوړ کړ
تەرانه لاړی زەیوازی زنگیدمه



Ketabton.com

## دقمر گلی آواز

۲٦۰۱ ر۳



### لوبه

بیا د نارنج گل شو بیا د عطرو باران شوی دی
گل مې په وربل کې گل د گل د پاسه شوی دی

* * *

یار مې لاس نیولی له کابله را روانه شوم
ښکلی ننگرهار ستا گلونو ته حیرانه شوم
بل گل مې د مینې د گوگل د پاسه شوی دی

* * *

پرېږده مالی پرېږده څو گلان ورمه له ځان سره
ورم ئې خپله غېږ او سرو لاسو کې د جانان سره
ستا د مینې زېری ئې پرون په کابل شوی دی

* * *

خدایه جمهوریت دی وي چې دا میلې مودام کوو
گران افغانستانه ستا ساتنه به ټول قام کوو
ستا د آبادۍ غېږ بیا په ما قمر گل شوی دي

Ketabton.com



دقمر ګلی آواز ۱۳۲۱ ر ۱ ر ۱

# غزل

کاش چه سینه کې څه دومره راحاصل وی
ته په زړه کې زړه د سترګو مقابل وی


* * *

هره ماه به مې فریاد وی چغې چغې
که دا حال مې د ویلو اېز قابل وی

ای چې تا ته زما عشق کامل نه ښکاري
که زه نه وی ستا ښائست به نا کامل وی

که په قبر کې مې زړه هم توپ وهلی
لیونتوبه زه به هله ستا قایل وی

چه په یو نظر ئې تیر کړی تر کونینو
د راحت په قسمت کاش داسی قاتل وی



Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۱۳۲۶۹ / ۱

# غزل

## ترانه

زمونږ په وینو دی تازه وی گلستان دوطن
بوخل دی زارپه معشوقه شی عاشقان دوطن

* * *

چی ترقی دقام وطن دځان زینت وگڼو
خوب دغفلت نه دی بیداره شی ځوانان دوطن
نسلونه واړه آینده به محبان وی سره
که په بیدارو پیولوی شی فرزندان دوطن
خویندو وروڼو دپاره پاڅیږی دادی وخت دهمت
وگوری څومره وی قومونه محبان دوطن
ځای دتعلیم دی سکولی ای عزتمندی خوری
لوی هغه زوی کړه چی سبا شی مشران دوطن
دکام وطن عزت زمونږه دعزت معیار دی
دسر په بیه عزت اخلی شاه زلمیان دوطن



د قمر گلی آواز ۲۳۲۳ر۱

# سروکی

مرورمه گرځه پخلا شه گرانه یاره راشه دامی ارمان دی


* * *

کورمی په کلی کی معلوم دی د دروازی په سرمی گل کرلی د ینه

سترگی سی ډیری ولیدلی زما دیارسترگی منگولی لگوینه

که مرور یارمی پخلا شو دامی وعده ده شال به زیری ور کومه

* * *



Ketabton.com

Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۲۲۲۳ر٦

# سروکی

داد خوشحالی ورځی دغه دسیالی ورځی

گرانو خوځیند وسیندو وطنو اولو مبارك موشه
ورونو او پلرونو ولسو الومبارك موشه

* * *

زما په لاس کی گلان خاندی
زه ورته وایم لالی ته دی وروړمه

د اختر ورځی بختوری
ستر گی می لاری ته لالی به دی راځینه

خپلو چاسو کی نه ځانیږم
چی گران وطن کی می اختر گورمه ینه

له میخی اری ششی همزولو
ورخ د اختر ده مرور پخلا کوومه

Ketabton.com





# سروکی

تاچی‌د بل سره خندلی مالیدلی
گله واوری وریدلی گله واوری

*   *   *

ستادراتلو په انتظار کی
رانه‌چاپیره شول‌دواورو دیوالونه

*   *   *

لاری کوخی‌په واورو بندی
گرانه‌خپه مشی‌په بام ولاړه یمه

*   *   *

اشنا په سمه‌زده په‌غره کی
واوری‌زمونږد مینی مزی‌پری کوینه



د قمرګلی آواز　　　　٦٣٦٢ ر ٢

# ترانه

جشن ته ځم د آزادی شال دی پسرلی　　د جمهوری نظام اختر دی

*　*　*

شال مې پسرلی استقلال دی　　انقلابی مې شینکی خال دی
سبز نی جشن یې مثال دی　　چه د کاروان مخکی روان ملی رهبر دی

د جمهوری نظام اختر دی

کور د ښکلا نوی نظام شو　　نوی جانان نوی پیغام شو
زما هر وقت ورته سلام شو　　راته جوړ کړی ئې د نوی ژوند زیور دی

د جمهوری نظام اختر دی

Ketabton.com



دقمرګلی آواز — ۲۵۷۲ ر ۲

# سروکی

زه خو ستا ستا یمه — ګرانه مه سرور یږه

* * *

پسرلی به بیا په ګلو راشی — دمالي لوریم درالیږم به سره ګلونه

په مادی ګلی ګومانی کړه — نن مازدیګر به دی ګودر کی وګورمه

داخو دستا دمینی زوردی — چی مازدیګر ګودر ته غبرګ منګوټی وړمه

جانانه بد می اموخته کړی
چی خوله درنکړم مرور ګرځی مینه

سندرغاړې: قمرګل

په لوړو وختو به ځار وکړم زیارتونه



kitabton.com

Ketabton.com



د قمر گلی آواز　　　　　　　　　۱۹۱ ر ۲ ۶

# سروکی

بیا په سرو گلو نو　　د بلبلو آوازونه شو　　هر خوا گلونه شو

د نوی ژوند پسرلی راغی

* * *

نوی بهاره ستړی مشی　　هر کله راشی غوړوه خپل ای گلونه

بیا په وطن نوی سپرلی شو　　په گلونو ک شول هره خوا تور و ریلونه

په مونږ دې یو پسرلی تیر شول　　د جمهوریت بهار دی تل په مونږ دوینه



Ketabton.com



د قمر گلی آواز

۲۰۶۹ ر ۵

# سروکی

سپینی سپوږمی وا یه اشنا به چرته وینه    گونګی شوې ولې نه وائی حال اونه

* * *

د ګټ په سر راته ځلیږې    په څپه خوله در نه کوم دیار پوښتنه

سپوږمی او چته شه راخیجه    زما جانان د تورو غرو مزل کوینه

سپوږمی په منځ د اسمان راشله    بی یاره خوب نشته که ما ته نه راځینه



Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۲۰۲۳ ر ۱

# سروکی

گرانه لالیه! د جمهوریت له باغه راوړه خوگلونه گرانه لالیه !


* * *

د جمهوریت گلونه راوړه زه تری د غاړی امیلونه جوړومه

د نوی ژوند نوی آغاز دی اوس نوی ساز نوی سندری خوند کوینه

مونږ د ظلمونه کمی نه یو جمهوریته په لیمو دی قبلو ونه

د سر پوړنی می تری زار کړ چاچی د نوی ژوند پیغام راوړمینه



Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۱۹۹۹ ر ۳

د حاشر

# دسور دورځی په مناسبت

ستا له دی ښکلي خواږه نومه شم قربان موري
زما کعبه زما قبله زما ایمان موري

زمکه خوشه کړی قدموکی دی آواره ښکاري
د ادب سر درته ټیټ کړی دی آسمان موري

موري که ته نه وی نو وایه زه به چیرته وومه
زه ستا په هره ساه کی ساه وینم د ځان موري

له بابا د مه تر دی د مه تا ته مور وائی
هغه چه بولی په نامه ځان د انسان موري

لا به هم مور وی گراني موری در ته وایمه زه
چه وي تر ځو پوری ودان دغه جهان موري

ماشوم ووم لوي دی کړم زلمی دی کړم سړي دی کړمه
کړي زما سره تا ځو مره لوي احسان موري

ما به چه تا ته کله مور په ورد ژبه ووي
تا به په مل کړتی ویلی راته جان موري

Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۳|۱۹۲۴

د سرمست ارمونږه

# سروکی

په تورو ښو به چارو کړم زیار تونه

شینکی بابا که می قبول کړی داسوالونه

په تورو ښو

* * *

په ریبارانو پوره نه شوه نوره خولی په نازولوگرځومه

اد کی سورمالومی را کړه زه د شینکی بابا زیارت ته سبا ځمه

که سوال می داواری قبول شو نوردی لا لیه لاس نیولی گرځومه

Ketabton.com



د قمر گلي آواز ۱۷۱ ۱ ر ۳

# سروکی

د هر گلي زر کړه زما خيالونو ربل ته جوړ کړه ناو يزونه

* * *

ما درته نه وی شرمېدمه — د سرې ننکۍ سره پېزوان مزه کوينه

جانانه د و سره در سره د وای — لکه برېښنا چه له باړانه سره وينه

* * *

که د سر تېک دې راته جوړ کړ — جانانه تو له دې په مينه خپله کړمه

يار د زرگر په دکان ناست دی — ما ته د سرو غمېو گوتې جوړوينه

Ketabton.com



د قمر ګلي آواز ۳ر۱۷۶۵

# سروکی

لو دی دغنمو یاره    ګیډی را واچوه بنګړی راغلی دینه

* * *

دیدن می ستا یا نی سپ نوری    زه یه زاړه شپا له که یږی لتوو مه

راشه خوږی مرګی بس کړو    مکنی ما بنام دی مرغی شنو ونو له خینه

ارمان په هلته وکړی یاره    چی ته ولاړی او ما بل ګل ته وړینه



د قمر ګلی آواز — ٣ر١٧٧٤

# سروکی

درو ند دی امیل په غاړه نی زه وړم


سنګین دی امیل په غاړه نی زه وړم

* * *

صبا مو بیا د ګلو واردی    په سر به پنډی چلوم په زړه غمونه


صبا سی ستا په تومت وژنی    چی دریښتیا په خای منکر نه شی مینه

غم دی کمیس نه دی چه زوړ شی    زما له عمره سره سم دی ستا غمونه



سندرغاړی: قمرګل

# په لیاره کې کینه مازیګر ګرمې




etabton.com

Ketabton.com



د قمر گلی آواز

۱۶۸۷ ر ٤

# سروکی

په لیار کی کینه ماز دیگر گړی ته ځمه
زه به خماري ستر گی بیا درواړومه

• • •

چی ماز دیگر پری شه بنکار یږی
هغې نجلی ته سور منگی نه ور کوینه

• • •

که دیدن کړی گودرته راشه
زه به منگی په لپو ورو وروډ کوومه

• • •

چی ماز دیگر شی زړه می بنه شی
منگی ناری کړی چی راځه گودرته ځونه



Ketabton.com



د تمر گلی آواز

۱۶۹۲ ر ۲

# لو به

په لو یو غرو با ندې را تا و شول توفا نونه     ولی وریږی
مه څه دلته شپه و کړه پاتې شه باران دی

* * *

د ما ښام لړی دې خو ریږي     د بیلتا نه سیلی لګیږی

ما شوم زړ ګی را ته ژ ړیږي     چه جا نان ځی نه پاتی کیږی

په ما تیاره ده که تیاره تمام جهان دی     ولی وریږي مه څه

* * *

د ستر ګو تور د زړه ارمانه     ما ته د ټول جهانه ګرانه
ژوندون می نه شی بی لتا نه     په ما ودانه د نیاو رانه

خواته می کینه چه می زړه په تا روښان دی     ولی وریږی مه څه

* * *

ستا اند یښنو کړمه بیماره     آه و فریاد کړم له ناچاره
که پاتی نه شی تر سهاره     خون به می ستاوی زما یاره

سوال او زاری در ته کووم لوند می ګریوان دی
ولی وریږی مه څه

دلته شپه وکه پاتې شه باران دی

Ketabton.com



د قمر گلی آواز

۱۲۱۶۹۲

# سروکی

پسرلی راغی و نیشا نکی غورو ینه

وی زانی زانی له اویوراغلی

زانی

که زانی نه وی شنی کوتری له باغو راغلی

زانی

• • •

سبا به بیا گلی باریږی         د دشت گلان به سی له نی بویوینه

که چا خبرد جانان راو ړ         دامی اقراردی سر به زیری ور کوومه

وئی زانی زانی له او بو راغلی زانی

که زانی نه وی شنی کوتری له باغوراغلی زانی

سندرغاړې: قمرګل

# په لویو غرو با نړی




ketabton.com

Ketabton.com



دقمر گلی آواز

۱۹۹۳ ر ۵

# سروکی

کانې به وړه کړمه رانجه به پوره نه کړمه

خوپوری چې ستاد ښکلی مخ دیدن و نه کړمه

* * *

ستا په یاری کی سودائي شوم

اکه میزوب په لاره خم گوتی شمیرمه

• • •

ستا تصور چې خوب کی راشی

نیمه شپه پاخم ترسبا سلگی وهمه

• • •

ستاد بیلتون په داغ ستی شوم

خوچی وصال په لاس راځی قیامت به وینه

Ketabton.com



د قمرگلی آواز　　　　　　۱/۱۵۲۵

# لوبه

نن له موره پټه پټه راغلم په سالو کی　　چوپ شه یاره مه وهه کوکی

څوک به خبر شی　　څوک به خبر شی

* * *

په منګوه منګوه ستا تر څنګه　　راغلم زما د عشق ملنګه

خدایږو ږیرو منګو ومی ما بنده کړه تالوکی　　چوپ شه یاره مه وهه کوکی

* * *

څومره می خوښ د مینی ژوندی　　زړګی می تا سره پیوند دی

واخله تا نه زار شه داو ږدو زلفانو څوکی　　چپ شه یاره مه وهه کوکی

• • •

«میلابه» یار زا باندی ګران دی　　زمائی یو نظر ارمان دی

سترګی چه راواړه ئی نوی سامسی زړه کی پوکی　　چپ شه یاره مه وهه کوکی

Ketabton.com



د قمر گلی آواز ۱۵۳۵

# غزل

آرزو مې زړه کې په سلګو شوه ته به کله راځې
د صبر سامې په سکېند وشوه ته به کله راځې

ستا درا تلود ځوانيمرګ اقرار په تمه تمه
لاړه ځواني په تيريدو شوه ته به کله راځې

ځلانده ستورو ورته ستا د راتلو نښه ورکړه
سپوږمۍ روانه وه تله وروشوه ته به کله راځې

چې دې زما په ژوند دنه‌راتلو قسم کړی ؤ
راشه اوس ماه مې په وتو شوه ته به کله راځې

د قلندر د ځوانيمرګ ژوندون علاجه مرګه
هغه ځواوس دنه راتلو شوه‌ته به کاله راځې

Ketabton.com

دقمرگلی آواز

۳۲ر ۱۵۵۴

# سروکی

سری لمبی دمینې به دی زړه کی بلی نوری کړم
زه چه په یو نیم سلائی دواړه سترگی توری کړم

• • •


زما په نشه خندا مسته    که خوله می در کړه لیونی به شی مینه

* * *

خیر لیونی لیونی گرځه    کلی کی او سه چی ډ اړه در باندی یمه

* * *

هلکه لری رانه گرځه    ما په خمار وسترگو ډیر وژلی دینه



Ketabton.com



دقمر گلی آواز ٦/١٢٨٥

فلکلوری

# سروکی

اوس به‌شیرینه‌خولگی چاته‌ور کوینه
مومن وړی وړی سلگی کړی دادی مرینه

• • •

مومن می اوه توری خوړلی
فریاد فریاد دظفرخان له توری یمه

مومنه مانه مانه مکړه
لتا ړومبی دظفر خان جنازه ځینه

مومن په جگه غونډی کیږدی
چه‌خواره مورئی هرسبازیارت ته ځینه

Ketabton.com


د قمرگلې آواز ۳۳-۱۲-۱ر۴

# سروکي

جوړه مې اوګي که زرګره

زرګره زرئي جوړوه چه سیل ته ځمه

* * *

دلونګین پهلړ راخیجه


پهاوګي شپه که دچارګل وکه سیلونه

تورلونګین پهژړا راغی

ماتهاوګي پهمینهځای نه راکوینه

جانانهراشه کهمیکوری

سپینهوګي مې پهمینهوهي تالونه



Ketabton.com



د قمرګلی آواز ۲۲۲۱ر۲

# سروکی

وه یاره سینه اوبه ئی راوړی د سیملی له چنارونه

• • •

یارمی چنار لاندی ویده ؤ
لکه باښه پړی شرنګیدم راویښ می کنه

تاچه کوڅه کی ښکالو وکړه
کنډول په لاس منګی ته تږی ودریدمه

اوبه د کوز ګودر خوږی دی
زه د آشنا د پاره برګودر ته ځمه



Ketabton.com


دقمرگلی آواز ۳ر۱۳۰۷


# سروگی

شفتالو گله باران وریزی
زما ورانیزی دلنه‌ی زنی خالونه
باران و ریزی

بارانه‌ورو وروپری وریزه
دمسا فراشنامی نشته دالانونه

پیغمبری گل به‌تری جو رشی
که‌می په‌لنه‌زنه‌و وهل خالونه

زمادزنی خال‌ئی وران کر
نور به لا کی پورنی نه په مرومه



Ketabton.com



دقمر گلی آواز ۱۳۰۲ر۳

# غزل

په کاته کاته مې سترګې په خاته شي
چه خبر دي دراتلو را باندي و شي

ته خو او س لما نه لاړې مرو ر شوی
دا زما مينه دی هم چري په زړه شي

ګوره تار ا باندي کومې کوډې وکړي
چه په پښو در ځني در و مم زړه مې نه شي

بخته هو مره مدد بيا را سره و کړه
چه په غيږ کښې مې بيا ښکلې يار و يده شي

دخوشال سلام په وا ړو ښو يارانو
ګو ندي بيا ئې په ليدو سره زړه ښه شي

* * *

Ketabton.com



دقمرگلی آواز ۱۳۴۵ ر ۱

# غزل

ای ریباره راتهوایه چی دلدارمیؤ که نهؤ
چی دیدن ئی راته گران دی هغه یارمیؤ که نهؤ

چی دزړه غوټی می گل کړی دوصال په نسیم باندی
دی خزان وهلی زړه ته نو بهارمیؤ که نهؤ

زړه ئی واخیستو لمانه چی یوه موسکائی وکړه
هیڅ په ځان خبره نهووم چی اختیار میؤ که نهؤ

زه دعشق په کار او بار کی دو فاسره اشنایم
چی ئی کار مودام جفاده جفاکار میؤ که نهؤ

شه چی وائی راتهوایه «دحافظ» دخواری سینی
دهجران په سرو لمبو کی ناکرار میؤ که نهؤ

Ketabton.com

## داستاد اول‌میر آواز



# د پسرلی گل

گل ئی د سپرلی هم په خزان کی ښا ګسته گل ئی ته
گل ئې زما گل ئې ته

ستر گی دی نرگس شونډی گلاب د لا له گل ئی ته
گل نهو نه گل ئی ته

گل ئی په چمن په بیا بان او په سا را گل ئی خو سره عجیبا گل ئی
پیرزنم دی پیرزنم دی گل ئی اشنا گل ئی ته
ډک له وفا گل ئی ته

ستر گی دی گل خوله دی گل خبری دی گلو نه دې
گل د سپین غا ښونه دی

را شه گله را شه ته جوړ شوی د حکمت گل ئی
ټو ل د محبت گل ئې

Ketabton.com



داستاد اول‌میر آواز ۲۲۴۷ ر ۵

# دوطن ترانه

راوړ انقلاب خلکوته زیری د بری
ختمه شوه وطن کی تل لپاره بربری

رپی په اسمان کی اوږ بیرغ د جمهوري
زه دی قربانی شم را بیدار شه زما تنه
پاخیږه وطنه پاخیږه وطنه

راغله ستا درشل ته انقلاب او نهضتونه
بند په بند ماتیږی ستا دمتو ځنځیرونه

نیسي انقلاب لانوي نوی سنګرونه
ستا په پاکه خاوره دبریو رڼا پلنه
پاخیږه وطنه پاخیږه وطنه

سوله آزادی او عدالت زمونږ شعار
کار او ابادی او پرمختګ زمونږه لار

ستا راویښیدل زمونږ دنسل افتخار
پلنه کړه په لوخو ددی غرو باندی لمنه
پاخیږه وطنه پاخیږه وطنه

Ketabton.com



داستاد اول‌میر آواز ۲۲۳۰ر۲

# ترانه

زه د مینی رازیمه روح سره ملگری نوی هنگ او نوی ساز یمه
نوی ترانه
زه هغه غوټی یمه نوی غوړیدلی یم گل به شم میوه به شم وخت ته رسیدلی یم

خو پټمکین او نازیمه روح سره ملگری نوی هنگ او نوساز یمه
نوی ترانه
زه هغه وړمه یمه

کومه چه بهار کیږی گور او کلی باغ او بڼ سمه او کهسار کیږی
غوره امتیاز یمه روح سره ملگری نوی هنگ او نوی ساز یمه
نوی ترانه

زه د رحمت شمع یم خپلو پتنگانو ته تورتم می رڼا کړ لو خپلو عاشقانو ته
زړه پوری آوازیمه روح سره ملگری نوی هنگ او نوی سازیمه
نوی ترانه

زه هغه دولت یمه مال ملک د ملت یمه زه د جمهوری نظام غوره ماهیت یمه
«د بینا» اعزاز یمه روح سره ملگری نوی هنگ او نوی سازیمه
نوی ترانه

Ketabton.com



داستاد اول‌میر آواز ۲۱۸۷ ر ۲

# غزل

بیا له کومه را پیدا شو دا بهار
چه په هراوری ئی ملک کړلو گلزار

د سپرلی گلونه ډیر په هرهر رنگ شته
ولی سره لاله دی لا په کی او څار

نجونه موتی موتی گل ږدی په گریوان کی
د ځوانانو گلدستی دی په دستار

مغنی په چغانه دی لیندی کیږ ده
په نغمو په‌پردو واړوه هرتار

ساقی راشه ډکی ډکی پیالی را کړه
چه دمیو په‌مستی شمه سرشار

Ketabton.com



## داستاد اول‌میر آواز

۱۹۰۲

# غزل

زما کوځه‌کی هیڅ په هیڅه چه‌اه ماخپه شوی
جنګ به‌دی کور کړی وی ځکه په سار اخپه شوی

خبره سپینه‌به ده مخ په مخ ئی راشه وایه
بلادی‌واخلم‌څه دروشوشا په شاخپه شوی

اری دروغجنی ته به کله له‌دروغو واوړی
ماته‌رښتیا رښتیا حال وایه چی‌رښتیاخپه شوی

ولی‌دی‌وی چی«قلندره» ستاپه‌زړه کی‌څه‌دی
چی‌درته اومی کړ واظهار دمدعاخپه شوی

* * *

Ketabton.com



داستاد اول‌میر آواز ۱۷٦۸ ر ٦

# غزل

ستاد شونډو په‌څیر ګله دی‌دګل رنګ
دا جلوه ګاندی یورنګ هغه بل‌بل رنګ

ګله ته‌ګوری خپل مخ په‌آئینه کی
هسی‌رنګ زمالره حاله پوښته خپل رنګ

یاردیار له‌درد اوغمه دلګیر بویه
بدشی ممم سره‌دګلود بلبل رنګ

نوی سربه لکه شمع ورته نیسم
که‌ښه ګیږی زما ستا په‌قلول رنګ

که‌هرڅو شوپیچ وتاب له‌ډیره رشکه
ستادزلفو په‌څیرنه شودسنبل رنګ

دغه خپل‌خونخواره لب‌پوښته دلبره !
چه‌تغیر دی«دحمید» په‌څه ګبل رنګ

Ketabton.com



داستاد اول‌میرآواز ۱۷۷۲ ر ۱

# غزل

ای‌دل دیوانه زمامه غواړه مدار له‌کلو
نه‌چه څنګه کی خار نه وی

• • •

پری‌می پرده‌چه یوساعت خپل یار سره همراز شمه
ای بیلتونه ستا به‌تمام عمرخاص غلام شمه
څی‌دزړه پروانه زماخپجی‌په انګار دګلو
څه‌کړم چه‌غمخوار نه وی

• • •

توری ستر‌کی ګرځی دخوبا نو دا انصاف‌ګوره
زه‌لکه ذغال ئی‌په منقل دعشق‌سوزیږمه
خپل شولو بیګانه‌ز ماعشق کړم منت باردګلو
بخت به‌زمایار نه‌وی

• • •

راکړه‌یو برخواست دلبونن‌ما «ملک‌جان» لره
ستادغم پیری زمادزړه په‌سرپانی وهی
ای‌مغرور جانانه زما تبربه شی‌ستاوار دګلو
تل به ستا سنګار نه وی

• • •

Ketabton.com



د استاد اول‌میر آواز ۱۶۴۰ ر ا

# غزل

خنکه چه او بنگه شی جدا له ستر گو
د اسی لو یدلی یم د اشنا له ستر گو

تمه می یار نه د وفا کیدله
اوس راته گوری د جفا له ستر گو

د آشنا ستر گی ناشنا شوی راته
تسل می لشی د بل چا له ستر گو

گه ستر گی ستاوی تما نچی دا جل
غو ناه ی «پرهیز» د غه ستا له ستر گو

Ketabton.com



داستاد اول‌میرزا آواز ١٥٥١ ر ٨

## غزل

نوی‌محفل نوی‌ساقی نوی‌جامونه کنه
نوی‌سازونه کنه

* * *

نوی‌مین یه‌زه نوی‌غمجن یمه

نوی‌می ا یښی دی ییلتون‌په‌زړه‌داغونه کنه
نوی سازونه کنه

* * *

نوی گفتار مزه کا نوسنګار مزه کا

نوی‌دلدار نوی ریبار نوی‌خالونه کنه
نوی‌ساز ونه کنه

نوی‌جانان‌دی‌زما نوی ارمان‌دی‌زما

په‌سنب گل باندی کوی‌نوی نازونه کنه
نوی‌سا زونه کنه

* * *

Ketabton.com

داستاد اول میر آواز ۳ر۱۵۸۲

# غزل

په هر ځای چه قد موزون په خرام پردی
مل منته په دا زمکه په هر گام پردی

زه به چیر ته آزادی ورځنی مومم
چه د لبرو راته تل دزلفو دام پردی

که تر نوم او تر ننگ تیر شوم غم ئی نه شته
عاشق هر کله قدم په ننگ او نام پردی

نه بهار شته نه ساقی شته نه مینا شته
اوس به څوک زما په لاس د میو جام پردی

راشه گوره د « خوشحال » د خاطر وینی
په بیاض باندی چه هرحرف د کلام پردی

Ketabton.com



داستاداول میر آواز ۲ر۱۲۵۵

# غزل

د بیهوشی می دزړه په سرخوړلی اشنا ډیرنا کراره یمه
بیگا می توله شپه دځان په غم ژړلی اشنا ډیرنا کراره یمه

* * *

دزړه په کور کښې می ژړادرداوغم جوړه
او په گریوان می کړه ورله دسترگو نم جوړه

سترگی می ستا دراتلو لاری ته نیولی اشنا ډیر نا کراه یمه

* * *

ستا دتندی به شنکی خال باندی قسم کوومه

چه شپه او ورځی د بیلتون له لاسه غم کوومه

داوسیلو جرگی می تا پسی راغلی آشنا ډیرنا کراره یمه

* * *

دغلچکی نظر تاثیردی لیونی کړمه زه

بلادزلفودی خپل ځانته سپیلنی کړمه زه

چه زما سترگی ستا په سترگو لگیدلی آشنا ډیرنا کراره یمه

* * *

اوس دی دمینی در نځور تپوس ته راشه کنه

ای مروره یاره بس دی نور پخلا شه کنه

(حافظ) ریبا ری خپلی او بنکی درلیږلی آشنا ډیرنا کراره یمه

Ketabton.com



داستاد اول میر آواز ۱۲۳۰ ر ۲


# غزل

ته خوو ایه زه به خه ګرم ای زړګیه لیونیه
خه به ګرمه خه به نه ګرم ای زړګیه لیونیه

تا خووی آبادی پر پرده ما خو پري خوده نو خه دی
په سارا چه ګرځیده ګرم ای زړګیه لیونیه

چه آشنا ګړی سترګی پورته بانه ستا په لور کاږه شی
اوس ئی کوم طرف کاږه ګرم ای زړګیه لیونیه

زه «خاطر» در ته حیران یم چه په خه بانه دی راویښ شوی
چه په خه دی اوس ویده ګرم ای زړګیه لیونیه



Ketabton.com



داستاداول میرآواز ۶ر۱۲۹۴

# غزل

بانه‌می سیل دګلودی خه نور به وګورم
هوته چی په کی‌اوسی هغه کور به وګورم

لږ ودریږه‌چی وږدی کړم دتور وسترګو سیل
ستا سترګو کی دخپلو سترګوتور به وګورم

نصیب‌می که دوصل په ګلشن نه شوګوذر
بیلتون‌می چی پری سیزی هغه اور به وګورم

تکل‌می دی‌چی شم‌دی په درشل کی قربانی
که نقده پیدا نه‌شوه چرته پور به وګورم

(حافظ) د بی دردانو پسی نه ګرځمه نور
شریک‌می چی‌په‌غم‌شی‌نو غمخور به وګورم

Ketabton.com


داستاداول میرآواز ۲۱۲۹۶ر۲

# غزل

خواله دی گل غنچه مخ دی گل ابان دی گل چشمان دی گل
قد دی گل قامت دی گل رفتار خرامان دی گل

خط او خال دی گل شرموی مخ ئی کړو په پانوپټ
وروځی گل مژگان دی گل و ربل دی گل زلفان دی گل

خیال دی گل جفا دی گل نازو نه گل ادا دی گل
زور دی گل جمال دی گل وصال دی گل هجران دی گل

چم دی گل گاونډ دی گل کوڅه دی گل اطراف دی گل
ښار دی گل بازار دی گل دښتونه او دامان دی گل

زړه لکه بورا «دخالیز» گل په گل تېرېږی نن
باغ دی گل بهار دی گل چمن دی گل بوستان دی گل

داستاد اول میر آواز ۱۸۷ر۱

# غزل

دامې غېږ ته له آسمانه سپوږمۍ راغله
که لیلا په مینه مسته موسکۍ راغله

پژمرده زړونه ئې پښو کې په نڅا شول
چې په ناز او په نخرو او په مستۍ راغله

دغمو ظلمت شوورك دزړه له کوره
چې په مسته خندا سپینه خولګۍ راغله

دبهار دښتو دامان ئې ګړل خوشبویه
تا به وې چې له ختنه نه هوسۍ راغله



Ketabton.com

# دوطن ترانه

چی پری تیري د سرو ماله ننګیالی زوی دی افغان دی

دا زموږ افغانستان دی
دا زموږ افغانستان دی

* * *

دا زموږ د سترګو تور دی  دا زموږ د زړه رڼا ده
دا زموږ د شرف نښه  دا زموږ دژوند بقا دی

دا زموږ ننګ و ناموس دی  دا زموږ سلی حیا ده
موږ ته خوږ له ټول جهان دی  موږ ته لوړ ددی آسمان دی

دا زموږ افغانستان دی
دا زموږ افغانستان دی

* * *

موږ سرونه ددی دوکړی  تل د دی عزت دپاره
موږ همیش یو ملاتړی  تل د دی خدمت دپاره

Ketabton.com



مونږ مات کړی قو تو نه    تل ددی حرمت د پا ره
د پخوا په شانی اوس هم    قربان تری زوړ او ځوان دی

دا زمونږ افغانستان دی
دا زمونږ افغانستان دی

• • •

شواهد زمونږ د توری    دغه تور غرونه دیوان دی
چه ئی پورته رسیدلی    هسک سرونه تر آسمان دی

خلاص د بل له قید او بنده    پخپل واک او په فرمان دی
هر بچی د دی کهسار ئی    جنګیالی مرد میدان دی

دا زمونږ افغانستان دی
دا زمونږ افغانستان دی

Ketabton.com


داستاد اول میر آواز ٦٢٢٧٣

# غزل

خومره چی آشنا شوم د اشنا سره
هومره بیگانه شوم د دنیا سره

وختم دستورو دنیا کی لره
تارمی کړدمېنی بند دچا سره

هلته هرقدم کی مینه مینه وی
څنګ په څنګ مجنون ؤ دلیلا سره

جوړه می کوډی کړه په پیرو و نو کی
ګرځم دسپوږ می دشا او خوا سره

زه چی آسمانونو ته پری و ختم
خیال دیار دزلفو دی زما سره

خیر دی غماز ګری وریځی ګرځی دی
چاره «دحافظ» ده د بریښنا سره

• • •

د استاد اول میر آواز

۲۵۶۳ ر ۵

# غزل

ساقی زاړه شراب په نوی پیمانه کی ر اکړه
مطربه ! کیف دی د رباب په ترانه را کړه

په سرمی واړ ولی ډیری د ستم زمانې
صله د رحم اوبه دغه زمانه کی را کړه

راته بلاد چا د تورو زلفو دام چی نشی
لوی قناعت راته د خال وړه دانه کی راکړه

چی بی د چا د درله خاورو چا ته ښکته نشی
دا سر لوړی می د محبوب په استانه کی را کړه

چی د ذړه د آسمان لمرشم او جهان رڼا کړم
د تیر عظمت قدرت په نوی ماما نه کی را کړه

Ketabton.com

داستاداول میر آواز ۲۵۷۷ ز م


# غزل

زڕەدی بلەشی چی زەتاتە پەکاتە شم
چی درنشم و ائی خەشو وایە خەشم

جگی جگی کەسی تەپەزڕەکی زڕەشی
دریغە دریغە چی دی زەپەزڕەکی زڕە شم

خەخبری می پەزڕە وی خوسلگی شوی
توفانی ستر گوتەستا چی پەکاتەشم

زلفی پرانیزە پریشان یم دشو گیرنە
پەدی گن سیوری چی جمع زڕە اودەشم



Ketabton.com



داستاد اول میر آواز ۲۲۳۹۷ر۲

# غزل

ځو مره که غمونه د دنیا را نه چاپیره شی
خدای دی رضا نه شی چه ستا مینه به می هیره شی

راشی د خیالونو په تیاړو نو می تالی وهی
هغه نازولی چه زما په خیال کی ګیره شی

بیا را ته په خوږ نظر د خلکو سخکی مه ګوره
د غوسترګو او نظربازو ته می ویره شی

پوه یم در تنګ شیبی له به می ژوند سلګی سلګی وی بیا
دا د خوشحالی ګړی به هم په ما اندیره شی

ته چی ځی د او ښکو ملغلری می ورېږی بیا
د و مره صبر و کړه چی شیبه د باران تیره شی

ما خو ستا د مینی خدایږو هر کړاو زغملی دی
ځکه می ګیله (سیلاب به) تانه ډیره ډیره شی

• • •

Ketabton.com

داستاد اول میرآواز ۱۳۰۶ر۱

# غزل

خاوند خیرو کړی په کومه لاررو انه شوله
خواره قسمته معلومیږی چه پښیمانه شوله

تا چه دا شکلی توری سترګی رانه واړولی
زن په ریښتیا زما د مینې دنیا ورانه شوله

ما ئی فکرونه ز نګولو د کم خو په تال کی
لیلاز ما له تصوره هم ستومانه شوله

زه چی د چا په مینه صدق او وفا قسم خورم
خدا یږو هغه زما په مینه بدګمانه شوله
چی ئی زما په (پریشان) زړ ګی تیاری راوستی
یو ورځ به وا وري چی هغه هم پریشانه شوله



Ketabton.com



داستاد اول‌میرآواز

۳ر۲۲۷۳

# غزل

اینبی مې په سردی ستاد مخ دمینې گل
بیا مې‌تورلیمه‌دی ستادزلفونورسنبل

ته چې آئینه په‌لاس کې‌واخلې‌حیرانیږی
زه‌له کومه‌راوړم صبورې او تحمل

گرزی‌په چمن کې‌منگل دکه‌وړی له‌گلو
خدای‌زده چه‌گلونه‌وړی‌که زړونه‌په منگل

هم‌مې مشک ایدلی‌هم عنبردی‌په‌جهان کې
شاباس‌شاباس شاباس‌ستاپه زلفو‌په کاکل

نه‌په ستاد مخ په‌شیر گلشن‌وې چا لیدلی
نه‌په وېږمایه شیرآهو نه‌دبلبل

هسې‌تغافل کاستا په‌جوږو په جفا کې
خلک‌حیرانیږی «درحمن» په‌تغافل

Ketabton.com



داستاد اول‌میرآواز

## غزل

د دیدن په‌څای کی یاره کله ئی او کله نه ئی
بی پروا او کلانکاره کله ئی او کله نه ئی

و م‌درغلی بیادرځمه‌و بری تبری ددیدن یم
پرمان‌و کړه له‌ریباره کله ئی او کله نه ئی

د دنیا له هرضرور نه‌ستا لیده کاته ضروردی
پری‌حسنه پری واره کله ئی او کله نه ئی

یوساعت هم نه بیلیږو تل په‌خیال کی رامره ئی
ای زما دخیال‌سرداره کله ئی او کله نه ئی

لیلاراغله بیرته‌لاړه‌دلیدو نصیب‌دی نه‌ؤ
خوار نصیبه «ملنګ یارد» کله ئی او کله نه ئی

Ketabton.com



داستاد اول میرآواز

۱۳۴۲ر۱

# غزل

چه مغنی گوتی کوم وخت په زیراو بم کیږدی
د شعر خیال می په گډا پاندی قدم کیږدی

دو مرده می سوده په آواز مطربه کیږی دستا
لکه چی څوك په زخمی زړه باندی ملهم کیږدی

سترگی د زړه می غړیدلی د صنم په لوری
که مخ می قبر کی په لوری د حرم کیږدی

غونچه د مخ ئی شوه زما په اوښکو د مړه دانه
لکه صبا چی بار په گلو د شبنم کیږدی

یم پری خوشحاله نښانه د مینتوب ئی کړم
که د (حافظ) په زړه داغونه د ستم کیږدی

داستاد سرآهنګ آواز ۳۵۹



# سروکی

لوګله شو ګله شو د لونګو لوګله شو

چې لونګ لوشو بیا به لاس ترغاړې څونه

لوګله شو ګله شو د لونګو لوګله شو

مخ په سرو ند کله پټوې

ظالمه یاره ملا می ولاړه یمه

یارا نه مه ووره و دریږه

لیلا لونګ په درمندو شیندلې دینه

داستاد مهوش آواز

۳ر۲۲۳۲



# دجمهوریت ترانه

دامحترمی اودرنې دسعادت ورځی دی

دجمهوریت ورځی دي دجمهو ریت ورځی دی

نن چه جښونه کیږی هرخوا سیاونه کیږی

دادافغان دنوی ژوند شان اوشوکت ورځی دی

دجمهوریت ورځی دی د جمهوریت ورځی دی

دانقلاب ارمغان د سرپا زی ترجمان

په سینه سینه پهٔ ئی پالو دغیرت ورځی دی

دجمهوریت ورځی دی دجمهوریت ورځی دی

جمهوریت زموږه دی حریت زموږه

«غمشریکك» وائی تل دی وی د محبت ورځی دی

دجمهوریت ورځی دی دجمهوریت ورځی دی

Ketabton.com



داستاد مهوش آواز ۱۶۵۲ — ۱

# شروکی

گل دی په زلفو باندی کنار دی

دواړه چشمان د محبوبا گل د انار دی

تـــوبه تـــوبه

گل دی په زلفو


* * *

په تور لحد کی نه ویریږم

ما د هجران پندی خانی لیدلی دینه

ته به د کوم مجلس ډیوه ئی

زه د هجران په تاریکی کی ناسته یمه



Ketabton.com



د استاد مهوش آواز ۱۳۳۴/۱

# سروکی

غونچې د گلو سی دپاره دوربل راوړ ه ښکلی اختر دی
زرگرته لاړ شه د وگی سره هیکل راوړ ه ښکلی اختر دی

• • •

اختر په بیره بیره راغی
نه می چارگل شته نه دغاړی تاویزونه

اختر دهغومبارک شه
چه د جانان سره جوړه میلوته ځینه

که د اختر په ورځی راغلی
زه به همزولو گی گېره له خیاله ځمه

Ketabton.com



داستادمهوش آواز ۱۳۶۱ ر ۱

# سرو کی

جنکۍ ډ لی ډ لی څی تمبل و هینه

جوړې میلې دی بیا د پسرلی

* * *

خاونده بیادی پسرلی کړو

له وچه ډ اګه د اونګو بوی راځینه

او ښانو باغاړی کیږی کړی

چه پری سپر یږی سپنې خولی ز یړ پیزوانونه

په دنګوغرو دخدای د لظروی

په سرئی و اوری په لمن ئی زیړ ګلونه

Ketabton.com



داستاد مهوش آواز　　　　۱۲۳۱ر۱

# سروکی

دستا دسر لاندی می مات شو شنه بنګړي لا لیه
خوب می زنګوي لا لیه مړوند می پرېږده

* * *

خوله به د خدای په رضا درکړم
مړوند می ولی تاووی ژوبله دی کړمه

که شنه بنګړی دی ماته راوړل
بیا نو زما په مړوند تل ګوره خوبونه

دیدن دی وکړ دومره بس دی
مړوند می پرېږده کنه چغې ګله ومه

Ketabton.com



د ناشناس آواز

# ترکیب بند

نن به شپه زما دیار په کوم مکان وي
جلوه گر به په کوم هټ په کوم دکان وي

شرمولې به ئې حسن کوم ترکان وي
کوم دکان به ئې دخولې ددر وکان وي

په دیوه به ئې دمخ څوک پتنگان وي
همراهان به ئې پاکان که ناپاکان وي

ولې نه چوي لەدې غمه زما دله
چې دې واوریدەدیاز دتلویدله

په قهقه به ئې خندلی وی که نه وي
دزړه غم به ئې غولیدلی وی که نه وي

فراغت به پسندلی وی که نه وي
چا به حال ترې پوښتیدلی وي که نه وي

کټ پوزې به ئې موندلی وي که نه وي
غوټچه وار به موسیدلی وي که نه وي

نشته‌ما غوندې بې پټ څوك په یاری کې
چې‌همدم نه‌شوم دیار په‌دا خواری کې

Ketabton.com



په منزل به ئی سبا گوره څوك ملګه وي
نپوهیږم چی به سادی وی که بهغلګه وي

په څه شان به شکسته زهیر په زړه وي
له تغمی به ئی د زړه نغمه په خوله وي

دم قدم به ئی خوله د مخ په وله وي
رانجه کړي به ئی چا خاوری دپله وي

سزاوار د هرستم د هر پیغور یم
چی‌می یار په سفر تللی زه‌په کور یم

یا د یاره سره تللی په سفر وي
په هر ځای می غوړولی پری څادر وي

یا ئی سر د پیلتانه د غمه ژر وي
یا په دواړو سترګو تیپړو نه په نظر وي

که دانه کیدی هرګز معتذر وي
خود په خود می ځان وهلی په خنجر وي

هسی پاتی شوم دیار پوری مخ توری
په جرګه دعاشقانو کی کوز ګوری

• • •

Ketabton.com



# غزل

چه توده مې پري ګوګل کې ستا دیاد ذره ده
دا د مینې پلوشه ده چه په زړه مې را خوره ده

که هر څو زړه صبرومه که هر څو دې هیرومه
ښاپیرۍ ستا د خیالونو بیا هم سمه رامره ده

ستا د ناز هره خبره ستا د مینې ملغلره
د زړه تل کې مې اوسیږي په حواسو مې دیره ده

لیمې او پوښتنه له حاله وعده مکوه سباله
له بیلتون نه دې ویریږم تری چاودلی مې زاره ده

تاچه نیغ نظر راستون کړ راپه برخه دې ژوندون کړ
د سیلاب له زړه وتلی ایله لیولیه خطره ده



Ketabton.com





# غزل

ما خوب لیده په خدا یږو چه زه ته سره پخلا یو
خوږی خوږی خبري دزړه حال یو بل ته وایو

لمما سره کتاب وی په کی واړه غزلونه
له تا څخه میناوی دګلزار په تما شا یو

مطرب راته له واریه په تارو نو لندی ایښی
په بم په زیر چاروزی مونږ ئی کوه نوا یو

ته کل واړه خوبی لری زه واړه کامرانی
ښادی ته مخامخ یو غم اندوه ته شا په شا یو

ناګاهه له دی خوبه د سحر په وخت راویښ شوم
نه ته وی نه دی وصل مونږ دا کار سره جدا یو

خوښایم په دنیا کی دچا کار راسره نشته
یوزه یم یو دی غم دی سره دواړه خواپه خوایو

• • •

Ketabton.com



دناشناس آواز ۱۷۶۸ ر۵

# سروکی

لوګه شو ګه شو دلونکو لوګه شو
چه لونګ لوشی ویا بهلاس ترغاری څونه
لو ګه شو

• • •

سپوږمیه سر وهه را څیچه
یار دلونکو او ګوی ګوتی ریبینه

• • •

با رانه مهاو ره لږ تم شه
لیلا لونګ په در مندو شیند لی دینه

• • •

Ketabton.com

د ناشناس آواز ۱۲۵۱ر۲

# غزل

ای د زړه سلطانه ته د زړه سلطان د چا ئی
ستا رنځوران د پردی وایه ته درمان د چا ئی

ډیرد میخانی لره درځی د شونډو جام له
وایه ته خاصه ساقی د چا مغان د چا ئی

زه د رپسی درسته شپه ژړیږم لکه شمع
ته سبا خندان لکه گل واز گریوان د چا ئی

ډیر د رته خراب زړونه کباب په طمع ناست دی
یاره شراب خوره ته میلمه په خوان د چا ئی



Ketabton.com



د ناشناس آواز ۱۲۵۰ ر ۲

# غزل

محبت اول آسانه په نظر راغی
په آخر کښې مې نصیب خون ځګر راغی

نن ز هیر انسان خجل تر هر ه سیاله شوم
د عشق کښت چه مې کاؤ دائې ثمر راغی

دل نشین مې شو د یار د بانوګا نو خیال
نا ببره مې په زړه وار د خنجر راغی

تصور کښې د شیرینې نا خبره وم
د فرهاد د تیشې وار یې په سر راغی

عاشقی ئې زه په هسې رنګ پایماله کړم
چه مې وینې هر ه ړی وائې ابتر راغی

• • •

• • •

د میرمن لیلا آواز

١٧٦ ر ٣

# سروګی

نیمه شپه ګرا ره خوبه ولی نه راځی

* * *

چی نیمه شپه شی ځان بیدار کړه   چی په کی واوری دو پښتلو فریادونه

ستا یارانه دوه نیمی ورځی   زمادی رنځ دملو کالو کړمینه



Ketabton.com



دمیرمن لیلا آواز        ۱۹ ر ۸

# لوبه

بیا وهی موجونه        په گر یوانه اوښکی زما

• • •

ستا تصور چه خیال ته راشی        زړګی می پړ ینګ شی په ژړا شی
وسوم له بیلتونه        په گر یوانه اوښکی زما

• • •

وړی وړی سلګی وهمه        ستا مرګی رایادومه
بیا راغله غمونه        په گر یوانه اوښکی زما

• • •

دمینی ساز راته غږیږی        آشنا می بیا په زړه وریږی
رائی کړل داغونه        په گر یوانه اوښکی زما

• • •

دغلچکی نظرتا ئیردی        پوه شوم همدغه می تقدیر دی
یار کوی نازونه        په گریوانه اوښکی زما

• • •

سیلا به او سوم دیری مینی        راځه راځه که حال می وینی
واخله سلامونه        په گریوانه اوښکی زما

د سید علم آواز

۳ر۲۲۱۵



# د مینې ګل

ای زما د مینې ګله ! راغوړېږه راغوړېږه
تا به وړم د چا پېکې ته بختوره خوشحالېږه

پسرلی دار ما نو نونن سبا په تیرېدو دی
د سپېرو خاورو له غېږې نو په بېړه راجګېږه

آرزوګانې مې تخنېږي ستا د حسن ننداروته
د سهار پشتوو بڼو کې راته خانده زرغونېږه

زه تسل به دي له مخه راچاپېرد بنوشپول کړم
نازولې ګلالیه په لیمو کې مې غړېږه

Ketabton.com



دسید علم آواز ۶ر۱۶۳۰

# لوبه

مین دی کړمه اوس دخوانی عمرپه غم کی تیرومه
* * *

عمرمی ټول په غم کی تیریږی فریاد می یارته نه رسیږی

مین دی کړمه په مخ می راغله دسرو اوښکو بارانونه
* * *

نه می خوښی نه می خندا شته پراته غمونه هره خواشته

مین دی کړمه خاوری ایری شو زما واړه امیدونه
• • •

جانانه ستامینی دپاره ما هر څه ومنل دلداره

مین دی کړمه په «غمشریک» لیکم دخپل زړ گی حالونه

• • •

Ketabton.com



دسید علم آواز ۱۶۳۷ر۳

# لوبه

بلبلی بیا د سرو غو نچو سلام ته ځینه ښکلی موسم د پسرلی دی

* * *

جوړ شو سینگار د غرو رغونو نوی دوران دی د گلونو

شبنم د حسن ملغلری پری شیندینه ښکلی موسم د پسرلی دی

* * *

بوراگان کړی پری اتڼونه څنگ کی جوړ دی سرودونه

له کانی بوټی نه د عطرو بوی راځینه ښکلی موسم د پسرلی دی

دخو شالی نوبت غږیږی شینکی له خوبه را ویښیږی

«تسل ئی» زړه په ننداروتکوروینه ښکلی موسم د پسرلی دی

Ketabton.com



دسید علم آواز　　　　۹ر۱۵۳۹

# لوبه

درپسې خورمه دزړه وینې　　　دمینې مینې
لږ نظر وکړه نازنینې　　　د مینې مینې

* * *

زړه مې لتا کله صبر یږی ترهرچا گرانه
داسوی حال خومې ته وینې دمینې مینې

دژوند خواږه راته ترخه شو نن ستا له غمه
ورځې اوشپې مې دې غمگینې دمینې مینې

جانانه وسوم لولپه شوم کباب یمه زه
بل مې په زړه لگی اور دمینې مینې

کله به وی چه مې دواشې دسترگو توره
لرم دردونه په رښتینې د مینې مینې

درازقی دمینې رازه گرانه زړگیه
سترگی مې شوی درپسې سپینې د مینې مینې

Ketabton.com



د سید علم آواز ۱۵۶۲ر۲

# غزل

ستر گی می اووتی آشنا در پسی
نوره می وچه شوه ژړا در پسی

دا دومره ډیره موده چیرته وی ته
چه لی په لی می کړه دنیا در پسی

نور می په شونډو کی طاقت نشته دی
چه خوانی مرگه شوه خندا در پسی

د هر قدم نه دې نخری وریږی
ما چه په غلا کتل دورا در پسی

سهار چه زلفی دی خوری وری وی
ما در لیږلی ؤ سبا در پسی

بنه می په سترگو کی دننه راشه
چه نیژدی مړو مه بیگا در پسی

* * *

Ketabton.com

رشید علم آورز = آشنا در لکی



Ketabton.com



د نجیب آواز

۲ر۳۶۸۱

# غزل


دنیا به شي په ماروښانه چې جانان راځي
د سترگو نور د زړه سرور ماهتابان راځي

د مېنې شپې ورځې په اور کې د هجران تېر ووم
د بېلتون اوښکې مې په مخ لکه باران راځي

د وصل گل مې تازه نه شو په نسیم د سحر
زه د بهار په هیله ناست یمه ارمان راځي

د مخ ډیوې ته دې فانوس د پلو څله نیسې
شمع چې سوزي ورته خود به پتنگان راځي

* * *



Ketabton.com

دښايسته آواز ۸۸ ر ۳

# سروکی


لاليه يوځل راشه لاليه يوځل راشه
يوځلي راشه انتظار و لاړه يمه

* * *

ړمنځ سی ورو وهه په زلفو
سرمی خو ړيږی موري مات دی شه لاسونه

که زه خبروای چی بيلتون دی
ما به جانان ترلاس نيولی ګرځونه

پاس په کمر ولاړه ګله !
نصيب د چائی اوبه زه در خيجو ومه



Ketabton.com



## د قدیم آواز



# لوبه

سور سالو په سر که په مکیز باندی روانه شه
څه ګېره وړه له نازه زر که خرامانه شه

* * *

توری زلفی سازی کړه په سپین مخ اړول صنم
جوړی په شانه کړه کړی خو کی دور بل صنم

ودری آئینی ته بیا خپل حسن ته حیرانه شه
سور سالو په سر کړه په مکیز باندی روانه شه

* * *

Ketabton.com



ستر گی ناغه داری په کجلو باندې توری کړه
سری لمبی اورونه دمین په زړ گی پوری کړه

سره لاسونه سری شونډی راوو څه خندانه شه
څه کېږه وړه له نازه زر که خرامانه شه

* * *

جوړ شول په گودر کی بیا د پیغلو اتڼونه دی
شنه او سره منگی په شاو خوا کی کتارونه دی

څه منگی راواخله په مستیو کی ستومانه شه
سور سالو په سر کړه په منگیز باندی روانه شه

* * *

چا چی ستا د حسن صفتونه اوریدلی دی
ستا د مخ لیدلو ته د مخی دریدلی دی

گلی په حافظ له تیو لومخکی مهربانه شه
سور سالو په سر کړه په منگیز باندی روانه شه

* * *

Ketabton.com



د میرمن ژیلا آواز ۱۳۵۰ ر ۵



## غزل


کەراضی مې پەجفا او پەوفا ئې          نو رادرومه چې زه ستایم تەزمانې

ستادغم پەتورەمړ پەدردې پروت یم          کله کلەراته گورە مسیحا ئې

چې د یار سره پەخپل غرض یاری کړی          دیاری بلا پە تا شه یا ددچا ئې

چې دی بولم معطل مکوه را درو مه
کەد باز غوندې حاضرپەغبر دبیا ئې

د عبدالحمید آواز ۱۳۷۹ر ۲



# غزل

لوګړن لیونی زړه می داشنا په اور زنګیږی
شپه او ورځی می دغمه په ګریوان اوښکی بهیږی

* * *

سخت عذاب او درد می واخسیت دشناد محبت نه
دنا سور زخم علاج شو حکیمان پری نه پوهیږی

خوب آرام راحت می نشته دفراق په غمخانه کی
یار می سترګی وتړوته ولاړدی په صورت می اور بلیږی

«سید طاهره» دادستر ګو بنیا ئی ده که پوهیږی
داتکلیف او عذاب تاته خپلو ستر ګو نه رسیږی

Ketabton.com



د عبدالحمید آواز ۱۳۲۶ ر ۱

# غزل

زما په غم وړو سلګو پوري خندیږي څله
ګناه مې څه ده په غوصه را نه تیریږي څله

عمر دژمې مازدیګر دی هیڅ وفا نه لري
په بې وفا شیبو لـه ما څخنې بیلیږي څلـه

ساقي! شراب پیالې پیالې را کوه بس مه وایه
زاري کووم سوال مې قبول کړه نه پوهیږي څله

دچادسرو شرابې سترګو په خاطر مې زړ ګی
درد یږي یاره په خوار حال مې نه رحمیږي څله

دوطن دوست هره نغمه به ستا په یاد دزړه شي
قصور مې څه دی نازولې نـه ستنیږي څلـه

دعبدالحمید آواز ۲۲۳۸ ر ۱

# دجمهوری بیرغ ترانه

جمهوری بیرغ رپیږی خوشالیږو مونږ
دوطن په مینه مست یو هو میږو مونږ

خوشالي ده سمه‌غر ونه په‌خندا ښکاري
تیاره لاړه ټول وطن رڼا رڼا ښکاري
دی رڼا کې د افغان اولس ښه ښکاري
د مقصود منزل ته ځانی رسیږو مونږ

افغانان یو په میړانه به وطن جوړ کړو
په ډیرزیار او په کوښښ به‌خپل چمن جوړ کړو
ای هیواده ستا له‌خاورو به گلشن جوړ کړو
سپیڅلیو غوندی به‌ستا مخ ته‌د ودیږو مونږ

متی بله وهی د کار او حرکت وخت دی
سره یوشی دیووالی او وحدت وخت دی
شرفیار وائی د مینی محبت وخت دی
خوشالی نه په ځامو کی نه ځائیږو مونږ

Ketabton.com



دعبدالحمید آواز ۱٦۸۰ ر ۸

# غزل

روانه وه ګودرته خندېده له مازدیګر

ننکۍ ئې په سرو شونډو ورپېده له مازدیګر

حیرانه هګ او پکک ئې شوم د حسن پلوشو ته

پلوشې نیم کښېو کړتېر یده له مازدیګر

ناز او کرشمو ئې دزړه و یښی تخنولی

ورو په ورو په اشارو کی موسېده له مازدیګر



Ketabton.com



دعبدالحمید آواز ۸٦ ر ۱

# غزل

همیش له ستر گوتو یووم او ښکی باران باران دلبر می نه شو پخلا

• • •

که هرڅو وژاړم و یارته هیڅ پروائی نشته
لامی په زړه کی بلوي اور دهجران هجران
دلبر می نشو پخلا

طبیب می ته ئی خدای د پاره زما په رنځ شه خبر
اوس د دازړه حالونه چاته کړم بیان بیان
دلبرمي نشو پخلا


آغا جان وائی داسو دا ده که اثر د جنون
تمامه شپه شما رمه ستوری د آسمان آسمان
دلبرمی نشو پخلا

Ketabton.com



دخیال آواز

٣٢٢٦٦١



# غزل

بیا له مستی راته په مېو کی اورو نه ناخی
نشه نشه راته خمونه او جامونه ناخی

د گلو مېنی چی زما په زړه کی ځای ونیو
له ډیری مینی راته هره خوا گلونه ناخی

ساقی که هرڅو په ما ډکی پیمانی بندي کړی
خیردی زما نشو کی لا ډیر توفانونه ناخی

که دی د زړه په سترگو گورم بیا هم پوه نه یم
ستا په ککو کی داخمار دی که خوبونه ناخی

دخیال آواز شعرد داکتر ننګیالی ۲ ر ۲۲۴۵

# دجمهوریت ترانه

خومره خوشالی ده څومره ښکلی هره خوا ښکاری ښکلی جمهوریت سره
هر زړه کی خوښی ده خوله هم د ګکه له خنده ښکاری ښکلی جمهوریت سره

* * *

نوروچ چمنونه آبادیږی زړغویږی نن شاړی ودانیږی نن
هغه جل وهلی بڼ تازه او سمسوریږی نن شاړی ودانیږی نن
دیره خوشنما دیره ښائسته د ښت او سار ښکاری ښکلی جمهوریت سره

* * *

دغه سپیره خاوره به سمسوره ګلشنونه شی هر خوا به ګلونه شی
دغو وچو کانو څنی جوړ به سره لالونه شی هر خوا به ګلونه شی
نوی ژوند زمونږ دی دهوس جوړه دنیا ښکاری ښکلی جمهوریت سره



Ketabton.com


دخیال آواز ۱ر۱ر۱۵۷۵

# لوبه

خاندی نازنینه دزړه داغونه می ورو ورو تکور وینه
خاندی

• • •

د نزاکت په خندا شنه ده خاندی
مسته دعشق په پیمانه ده خاندی
دستر گو لاندی زړه ویشتلی لتوینه خاندی

• • •

سیل ته راغلی له کوم خوا نه خاندی
گرځی گلشن کی خرامانه خاندی
په هرقدم غنچی دگلو بویوینه خاندی

• • •

چه شونډی خلاصی په موسکا کړی خاندی
ځان دتسل درنځ دوا کړی خاندی
یادئی دځنو خوشبوئی راته راوړینه خاندی

Ketabton.com



## دخیال آواز

۱۳۱۴ ر ۳

ای زما نا کامو هیلوهوسونو   لړی لړی شی لمانه

هوری لړی په بید یاکی   دغمونو په چوپتیا کی

ما نا کام ته مابدنام ته   بیلتون کړی د زړه رازونه

ای زما زړه لیونیه خندنیه   نورمی مه سوزه بی ځایه

دځوانی له تمناونه
دګلرخود وفا نه

بی نصیب یم زه غریب یم
چری زه چری عشقونه
داد هیلو کاروانو نه   امیدونه

چی بهیږی را بهیږی
خندوی می ژړوی می

غولوی می غولنوی می
یا هغسی یادغسی پاروی زما دردونه

Ketabton.com



# غزل

زه په مخ د هغه یار هسې مفتون یم
چې له عقله بیګانه ګرځم مجنون یم

د جهان په سود او زیان مې نظر نه دی
بې لتا نه له همه جهانه ستون یم

که مې زړه شګاف شګاف شو باک ئې نشته
شانه طوره د زلفینو په شبخون یم

چې هر دم راته خبرې د قصاص شي
نپوهیږم بد نام شوی په کوم خون یم



Ketabton.com



د نسیم آواز دردمند شعر



## لوبه

وړه سوم په اورڅکه کووم درته ګیلې داسې
سترګې دې لیلې داسې

سترګې دې ډیوې دې زه پتنګ پسې ګرځیږمه
سترګې دې لیلې داسې

مستو اشاروې دې په ما وکړې حملې داسې
سترګې دې لیلې داسې

ماچې ننداره او تماشې ستا د ښکلا وکړې
تا راته ښېرا وکړې

ګله په احساس مې شوې ناځا په زلزلې داسې
سترګې دې لیلې داسې

ما په ځان منلې ستا د مینې تومتونه دي
خدایږو نعمتونه دي

ستا په یارانه کې ما دردمند ښکلې پیالې داسې
سترګې دې لیلې داسې

Ketabton.com



د نسیم آواز د فنا شعر ۱۳۳۱ ر ۵

# غزل

د زړګي باغ ته مې د اغونه راوړه      ګلان اشنا ته سوغاتونه راوړه

چه د ارمان ګلان مې وغوړېږي      بوی د اشنا ګل اندامونه راوړه

د تورو سترګو د بلبل جالۍ ته      د زړه د ګل نه مې خارونه راوړه

د غزل سپېڼکي مرغلرې ناڅي      د زړه له وینو نه لالونه راوړه

د تور زلفو شبستان ته ورشه
د شعر رباب ته مې تارونه راوړه



Ketabton.com



د نسیم آواز ۱۳۲۳ر ٦

# غزل

څه افسون دی په ما وکړ پری زاده
چه یو دم نه یم خالی د ستا له یاده

زړه می ډك لکه سپند دی شعله بویه
که د زړه په مراد وکړم خو فریاده

بها نه دی د غرض مگر شا نه کړه
ته ئی لاس ور وړی و زلفو ته شمشاده

چه آواز دی د تیشی په کهسار نه شته
د شیرینی په طلب لاړی فرهاده

مهیا و رته قفس د شاخ گل کړه
که څه رحم په بلبل کوی صیاده

چه په هر منزل کی سر خوری لکه شمع
د هغی لاری څه نفع ده له زاده

همیشه ئی پیچ وتاب لکه جوهر دی
چه شیدا راغی تردا حیرت آباده

Ketabton.com



## د پښتون قمر آواز



# سروکی

ترلاسه می مه نیسه باغوانه    لالی دډیری مینی گل غواړی لما نه
زه په گلو گله

* * *

په ما مینه یاره راشه
ما په اوږدو زلفو کی ایښی دی گلونه
زما د گل په شانته یاره
د زړه کراره لیونی د ر پسی یمه
غوټی د باغ په منځ کی خاندی
بوراد صبر در وازی نیو لی دینه


Ketabton.com



د ځلاند آواز د سیلاب شعر ۱۸/۱۲/۱

# غزل

غلې غلې نازولې په خندا ځې او راځې
ارمانونه ترې زاریږي چې ایلا ځې او راځې
د زړه تل کې ارمانونه په ګډا دي په نڅا دي
ما ته ګرانه نازنینه محبوبا ځې او راځې
اور د مینې بیا تازه شو د ګوګل په سور نغري کې
چې له ټولو نازولو بې پروا ځې او راځې
د ژوندون لوړې ژورې مې یو دم ټولې رڼا شوې
چې تپوس ته مې د مینې مسیحا ځې او راځې
افتخار دی دي سیلاب ته اوس خوښیږه هوسیږه
چې دې خنګ ته نازولې تل په غلا ځې او راځې



دسبز علی‌خان آواز ۲ر۱۸۸۹

# غزل

چه کله خیال ته محبوبا راشی
وایمه خاندم به ژړا راشی

دخیال جوته وی چه په خیال تیره شی
زړه وائی نه یو ځل دی بیا راشی

دساده زړه په دی ساده غوښتلو
په وچو شونډو کی خندا راشی

داچه کتی ئی مخ ته شوخ نه شمه
له ډیری مینی نه حیا راشی

لائی د مخ سیاو نه گورومه
چه پری د خپوتور بیگا راشی

(حافظ) بلد شوم دردو نوسره
که د اشنادی ته سلا راشی

Ketabton.com



د سبز علی خان آواز ۱۸۸۹

# غزل

راشه اشنا زما ترخنګه          ښکلی رنګینی قصی واوره

* * *

لطف دی کم شو سینه دی لاړه
یو بل نه بیل شو زه او ته دواړه

دنیاد سینی دی کړه ړنګه          ښکلی رنګینی قصی واوره

* * *

دغیږ رباب وی دمنګل بازوی
زما حبیب وی زما همراز وی

وی مهربان له هره رنګه          ښکلی رنګینی قصی واوره

* * *

د بینا یاردی ستا هرخه هیر شول
په هوا لاړل مرغان ؤ تیر شول

د ننګ شکوه ده دبی ننګه          ښکلی رنګینی قصی واوره

Ketabton.com


دسرور آواز

۱۳۹۶ر۳

# غزل

زه په شرنګای د ښنګرو ویښ کړمه
ګلی د ناز په خندیدو ویښ کړمه

اول ویده ئی په خوږو کیسو کړم
بیا په ګوذارئی د ټمخو ویښ کړمه

سهی می سترګی لا ورغلی نه وی
چی می بلبلی په نغمو ویښ کړمه
زلفی لمدی ئی په ما څنډلو وهلی
د نازمیرمنی په نخرو ویښ کړمه

سرته می ناسته وه ژړل ئی راته
زه ئی د اوښکو په شیبو ویښ کړمه

Ketabton.com

دسرورآواز ۳۲۳۰۲ر۳

# سرو کی

راغی بهار راغی گل په گلزار راغی

وخت بياد ښکلو دسنګار راغی

دپسرلی ګلان غوړیږی


زه به تری ځوړ کړمه جانان ته اميلونه

دپسر لی ښکلی نسیمه

زما دمینی په يار روايه سلامونه

بهاره راشه په خير راغلی

تا کی پوره شی دمینو دید نونه



Ketabton.com



د محمد دین آواز ۳ر۲۵۱۶



## ترانه

دا زه خوب وینم که ویښ یم چه می خوږ آشنا ترخنګ دی
دا آواز د ښاپیرو دی که د یار د پاولو شرنګ دی

* * *

له آسمانه عطر اوری کانی بوټی خوشبوئی کا
لور په لور بلی ډیوی دی مخ د ځمکی پری خوشرنګ دی

نازولی لیلا راغله د صادق مجنون ترخنګه
نن د شپه لیلة القدر ده مین یوئی پالنګ دی

هسی پورته مقام بیا مومند ملنګ جان په ملنګی کی
تاسی او ګوری ای خلکه نن نواب دی که ملنګ دی

Ketabton.com



دغازی جان آواز ۲ر۲۳۰۱



# سر وکی

وړکی پېری دی جوني زېړی گلی دینه
پهزېړو گلود هرچامېنه راځینه

• • •

په گودر بیا نجونه شوی ټولی
لکه چی ستوری دسپوږمی چاپېره وینه

عاشق چی ورشی معشوقی ته
اول ئی ښکل کړی بیا گیلیورته کوینه

توره لونگی په ما زړه شه
گلانوډک ټکری پهتا زوړشه مینه

Ketabton.com



## دغازی جان آواز ۱۷۲۳ ز م

# غزل

پەتور تکری دی ستاری کتار کتار ایښی دی
جلکی پەمخ دی شنه خالونه مزیدار ایښی دی

* * *

راته لەورایه پەخنداشه پەمینه مینه خنک تەراشه
پیغلی ماویری نذرانی ستاپه پەدیدار ایښی دی

* * *

بیادی جوړ کړی دی سنګار کوی زماذړه کی ښکار
دتوروزلفودی دامونه پەرخسار ایښی دی

* * *

نەوائی داچەولی ژاړی مستی لیلاخەرانەغواړی
خپل سراومال درتەپه مخکی شرفیار ایښی دی

* * *

Ketabton.com



# لو به

دغازی جان آواز ١٦٨٢ ر ١

و سوم اور دینی     مکره نو رستم پەما
مستی نا زینی     و کره لو کرم پە ما

* * *

ژ ارم ستا لەغمەزه     او بنکی‌تو یو مەزه
داغ‌می دزرەوینی     کیرده ته ملهم پەما

* * *

ماسره پخلا شەته     نن پەخند راشه ته
جاردی شم‌شیرینی     دیرشو دستاغم پە ما

* * *

گرم شور او چغار مدام     زەخوار شرف یار مدام
واورەماه‌جبینی     خاندی‌تول‌عالم‌پەما

* * *

Ketabton.com



# دوطن ترانه

دغازی‌جان آواز ۲۰۲۱ر ۱

داوطن‌داگلشن دی زما دامسکن‌دامدفن‌دی‌زما

* * *

له‌وطن نه‌که‌ځارزما سرشی هلته خاوری‌دتن به می‌زرشی
زړه‌ددی ارمانجن دی‌زما دا مسکن دامدفن دی زما

* * *

ماته جوړ داوطن گلستان دی ترقی ئی‌دزړه می ارمان دی
څوچه روح دبدن دی‌زما داوطن داگلشن دی زما

* * *

درنځونو دردونو دوا می داوطن دی هم‌دین هم‌دنیامی
هم جنت هم‌عدن دی زما دا مسکن دامدفن‌دی‌زما

* * *

دافغان جمهوری خوږهیواد رب نه‌غواړم‌ودان‌اوا باد
چه‌زانگو دار بن‌دی زما داوطن دا گلشن دی زما

* * *

بختانی‌دوطن‌خدمتگاردی په‌خپل‌سرئی‌خدمت ته‌تیاردی
دسرو گلوگلشن دی زما دامسکن دامدفن دی زما

* * *

Ketabton.com



## دغازی جان آواز

۱۳۰۶ ر ۳

شور دی د بلبلو      په لوړو غرو وکړه ماخیو سره ګلونه

باغوان به ولی خپه کیږی
چه جنګی ورته کوي د ګل سوالونه

بلبل خوشحال چه پسرلی دی
بورا کوی په سرو ګلو نو غورزنګونه

د پسرلی ګلان غوړیږی
پیغلو جوړ کړی تری دغاړو امیلونه



دجمیل آواز ۳ ر ۴۸



# سرو کی

پهٔ جوس توری یوي گډی گل کړینه وی ع پهٔ جوس توری

* * *

همزولی یار د چا سړمه کړی
همزولی یار دزړګی ولی پر یکوینه
دومره به بل وطن ته لاړشم
چې دځوانی دوران می تیرشی را به شمه
د جوس یوی دی پهٔ غم شه
پهٔ ډیر کتومی درنوی کړل دیوالونه
پهٔ دیواله چې راپرته ئی
زما به خه شی ستا کوخې به خړی شینه

* * *

# غزل



چې او مې لیدې سترگې د جانان نشه نشه
له سترگو مې خود ښکاري دا جهان نشه نشه
اثر د خمار پروت دی د دې زمکې په هر رگ کې
چې گورې په څیر څیرو رته آسمان نشه نشه
نشه د مینې وینې د ډیوې په پلوشو کې
چې سوزې پرې ځانونه پتنگان نشه نشه
نشه د بهار څه پوښتې له ما گوره گلشن ته
بلبل په کې نشه گرځي گلان نشه نشه
اې ښکلې ساقي دا په وې دستا د جام اثر
مغان نشه نشه ښکاري رندان نشه نشه

(حفیظ)

* * *

Ketabton.com



دمنور آواز ۸٦۳۲ر۲

# ترانه

بندو نه‌مات شول اوس دژوندد آزادی ورځی دی
گرانه‌و طنه دغه ستادا بادی ورځی دی

پیری دغم نه‌دکی شپی ورځی مو وارولی
نوری په مونږ با ندی راتلونکی دښادی ورځی دی

آواز دوخت دقافلی دجرس څه‌بنه وائی
هلی راپاځی قدم واخلی دتادی ورځی دی

لوری ژوری له‌زلمو اوارول غواړی
دادشرین وطن په‌سر دفرها دی ورځی دی

هره‌شیبه ئی افغانی استعدادونه روزی
راوړی وخت دخان سره داستادی ورځی دی

• • •

Ketabton.com



د ناهید آواز

۲۲۷۸

# لوبه

مبارك دی شه اخترخوږه جانانه　　ای دخان اوله جهانه په ماگرانه

* * *

راته راوړه در امیل چا میل گلونه　　چه تری جوړ کمه دغاړی امیلونه

شم به تاسره دگل غونډی روانه　　مبارك دی شه اخترخوږه جانانه

* * *

سور سالو می راته راکړه گرانی موری

دواړه ستر گی به له خیاله کړمه توری

داختر میلو ته ځی نجونی لمانه　　مبارك دی شه اختر خوږه جانانه

* * *

کور په کور کی خوشالی ده چی اختردی

نن په هرځه کی سیالی ده چه اختردی

پوره کیږه د شاعر دزړه ارمانه　　مبارك دی شه اخترخوږه جانانه

* * *　　( خلیل )

Ketabton.com



د ناهید آواز

۳ر۱۷۰

# سروکی

واخله سلامونه شرینه یاره    پاس په تندی سی درته ایښی دی لاسونه دلداره

* * *

په کالی شین لوګی جګیږی    د چاپه نوی یاری ء اور ولګیدنه

* * *

یار می په مرو لاسو مینډی    زه به نکریزو بوټی کورکی شنه کووه

* * *



د ناهید آواز

۱۳۶۲/۳

# ترانه

خوشالي مې شوه په روح کې ځکه ښې سندرې وایم
ملي جشن جمهوري دی چې خوږې سندرې وایم

چې مې غوښت هغسې وشول لاس مې رسې تر مرامه
سر مې پروت د یار په غېږ کې د لیلې سندرې وایم

جمهوري نظام چلیږي وږي تږي پرې سړیږي
اوس مې ویره د چا نشته بې پردې سندرې وایم

اوس مې وټ د زړه اوبه شو ارزوګانې مې ګلونه
د وجود رګ رګ مې نا څې د نخرې سندرې وایم

دا مې ژوند دا مې ارزو ده دا مې روح دا مې ابرو ده
دا مې مینه دا مې پټ دی د همدې سندرې وایم

اوس مه وخت دی د کارونو زحمتونو اوریږونو
اوس مې ورځ د صداقت ده چې پخې سندرې وایم

Ketabton.com



دمیرسلام آواز ۳ر۱۰



# غرنی سندره

بلخ دری دری شینکی رود و نه
وی‌ء پاچا دبلخ


*　　*　　*

صبا به بیا کلۀی باریږی
د دښت ګلان به‌ستا لمنی بویوینه
هسرچی لی دی کړو خاونده
له‌وچې زمکی دلونګو بوی راځینه
دستر ګوتور جانان می‌ورک دي
په‌زر ګر ناسته‌یم تصویرئی جوړومه

Ketabton.com



دعطاء محمد آواز ۱۳۰۵



# داتن سروکی

درځم له ګلو اوس به لمن ډ که در وړم له ګلو

* * *

غونچه د ګلو ـ ی په لاس ده
که څوك ګلونه بو یوی ژر دی راځینه
راشه چی بیا سره پخلا شو
مرګ راپسی دی نیمه خوا به شومینه
مخ دی د سرو ګلو باغچه ده
د هروطن توتیان راځی ګل بویوینه
په لویو غرود خدای نظر دی
په سرئی واوری وروی لمن ګلونه

Ketabton.com

دعطاء محمد آواز

۳ ر ۲۳۷

# سروکی

څه کراره شپه ده چلکی کور کوی خوبونه

باران که اوری باك ئی نه شته
واوری دی نه اوری چی لاری بندو بنه

څه کراره شپه ده چلکی کور کوی خوبونه

سترګو ته رش درنجو ور کړه
دمسا پرووخت نیژدی دی را به شینه

څه کراره شپه ده چلکی کور کوی خوبونه

په عمر خپل همزولی را کړه
که نیستی راغله په خندا به ئی تیر ومه

څه کرار شپه ده چلکی کور کوی خوبونه
خندا لتا سره جوړیږی

ماته پراته دی په بار بار دیار غمونه
څه کراره شپه ده چلکی کور کوی خوبونه

Ketabton.com



دمحمد ایوب آواز ۲۸۰ ر ۲

# غزل

خوسره خوږه ده دنیا دمینی
له نازه ډکه موسکا دمینی

کوه دمینی کیسی په مینه
چی می تازه شی سودا دمینی

ای ناز ولی نا ز لو بوای
چی غشی و لی رسا د مینی

چی ساه نیولی تروره ښکاری
چادرته وویل زسا دمینی

چی راتګه گوری په مینه مینه
لکه چی غواړی صلا دمینی

راځه سیلا به ترهغو ژاړه
خو چی نصیب شی خندا دمینی

Ketabton.com



دسلطان محمد آواز

۲ر۱۲۰۸

# سروکی

په ښنګ راواوړه چه دی وشمیرم خاونه

لونګینی په ښنګښنګ راواوړه

* * *

زلفی ئی شاته وار ولی

تال ئی تری جوړ کړ خپل اشنا پری زنګوینه

خلک به وائی چه وړه ده

وړې زما په زړه چړی منډلی دینه



Ketabton.com



د آزادي آواز

۱۰۵ر۳

# سروګی

برکنده وته ګورم په انتظار ولاړه یمه

مینې لیونۍ کړم ځکه دې تل لاړي ښارمه

د ناستې ځای دې را معلوم کړه

چې په کې کېږدم د رامبېل چامبېل ګلونه

د محبت په رنځ رنځوره

راشه چې درکړم د سرکو شونډو سرونه

زما او ستا چې پرې وعده ده


بیګا په هغه ځای کې اورو لګیدنه



Ketabton.com

## دسلیم آواز





# غزل

زما اشنا په تورو سترګو دزړه ښکار کوي
عجب سنګار کوي

* * *

سپین زنخدان لري یاقوت لبان لري صدف دندان لري
ژبه شیرین په محبت سره ګفتار کوي
عجب سنګار کوي

صنم وفا لري نازوخند الري حسن صفا لري
پټ په پرده کې اشارت ماته دلدار کوي
عجب سنګار کوي

سپین دی رخسار دصنم زلفې تار تار دصنم خال جلوه دار دصنم
هره خبره په خندا زما دلدار کوي
عجب سنګار کوي

Ketabton.com

## دگل زمان آواز

۲۳۹۳ر۱



## دپسرلی لوبه

دی نوی کال نوی سپرلی نوی ښکلا ده    باغوان تړلی ملا ده

* * *

دخپل وطن شاړی به گل کړم    بیا به دیره په کی بلبل کړم
زه نې مجنون یم دا ز ما ښکلی لیلا ده    باغوان تړلی ملا ده

* * *

وطنه! زه دستا دهقان یم    ملا می تړلی زلمی خوان یم
ټول به آباد کړم که د ښتو نه که سا راده    باغوان تړلی ملا ده

* * *

ننِ دو طن بچی بیدا ردی    که دی کارگر که زمیندا ردی
دگل زمان سره د ټولو دا سلا ده    باغوان تړلی ملا ده

Ketabton.com



د گل زمان آواز ۲۳۷۷ر۲

# لوبه

بهار په شنه ځولۍ کې سره ګلان راوړي دي
بلبلو ترانې د ګلستان راوړي دي
هتې د عطارې ده که داسېمه د سرو ګلو
که مشک نن له ختن نه کوم کاروان راوړي دي

د غرو په شنو لمنو کې د زرګو کتهار دي
رېدې ورته مېلې د کوهستان راوړي دي

غاټول وهي موجونه په زرغونو دامانو کې
نسیم ورته نازونه د دوران راوړي دي



Ketabton.com



د گل زمان آواز ۲۱۲۳۱۲ر۲

# غزل

زلفی خوری کا ماله خوب راځی
جوړی تیاری کا ماله خوب راځی

دا پیزیب لری کړه گجری ماتی کړه
دا ډیوی مړی کاماله خوب راځی

بیاد خو ږو خو ږو خبرو نغمی
په ما خوری کا ماله خوب راځی

چه می گیله د شو ندو پاتی نشی
دا هم اودی کاماله خوب راځی



Ketabton.com



دگلزمان آواز ۱۶-۳-۱۲-۱

# لو به

په گل غونډی دارغوان جوړی میلی دی
ځان جوړوه لاس راکوه گلی ورځوچی ننداری دی

پیغلی زلمی کوی میلونه جوړدی دمینی بازار ونه
په هرخوا دپسرلی وږمی خوری دی

* * *

دچاپه لاس کی سره گلونه چاتری جوړ کړی امیلونه

دچاپه مخ دانه زلفی خوری دی

گلان سپرلی ارغوان دی دغه مسری دگلزمان دی
دهرعاشق سره روانی معشوقی دی



Ketabton.com



د ګل زمان آواز ۲۵۹۳

# غزل

ګل دی په مخ ګل دی په خوله ګل دی په خندل اشنا
ګل دی په صورت ګل دی دپاسه په کاکل اشنا

نوی ننداره ده که دمینی انتها می ده
ډیره مزه ئی و کړه څکه داچی تمنامی ده

ګل دی په خصلت ګل دی له نازه په کتل اشنا
ګل دی په صورت ګل دی دپاسه په کاکل اشنا

څه خبر چی تا به می دزړه په کور کی کور کاؤ
څه می غوښته ستا دپاره بیا می شراو شور کاؤ

ګل دی مینه ګل دی حسن هر څه دی ګل ګل اشنا
ګل دی په مخ ګل دی په خوله ګل دی په خندل اشنا

خوپوری به ښتر ګی دمجنون په انتظار کی وی
اوس به لیلا راشی او کوچیان به کوچ او بار کی وی

ګل دی په نامه هینا ګل دی په غزل اشنا
ګل دی په صورت ګل دی دپاسه په کاکل اشنا

Ketabton.com


دگل زمان آواز ۳۶-۲-۲۳

# ترانه

محیءچه دغه غرونه دا ناوو نه تول ودان کړو جوړ نوی جهان کړو

ستوری د آسمان به ددی مینی شاهدان کړو جوړ نوی جهان کړو

* * *

دغه گل غونډه ددی شنه باغونه سردری زمونږ ښکلی منظری زمونږ

دکی منابع به را بر سیره په میدان کړو جوړ نوی جهان کړو

مینه د وطن جز د ایمان ده عقیده لرو کلکه اراده لرو

محیءچی صداقت او دیانت شعار دځان کړو جوړ نوی جهان کړو

کانی دی که بوټی دی که خاوری دی که غرونه دی واړه سره لالونه دی

محیءچه جوړ له هریوی دری نه گلستان کړو جوړ نوی جهان کړو

خاوری موسره زردی او داغرونه دطلانه دك تول دی له ښکلا نه ډك

محیءچه جمهوری رنا خپره په کوهستان کړو جوړ نوی جهان کړو

Ketabton.com



دګل زمان آواز ۱۹۶۳ ر

# لوبه

د وصال په خــو ږو شپو کې زه اوته چه ګرځېد لو
دسپوږ مې په پلو شو کې زه اوته چه ګرځيد لو

• • •

د پسترو ښو د پاسه زه او ته ؤ لاس ترلاسه
يو خوا بل خوا ځغليد لو له ډيرصدق او اخلاصه
ؤ يو بل ته په کتو کې زه او ته چه ګرځيد لو

• • •

کله نياز او کله ناز ؤ کله جنګ او کله راز ؤ
خوله په خوله غاړه په غاړه هم سرود به ؤ هم ساز ؤ
د ګلا نو په غونچو کې زه او ته چه ګرځيد لو

• • •

ستا خو ږې خو ږې خبرې هم نبات وې هم شکرې
چه پر مخ دې خولې ډنډ شوې درګوهر وې ملغلرې
ملنګ خيل ډوب ؤ نشو کې زه او ته چه ګرځيد لو

د گل زمان آواز ۷۷۶، ر۳


# غزل

خیالي وربل دې ورا نوي په ادې گراني
شین خال د نجونو سیرې ښوجانې

که په قبلیږي دعا دخدای په درگې زما
د تور پیکي سپینې رو پې دې مشه وراني
زه چه وهمه سلگې نه که سخا د خولگې
و رې د پېزوان په سیورې پټې سرې لبانې

لرې لتا یمه زه تل په غوغا یمه زه
پریشانه زه یم که د زلفې پریشانې

بهائي جانه سلام لیږه و یارته مدام
د خرخ او بهدې د کابل په لور رواني



Ketabton.com



دګل زمان آواز    ۱٦٣٦ ر ۵

# سروګی

بی بی شیرینی زیړی ګلی    راپاندی واچوه او نګی دواړه لاسونه

*   *   *

ماخودی ګور لیدلی نه دی    داسورسالو په ګوتهو یړ که در بهشمه

نجلی دخدای روی می دروړی    چی په مازاشی مخ ته مه نیسه لاسونه

که می اجل سټا پهخولګی وی    سبا کفل په سر ترم تاته درځمه



Ketabton.com

دګل زمان آواز ۱۶۶۳ ر ۳

# لوبه

لکه ما شوم شوی راته سر بیا په سلګو زړګیه  للو للو زړګیه
راپار ولی ئی د مینی ولولو زړګیه  للو للو زړ ګیه

* * *

لکه ما شوم رانه زړګیه مرور شوی ولی  په ژړا سر شوی ولی
تمامه شپه شوګیر وي په او سیلو زړګیه  للو للو زړ ګیه

* * *

تمامه شپه وینی ژړا کی غرځنی خو بونه  تول لیونی خو بونه
ممسور ګلو نه رانه غواړی په څولو زړګیه  للوللو زړګیه

* * *

ما لارزی وانی سرښندل دی د خوبانو مینه  د مهرو یانو مینه
بندی په دام کی شوی د زلفو د ګلو زړګیه  للوللو زړګیه

* * *

Ketabton.com



دگل زمان آواز ۱۵۷۸ ر ۳

# غزل

چه مي‌دا غونه په ځگر لټوی

یاره زما دزړه پرهر لټوی

دجوړ یدو اومید تری نشته زما

که ته ئی څومره په هنر لټوی

زمانه تمه دوفا مکوه

ته په پرده کی هریو در لټوی

صدیقه! نشته دوفا گلو نه

که ته یا غونه هرسهر لټوی



Ketabton.com

دگل زمان آواز ۲۱۶ ر ۳

# سروکی

شیرین بی بی درخانی

نن دی و هلي په لنډی ز نه خالونه

شیرین

ز ړه می د ستا سو کره پر یښود


سور ته دی وا یه چه پری نه کړی منتونه

ز ما دی شین فصل تا لا کړو

خدای دی تالا کړه سپینه خوله شنکی خالونه

نن دی چار گل په پزه نه شته

جلکی دیدن دی نا روا دی نه ئی کړمه



Ketabton.com



دگل زمان آواز ۱۰۹ ر ۱

# سر وکی

غو نډ ی منډ ی د اتو ری زلفی جوړی کا پـه تنډ ی

له باغه گلان راوړه

• • •

که اثری و یشتل دی نه‌و ای

په‌درو از وکی به‌دی چا کړل فریادونه

چی ستر کی‌توری کړی‌ر او ځه

دتو رو سترگو سودا گر راغلی‌دینه

دا سپینه تنډه دی‌غو نډ ی‌ده


توری پیچکی‌دی‌رمی پری‌پنډ ی دینه



Ketabton.com



د سلام آواز ۱۹۲۵ ز



# غزل

نن مې بیا بیا ژړا پرځان راځي چه در گرده ځوا بو نه د جانان راځي

• • •

له مخ لرې لرې که نقابه زړه مې سوې سوې دي کبابه
هر عاشق خیرې گریوان راځي

• • •

ما و یلي و یلي دي ریبارته بیگا ورشه ورشه زما یارته
ستا د سرو سرو لبو ارمان راځي

• • •

Ketabton.com



دشاه محمد آواز ۱۶۶۹ ر ۲



# سروگی

درو ندی امیل پەغارە ئی تەوری
سنگین دی امیل پەغارەئی ته وری

• • •

سپا موبیا دکله و وار دی
پەسر بەپلنلی چلوم پەزرەغمو نه
خراغ چەبل شی بیرتەمرشی
زرەچەمین شی همیشه لمبی و هینه
ترسرمی شگی کەرا لاندی
زەدمنت پەمرو ندخوب کله کوومه

Ketabton.com



دشاه محمد آواز ۱۶۶۹ ر ۳

# غزل

یا رمی سنگار په سنگار کړی دی نن
وه کوم گلزار گلزار ته تللی دی نن .

* * *

ښایست ئی تو له په خپل خان کړ ختم
زیب و زینت ئی په سامان کړ ختم

په نوم د وصل ئی هجران کړ ختم
کاکل ئی تار په تار غوړ کړیدی نن

* * *

زما جانان د سره گل په نامه
زه ئی معرفی کړم د بلبل په نامه

عبد الخالق صادق یم خپل په نامه
تشهیر ئی ښار په ښار را کړی دی نن

* * *

Ketabton.com



## دشاه محمد آواز

۱۱٦٦۸ (۱

/

# غزل

یو وار په ناز قدم راوخله نازنینی لونګینی
دلونګین امیل دانی‌لری شوبینی لونګینی

• • •

سپین زنخدان‌دی‌شکرسیب‌دی　　عجیب شرنګی‌دی‌د پایزیب دی
دنزاکت جامی‌دی واغوستی زرینی لونګینی

• • •

سره بارخوګان‌دی ترانارسره　　که‌په‌سرخی‌دننګرهار سره
دسته‌دسته‌ګلان راټول که نازنینی‌لونګینی

• • •

مستانی‌شومره عمرتیر شو　　عبدالخالق صادق‌دی هیرشو
ستادفراقه می‌زړګی شووینی‌وینی لو نګینی

Ketabton.com



دماری مهتاب آواز ۱۶۵۱ر۳



## سروکی

گل‌می په وربل ایښی      په‌پوزه‌سی چار گل ایښی

دا ستا دپاره یاره اوس راځه که‌دیدن‌غواړی      مینه‌ولی‌ژاړی

* * *

زړه‌دی‌په گل رانه بد سشه      په یارانه کی‌هم گیلی‌وی هم‌جنگونه

لاس‌به دی و ترم په زلفو      په‌لونگین به‌دی‌و هم‌چه سړدی، کمه

زمادخوانی‌والك دی‌داستاوی      تاچه‌زما په‌سر اخیستی تو متونه

* * *

Ketabton.com



## د تجلی آواز

۱۷۷۱ر۴





# سروکی

ته ئی کوتره زه یم باز د گړ نګو لیلا

راوالوزه په غرو لیلا

بلبلی بیا په هوا را غلی
دلوړو غرو کجیره خوب دی ز نګوینه

پاس په گودرد پیغلو جنګ دی
سپین سړو ندو نه لکه توری پړ کو ینه

دلوړو غرو کجیر ئی مړ کړو
بلبلی ژاړی چه خالی شول گړ نګو نه

* * *

Ketabton.com

د تجلي آواز ۱۳۳۸ ر ۱

# سروکی

دسهار بادزما پرښکلی جانان وایه سلامونه
د سهار باده


• • •

باده په باد سی سلام وایه په هغه باد چی د جانان په لوری ځینه


دیدن د بادو پیمانه ده نه به پری مور شی نه به وتری بارونه

د استا دیدن ته می زړه کیږی

خوغمازان می ستا دیدن ته نه پریږدینه



دهنگامی آواز



# سروکی

شپه ده نیمه شپه ده    خوبه‌ولی نه‌راځی

* * *

د نیمې شپې اوربل شو
زه‌خواره ناسته‌مرور پخلا کوومه

* * *

سپوږمۍ په‌منځ د آسمان راغله
بی یاره خوب نشته که‌ماته نه‌راځینه

* * *


چې نیمه شپه‌شی یار رایاد شی
سرپه بازو ږدم او ښکی لاندی‌تویوومه

* * *

Ketabton.com



دسپين بادام آواز ۲ر۷۲



# غزل

پەزړە رانغوتی ځای‌دی و ینو یارەپه کی
کینا ستی پاتی شوی دټول عمرد پاره په کی

عشق‌دی خەرا باندی و کړل نپوهیږم پەځان
مینی مجنون کړم چی اوس نەپیژنم لارەپه کی

زړەدی پەهرساعت د حسن توافو نەکوی
چی تەمرکزشوی دجمال سرمایەدارەپه کی

سترگی می پټی شوی لەهرخەستا پەلورغړیزی
گلان پیدا شول دو فاله انتظارە په کی

بیناء غزل‌دی کەد یار ەړیری مینی کیسه
دمحبت مینی موضوع ده مزەدارەپه کی


* * *

Ketabton.com



دحبیب شریف آواز

۲۱۷۳



# سروکی

داتوری زلفی دی په مخ باندی خوری دی
شیرینی بیا که بیادی ستر گی سری دی

• • •

دتو روزلفو په ځنګل کی
که دسپین مخ رڼادی نه وای ورك به و مه

که دی دزلفو سیوری نه وای
دمخ رڼا به دی جهان سیزلی و نه

* * *

Ketabton.com



د حبیب شریف آواز

# سروکی

بس کړه مېل د ګلو لیلا سرې ماښام دی
زړه وړی په منګلو لیلا سرې ماښام دی

* * *

سرې ماښام دی خواله راشه
چې درته ووایم د خوږ زړګی حالونه

* * *

چې د وصال ډیوی بلېږی
په مینه، مینه پتنګان ورله ورځینه

* * *

تمامه ورځ چې جانان یاد کړم
خو چې ماښام شی زړه وینی توېومه



دخیر محمد آواز

۸۵ر۵

# غزل

۱

مه‌سری کوه شونډی چی عالم به ناکرار کړی
مه‌توروه سترګی چی ژوندون به‌می په‌دار کړی

مه‌سری کوه منګولی سری له‌بی به بلی شی
مه‌جوړوه ځان چی به‌ستی ما په‌انګار کړی
مه‌کړه اشاری چی دچاسترګی به‌دی وخوری بیا
مکوه نخری چی ناصحان به‌راپه‌قار کړی

مکوره آئینه‌کی چی آئینه به‌پریشانه شی
مه‌وهه شانه په‌کاکل زړه به‌می پرهار کړی

مه‌لوځوه‌مخ چی دامپوږمی به‌تکه‌توره شی
مه‌خانده رقیب‌ته چی بیدار به‌خوارو زار کړی




Ketabton.com



# دموسی قاسمی آواز

۲ / ۱۳۲۲



گرانه جانا نه زما
دزړه ارمانه زما
مدام ژړیږمه زه
راشه درمانه زما
بیا په خندا شه راته
مــاهتابانه زما
دلبوجام دی راکړه
گــل خندانه زما

گرانه جانا نه زما
دزړه ارمانه زما
په اورسوز یږمه زه
گرانه جانا نه زما
درنځ دواشه راته
گرانه جانانه زما
دخولی انعام دراکړه
گرانه جانا نه زما


* * *

Ketabton.com



دمسرور آواز

۱۲۸۳ر۷



# غزل

څه عجب سمسور دی په هر ژمی ننګرهار زما
بیا به تماشې ته په خندا راځې دلدار زما

باغ کښې د ښبو او زېړ نرګس غوټې خندا کوی
ځکه نې ننداری ته په سکېزر راځې نګار زما

ونې د شمشاد چې ورته ګوری خجالت باسی
ګله چه روانې شی شمشاد قده یار په لار زما

راشه ننګرهار ته ای شاعره پسرلی ګوره
رنګ په رنګ ګلونه غوړېدلی په دا ښار زما

څوچه ننګرهار وی زما یار وی زه مېن یمه
ځکه دی ښپانده په ژوندون کښې همدا کار زما

Ketabton.com



دلعل جان آواز ۲۳۹۷ر۲

# سروکی

اشنا دستر گو په بنهو پشتلی یمه
ځکه رنځور دغمه یمه

• • •

په عاشقی کی داسی کیږی
ګله خوشحال وی ګله سر په زنګون پردینه

سترګی می د پری و لیدلی
زما د یار سترګی منګولی لګوینه

عالمه ستر ګو ته ئی ګوریء
ګا په بانه ئی لاسالو و تلی دینه



Ketabton.com



دافسانی آواز                ۲ر۲۳۴۰



# سروکی

الله جاردی شم جاردی شم جار
ستا پره رب دی راوله زما یاره

ستا پرتیا په کرارۍ کړه
پښتنه پیغله دی په پټ کې نا ستا یمه

ستا پر مه وژنی خاونده
په زنکدن کی یا دوی خپل وطنونه
لالی دعمره ستا پردی
زړه ئی زما په زلفو بند دی را به شینه


* * *

Ketabton.com



Ketabton.com


د طلامحمد آواز ۲۶۷۳ ر م



# ترانه

رعنادی وي زیبادی وی په ټولو کی اعلی دی وي
زما د باغ گلونه

شوخ چشمه د نرگس په شان خوشبویه خوش هوادي وی
زما د باغ گلونه

* * *

Ketabton.com

سنبل دی وي سومن دی وي ۔ ډیوه دانجمن دی وي
شهکار د لوی قدرت دی وی ۔ حصه د دی گلشن دي وي

هر هاي کې یکانه دوخت زودر سه اورسا دی وي
زماد باغ گلو نه

د عشق په میو مست دی وی ۔ دا برخه د الست دی وی

څو دا جهان وي هست دي وی ۔ په وصل کې پیوست دی وي

صادق او فدا کار رښتنی د دی وطن دوادی وي
زماد باغ گلو نه

زماد باغ گلو نه دی ۔ دا بی بها لعلو نه دی
د عشق د سینه موجو نه دی ۔ د مینې تول رازو نه دي
پیرزو می په بل چا نه دی زمادی وی زمادی وي
زماد باغ گلو نه



Ketabton.com



د طلا محمد آواز — ۲۵۸۷ره ۵


# غزل

د صبا باده گذر په چمن بیا کړه
په چمن کې رنګارنګ ګلونه وا کړه

زه دې توان د خرخشو لرلی نشم
که دې زړه زما په مرګ وي دا ادا کړه

خوله مې ډکه شوه په شاتو په شکرو
چې سحر مې ستا د لام او بې ثنا کړه

زه خوشحال کمزوری نه یم چې به ډار کړم
په ښکاره ناری وهم چې خوله ئې را کړه



Ketabton.com



## د طلامحمد آواز

۱۲۸۳ر۱

دما ښام په ترو پرسی کی    دافق لمنه سره ده
د شنکی آسمان په خندا    خه رنګینه کناره ده

دا زما د زړه تصویر دی    د آسمان په شنه لمن کښې
زما د مینې نښا نې دی    پاس د ستورو انجمن کښې

دا سور اورد ښیلتا نه دی    که لاله دی د سارا
د مجنون د زړه ټوټې دی    که سری شونډې د لیلا

پښتنې پیغلې ګیس دی    که د هجر دی اوږو نه
یا لمنو کښې راخیستی    د هاتی نجو نو ګلونه

که پتنګ د عشق لتاوه    زخمی شوی په ځګر دی
یاد مینې په چمن کی    د مین با یللی سر دی

نه دا زما د زړه تصویر دی    د آسمان په سره لمن کی
زما د مینې نښانې دی    پاس د ستور وانجمن کی

Ketabton.com



دطلا محمدآواز

۲۳۷۹

# لوبه

چمن سمسور شو دسرو گلونن پری‌وار راغی    نوی بهار راغی

* * *

غرونه رغونه گوری    سره‌سره گلونه گوری    میلی سیلونه گوری
نن په وطن کی‌ښه‌موسم دگلزار او بار راغی    نوی بهار راغی

* * *

وطن گلزار وینمه    ستر گی‌دیار وینمه    ښکلی‌انوار وینمه
مین په مینه‌دوطن هغه ملیار راغی    نوی بهار راغی

* * *

شنیم په گلو راځی    غږد بلبلو راځی    بوی‌د سنبلو راځی
په‌خوشحالی سره‌می‌څنګ‌سره‌دلدار راغی    نوی بهار راغی

Ketabton.com



دطلا محمدآواز

۲۳۱۸ر۲

# سروکی

راشه ښنګړی والی    ستا د ښنګړیو شرنګ مې زړه ټکور وینه

ګلې ښنګړی والی

زما په مینه وفا داری    در پسې تل له سترګو اوښکې تویوومه

د تورو سترګو دې قربان شم    چه ئې راواړوې له ما واخلي غمونه

راځه چه لاس تر لاسه ئیسو    نور به د غم په ځای خوښی خنداګونه

[illegible] شعر



Ketabton.com



د طلا محمد آواز

۲۰۷۶ر۲

# غزل

دا د یار د زلفو بوی دی که د سرو ګلو وږمه ده
پلوشې د لمرخپری دی که ئې مخ بلا لمبه ده

نو هیبرم څه اثر دی چه دماغ پری معطر دی
د عطرو نو جوړ بازاندی که د استاد مخ خوله ده

غونچه نه ده د ګلونو چه نسیم ده خندولی
په سرو شونډو د محبوبی د خندا اهاله خوره ده

دا تار و نه د رباب دی چه په سوز سره ژړیږی
او که نه په بیلتانه کی د کوم سوی زړه نغمه ده

مدهوشی ده بیخودی ده په مستی ده په محفل کی
که د عشق ګرمجوشی می تل تر تل زړه کی پرته ده

د ارسګرالی سحر

Ketabton.com


د طلامحمد آواز ۱۸۷۱ ر ۱

# دوطن ترانه

مونږه افغانان یو راته ګران دی خپل مسکن زمونږ
دا ښکلی وطن زمونږ دا ښکلی وطن زمونږ
مونږه بلبلان یو دا سوګل او دا چمن زمونږ
دا ښکلی وطن زمونږ دا ښکلی وطن زمونږ

* * *

مونږ خپلواک ملت یو حریت او آزادي لرو
ژوندا وخپلواکی لروژوندا وخپلواکی لرو
لوړ مودی بیرغ مونږ ئی په سیوری کی ښادی لرو
ژوندا وخپلواکی لروژوندا وخپلواکی لرو
ساتو په سرونو له خزانــه دا ګلشن زمونږ
دا ښکلی وطن زمونږ دا ښکلی وطن زمونږ


* * *

هسک زمونږه غرونه په کی پټی خزانې زمونږ
لویی کارنامی زمونږ لویی کارنامی زمونږ
سوله ورور ولی ده په جهان کی ترانې زمونږ
لویی کارنامی زمونږ لویی کارنامی زمونږ
چارشه له ملي ناموسه مال دی او که تن زمونږ
دا ښکلی وطن زمونږ دا ښکلی وطن زمونږ

* * *

مونږه افغانان یو

د طلا محمد آواز




Ketabton.com

د طلا محمد آواز                                        ۱۷۱۳ ر ۱

# غزل

نن چه له ورایه پهخندا ده نواوس دا بهڅه شی
زما په ژبه مه عاده نـو اوس دا به څه شي

په انتظار او په وعدو کی خوشهی نیسی تیریدی
خونن وعدهٔی چی رښتیاده نواوس دا به څهشی

هغه خو لاړه شوه فنادی غرقو ډکو سترګو
چی پهدی اوښکو کی همداده نواوس دا بهڅه شی

د خپلو پیغلو ولولو په زلزلو کی راغله
دلته می سیمه په هواده نواوس دا بهڅه شی

• • •



Ketabton.com



د طلا محمد آواز ۱۵۲۶ ر ۲

# غزل

چې ئې له نازه په سرکو شونډو خندا خوره شوه
بیا د مین زړګی په کور باندې سودا خوره شوه

چې ئې غماز ته په غمزو له نازه وکړ نظر
زما د مینې په جونګړې باندې تالا خوره شوه

له هرې خوا نه ورته سترګې شوله د نیا
چه آوازه ئې په عالم کې د ښکلا خوره شوه


نسیم ئې زلفو سره لوبې او مستې کړې وله
په دغه وخت کې د حسرت لړزه په ما خوره شوه

د ښو لاندې چې حافظ ورته په خندګ وکتل
یوه نرۍ غوندې پرده پرې د حیا خوره شوه

• • •

Ketabton.com

دخیر محمد خندان آواز
۲۳۸۲ ر ۳



## غزل

راشه په‌خنداصنم عشق کی‌دی کړیږمه
مـکـوه جفـا صنم تـا پسی ژړیږمـه

* * *

شان سی‌د مجنون شولو ته‌ولی لیلا نه شوی
حال سی‌د یرز بون شولو ته ولی پخلا نه شوی
اوردی لګولی دی زه په کی سوزیږمه
مکوه جفا صنم تاپسی ژړیږمه
ته زما شیرینه ئی زه دستا فرهادیمه
ته‌هم نازنینه‌ئی ستا په دیدن ښادیمه
لږ رحم په ما وکړه زه در نه جاریږمه
مکوه جفا صنم تاپسی ژړیږمه
ته که په‌ځان شمع ئی زه دستا پتنګ‌یمه
ځان به په‌اور وسوزم ستادر ملنګ‌یمه
دا دی د مین قول نه در نه بیلیږمه
مه کـوه جفا صنـم تـا پسی ژړیږمه

Ketabton.com


دخیرمحمد خندان آواز ۲۵۸۸ ر ۵

# لو به

راځه ګرانې چه ورشو د ګلشن و ګړو سیلونه
پسرلی په وطن راغی بڼ کی خاندی سره ګلونه

• • •

پسرلی په وطن راغی هره خوا جوړی میلی دی
خندا ده خوشالې ده نوی نوی ننداری دی

د بر خوند ګړی اتڼونه دی سازونه دې نغمې دی
راځه چې زه او ته هم سره و ګړو دید نونه

• • •

پسرلی په وطن راغی غوړید لی سره ګلان دی
د مینی په نغمو ګډ شوې واړه بلبلان دی
میلوته مینان غاړه په غاړه ځي روان دی
راځه چې زه هم ستا په غاړه واچووم لاسونه

• • •


پسرلی په وطن راغی شه له ما سره پخلاته
راځه په مینه مینه ځنګ ته راشه په خندا ته
رنځور زه شرفیاریم و ګړه ما سره وفا ته
مین یمه پرتا راکړه د مینی ډک جامونه
پسرلی په وطن راغی بڼ کی خاندی سره ګلونه

Ketabton.com



د اسدالله آواز

۱۷٦۲ر٦



# سروکی

د نجلی ونه د چنډ رو دتورو زلفونه ئی پریو بوی راخپره
کړه و پرشوه

کور دی په ښنو ونو کی پټ دی

لاسونه جګ کړه د ښنو ونو په سرونه
دیدن په سپینه سپوږمی خوند کړی

چی په واړه مخ باندی و شماری خالونه

زما د زړه باغچی وچېږی

تا د دیدن او بوته وا چول پندونه

تو تی توتی زړه به راټول کړم

په تا خواره لاسونه د راټول ومه

Ketabton.com



۲۵۹۶ر۵

د اسدالله آواز
د خدمتګار شعر

# غزل

دزړه ارزو می شوه په نوی تمنا بدله
چی په هوا کی تغیر راغی شوه فضا بدله

د نوی کال د نوبهار د هر ګلی د پاره
دیار په شونډو کی ښکاره شوله موسکا بدله

اوس خویخ تیر دی نواختر دی مبارك شه آشنا
په غرولو سترګو و ګوره د نیا بدله

بوټی له خاورو نه تو کیږی ګل له بوټو څنی
پردو له اوخی مستوری ده تقاضا بدله

دژوند سرود نوی آهنګ نوی مقام غواړی
چی خدمتګاره په نغمه کی شوه نوا بدله

Ketabton.com

داسدالله آواز ۲ر۱۳۰۶

# دغرو سرکي


د محبوبې په باغ کښې جوړې ننداري دي
گل پرې شکوي ښنگولې ئې سرې دي

د مسافر وړلي راغلي
په دروازو ورته ولاړې معشوقې دي

نن ئې ډولې ښنګې په سر دي
داکاغذي شونډې ئې گوره ښنگه سرې دي

ښنګړیو د ګلې لیچې خوند کړی
د محبو بې لیچې ښنگړیونې د رنې دي

دغازي جان غوښې په سېزي
د محبوبې خماري سترگې سرې لمبې دي



Ketabton.com



داسدالله آواز ۱۹۷۱ر۲

# سروکی

دتورور بل‌مخی ته‌سه نیسه لاسونه
چی‌زه دی شمار کړم دانه‌ی زنی خالونه

په‌مادی ځان دانځر گل کړ
بوی‌دی راځی گل دی‌په سترگونه وینمه

مین دی کړم خوله دی رانه کړه
خدای دی په‌داسی یاری‌اور ولگوینه



Ketabton.com



داسد الله آواز

۱۷۰۶ر۳

# سروکی


جلکی روانه ده‌سری او به‌راو رینه
داتورپیکی ئی‌منله یر شمال‌و هینه

* * *

ولاړه مه را پسی او سه
که‌د دیدن نصیب می‌و شی‌د ربه شمه

زخمی زخمی یم جوړ به‌نه شم
څو چه‌را نکړی‌د سر کوشونه‌و سرونه

دیدن په سپینه سپوږمی خوند کړي
چه‌په‌واړه مخ نی‌و شمیری خالونه



Ketabton.com



داسد الله آواز

۲ر۲۳۷۳

# غزل

باغ وی دګلونو په کی ناست وی زه اوته
ګل وی غوړیدلی با ندی ملاست وي زه اوته

زیړه زعفرانی شوي یا ګلګونه معطره
لاس تر لاس نیولی سره زغاست وی زه اوته

سپینه خوله دی را کړی پیامی هم در شخه غوښتی
نور خواستونه نه وی خودا خواست وی زه اوته

تل سی درد او غم وی دزړه کاست او مهرمینه
تل په داد نیاد اکم او کاست وی زه اوته



Ketabton.com


داسد الله آواز

۵ر۲۳۰۹

# ترانه

راځی په مینه د وحدت ور کړو لاسونه     په وطن و کړو ګلونه

• • •

دا کړان وطن به آباد یږی     بیدار شی د ظلمو
په ځوانو نو هتو به جوړ یږی     بیدار شی د ظلمو

دوخت نغمو راوړي نوي پیغامونه     په وطن و کړو ګلونه

• • •

راځی د په کار او حرکت     جوړ یږي وطن

په ټینګ ایمان او صداقت     جوړیږی وطن

شی په کلک عزم به ترسره امیدونه     په وطن و کړو ګلونه

• • •

شرفیا روائی ای ملګرو     عمل په کار دی

لاړو وخت تیر شود خبرو     عمل په کار دی

راشی د عمل میدان کي واخلي قدمونه     په وطن و کړو ګلونه

Ketabton.com



داسدالله آواز ۱۳۵۸ ر ۲

# ترانه

افتخار چه په ټول عمر د افغان دی
چه له سراو ماله تیر پری زوړ او ځوان دی

په راتاوئی چه وطن زموږ ودان دی
پر عظمت ئی لوړ زموږ ملی نښان دی
لوی نعمت زموږ په برخه دازمان دی
دافغان دلوئی ښکلی ارمغان دی
دا زموږ دزړه قوت دی دا زموږ شان او شوکت دی
دا زموږ جمهوریت دی دا زموږ جمهوریت دی

• • •

چی پری زړونه په هروخت کی تازه کیږی
گران وطن چی پری زموږ ه ودانیږی
چی موهیلی پری مودام ترسره کیږی
چی د هر افغان ارمان پری پوره کیږی
چی کاروان دهیلو سرته پری رسیږی
چی جذبه پری دحق زړه کی راپاریږی
دا زمو پ دزړه راحت دی دا مونږ ته دغیرت دی
دا زموږ جمهوریت دی دا زموږ جمهوریت دی

Ketabton.com



داسدالله آواز

۲ر۲ر۳۹۵

# دنارنج گل

گل د نارنج د ننګرهار دغا ړی هار شو
فصل د بهار شو فصل د بهار شو

بیا د نارنج ګلان غوړیږی
پسرلی د ماغونه تازه کیږی

په تور او ربل کی د ګلو نوجوړ کتار شو
فصل د بهار شو فصل د بهار شو

د پسرلی وږمی چلیږی
وطن په مینه ا باد یږی

بزګره پاخی چه اوس وخت د کار او بار شو
فصل د بهار شو فصل د بهار شو

وینی شوی مستی په رګو کی
احساس راوینښ شولو په زړو کی

غرو اله لر او بر وطن ګل او ګلزار شو
فصل د بهار شو فصل د بهار شو

Ketabton.com



درحیم مهریار آواز ۱۲۳۸۹ر۱

# لو به

د گلو خانگو نه گلو نه شکو و مه

امیل تری جوړوو مه جانان می راروان دی

په ما را غلی نن بهار دی

په خوشالی وطن گلزار دی

په ډیره مینه د هر گل سلام کوو مه

امیل تری جوړوو مه جانان می راروان دی

• • •

زه د لیلاد باغ باغوان یم

مین په گل او گلستان یم

په سرو گلانو کی شپی سبا کوو مه

امیل تری جوړوو مه جانان می راروان دی

Ketabton.com



د رحیم غفاری آواز

# غزل

هر نگار چې بې وفا وي نگار نه دي
په گلزار کې چې گل نه وي گلزار نه دي

که روزگار دې په جهان کې عاشقي ده
ددې نورعالم روزگار خه روزگار نه دي

دخپل یار وصال دخدای په داد مونده شي
دغه کار مې دهیچا په اختیار نه دي

په رحمن بانډې منت دمعشوقو دې
دبې حسنو معشوقو منت بار نه دي

Ketabton.com






# لوبه

ژاړی نازولی پهٔ خانی داوښکو ملغلری تویوینه ژاړی
سترگی ئې بیا په ژړا سری دی

اوښکی ئې مړی په مخ خوری دي

په او سیلومی دزړه مینه ورانوینه ژاړی
لاس ئې دی زنې ته نیولی

گلابی رنگ ئې تښتیدلی
وړی سلگی دمایوسیء راته وهنیه ژاړی



Ketabton.com




دز رځانګی آواز ۱۸۳۰ر۲

# سروکی


اوس به لاسېوزن ور ګډ ووم خوله به شند مه
چې ګوتهمی ولویده کوهی ته

عالمه مینه مینه نشته
سودا ګری ده یوتر بله ئی خرڅوینه

لهسین نهپوری یاری مکړه
یا بهباران وی یا بهتوی راغلی وینه



دحکیم نور آواز ۹۷ ۱۴ ر ۵



# سروګی

راشه چه وګړو دید نو نه
وړی ننداني لري وطن دی

سبا به باروی کاروانونه
وړی ننداني ورو ستی دیدن دی

* * *

دمینی ننګ دی ماته راکړل
په لیو نتوب زما خبر شول عالمونه

یا به دی ښنی کمر بند کړم
یا به زما په وینوو وهی خالونه

افسوس افسوس ارمان دی یاره
چه زما ستا په منځ کی و دریدل غرونه

* * *

Ketabton.com

دمسحور جمال آواز ۱۲۱۳ ر ۳

# دوطن ترانه

ای هیواده دافغان خوږه هیواده
زمونږ پته زمونږ عزته تل آزاد اوسی آزاده

* * *

ستا له هری تیږی لا ندی عظمتو نه و یده شوی
ستا دخاوری په سینه کښی تاریخونه ویده شوی
کله ستر گی ویدی شوی کله زړونه ویده شوی
اوس دی وینو په هر گوټ کښی عظمتو نه بیداریږی
ای هیواده دافغان خوږه هیواده

تا ریخو نه بیداریږی و حد تو نه بیدا ر یږ ی
سره یو شی و طنو الو وخت روان دی نه ودریږی
سلاوی و تږی در جار شم دغه شاړی آ با د یږ ی
دانسان زحمت او کار ته آ سما نو نه ښکته کیږ ی
اوس دی و ینو په هر گوټ کښی عظمتو نه بیداریږی
تار یخونه بید اریږی وحد تو نه بید ار یږ ی
ای هیو اده دافغان خو ږه هیو اده

مونږ ه ټول یو سره ور و نه د او طن زمو نږ ه کور دی
زړه مو ډك دده په مینه سر موډك د ده په شور دی
هم مو پلار دی هم مو مور دی هم مو کور دی هم مو گور دی
اوس دی وینو په هر گوټ کی عظمتو نه بیدا ر یږ ی
ای هیو اده دافغان خو ږه هیو اده

* * *

Ketabton.com



دشهروان آواز ۱۲۵۸ ر ۱

# غزل

لاړه نن بیا دحرم پر یوارهٔ زیبا نګاره زیبا نګاره

* * *

زړه می په اور د هجران جل او بل شو بیلتون ئی ما ته بی وخته اجل شو
یم دعمرو نوله غمه بیماره زیبا نګاره زیبا نګاره

* * *

راشه په سترګو می کیږده قدم زه دی سلوك ته بدری دحرم
خلاص می که نوردی غم له ناتاره زیبا نګاره زیبا نګاره

* * *

څی می له سترګو نه اوښکی مودام ژوندمی تیریږی په داسی ناکام
وینی می څاڅي دزړه له پرهاره زیبا نګاره زیبا نګاره

* * *

Ketabton.com


۲۲۴۴۲ ر ۲

داسمعیل آواز



# غزل

سترگی می خوږیږی خو ژړندیږی نه
ستا په غم کی پټی دی غړیږی نه

اوښکی می شوی ډنډ په سترگو سترگو کی
دا خولوی دریاب دی چی وچیږی نه

ته چی په شالاړی زه دی پریښودم .
هرڅه به می هیر شی دا هیریږی نه

نن به ورته بیا زه په جرگه ورشم
خیر دی حاجتمند په دی څه کیږی نه

* * *

Ketabton.com



## د فضل غني آواز

۳ر۱۳۹۷



### لوبه

پـه کور او کلی کی رسوا شومه جانانه  مرمه بی لتا نه
صنم تـه مـکـوه گیلی قصی لما نـه  مرمه بی لتا نه

* * *

خلک خبر شو لا خبر یږی پسی  مجرم د مینی شومه
جرگه د غیر غماز جوړیږی پسی  مجرم د مینی شومه
د بل په فکر کی گناه شوی لما نه  مرمه بی لتا نه
صنم رقیب ځنی ډا ریږمه زه  چه ځان جدا نه کړی ته
لیلا د تا پسی زو ریږمه زه  چه ځان جدا نه کړی ته
گیله می نه شی په دنیا کی نور له چا نه  مرمه بی لتا نه

* * *

له ځانه زیات زړه می غمگین دی په تا  چه ځوک ازاردی نه کا
فضل غنی ما ستر مین دی په تا  چه ځوک ازار دی نه کا
الله دی خیر کړی عاشقیء کی په ما گرانه  مرمه بی لتا نه

Ketabton.com

دفضل غنی آواز ۱۷۲۷ ر ۷

# غزل

ستورو دآسمان مې دجانان دیدن کولو
نیمه شپه کراره دیار مخ مې ځلید لو

• • •

شکلی نسیم پورته کړ نقاب مې دلیلا دمخ
سپینه دسپوږمې رڼا شوه پورته داشناد مخ
زړه مې ورته مینې په کوګل کې پارولو
نیمه شپه کراره دیار مخ مې ځلید لو

• • •

راغلی پتنګانو دلی مخ د محبوبا لره
ستوري په زاریو سرشو سترګې د سبا لره
راوړې بلبلانو ورته سرې غونچې دګلو
ستورو دآسمان مې دجانان دیدن کولو

• • •

زلفې زرزرې دماه جبینې پیچ وخم شولې
سترګې خمارې مې دجانان رقم رقم شولې
داو یده غونچه وچه ماستر غزل لیکلو
ستورو دآسمان مې دجانان دیدن کولو

• • •

Ketabton.com



د رحیم غمزده آواز ۲۳۰ ر ا

# د عشق لیونی

عشق لیونی کړم شکلی سی جانان دی
ګرځم لیونوسره څیری می ګریوان دی

• • •

هری خواته ګورمه ولاړ قیبان دی
خوارو زار لەدوی نەواړه عاشقان دی
وکړ مه خه چاره سخت زما ګذران دی
ګرځم لیونوسره څیری سی ګریوان دی

ووتم ودانی نه ګرځمه په ښاره
خود دلیو نوسره زه شومه همغاړه
اوس می لەنا ګامه سرپه بیابان دی
ګرځم لیو نو سره څیری می ګریوان دی

زړه کی چی را یادستا هغه تور چشمان شی
یاخوری په مخ زلفی یا سرکی لبان شي
ډوب په تصور کی هیررانه جهان دی
ګرځم لیونوسره څیری می ګریوان دي
نشته په خوبانو کی داسی بل دلبر دچا
نه وینم د نیا کی زه داسی بل بشر دچا
وائی غمزده رحیم سرسی تری قربان دی
ګرځم لیونو سره څیری می ګریوان دي

Ketabton.com


## درحیم غمزده آواز

۱۳۱۰ ر ۱

مترکودجانان کښې زما شکلی جهانونه دی
وادی خله دنیا زه و ړی ستا ددنیا نه یمه

* * *

کوره دفقیر کچکول کی تاج دسکندر ردی پروت
زه یم دسخیانو دشومانو گدا نه یــــمه

* * *

زه ئی په غرور ردرنه دمینی په نوم غواړمه
زه ملنگ بی نیا زه ستادویر واویلا نه یمه

* * *

هغه مستی غواړم چه ئی مرگ نه شی وژ ای
زه دی دغمــونو دپیگا آو سبا نه یمه

* * *

یودسپوږمی شاڅکی ما له تیکټه دجانان را
زه یم دخوبونو دلالونو گدا نه یمه

* * *

Ketabton.com



## دسارا ځلاند آواز



# سروگی

ورو ، ورو ساروانه      او د خیال کجاوی
ورو ، ورو ساروانه      او د لړی لاړی

* * *

جانانه راشه چه پخلا شو
دنیا فانی ده مرگی شته جدابه شونه
ورو ، ورو ساروانه      اود خیال کجاوی
ورو ، ورو ساروانه      او د لړی لاړی
ولی د لگیر ولاړی یاره
دلگیره زه یم چه دپلار له کوره ځمه
ورو ، ورو ساروانه      او د خیال کجاوی
ورو ، ورو ساروانه      او د لړی لاړی

Ketabton.com



د مسجدی آواز ۱۳۲۴ ر ۵

# غزل

افسوس افسوس زما په حال چی سی ارمان پاتی شو
لکه د گل په شان نازك مخ د جانان پاتی شو

• • •

د ځنکدن اخر سلگی ء دی ترما را شه یاره
دا دو اړه سترگی می نیولی ستا دیدن د پاره

درقیبانو په لمسون شولی له ما کناره
په اخرت کی ز ما لاس ستا په گریوان پاتی شو

د جنازی کټ ته می چغی کړه چی لاړی اشنا
سهار د وخته می په قبر راته و کړه دعا

زما په شناخته باندی و کړه دزړگی تسلی
زما د قبر خاوری تاله یو نښان پاتی شو

د ستا د سترگو په گوا ی زړگی زما شو قلم
له سترگو اوښکی تو یوم لکه باران دم په دم

که را له راکړی دوائی د سرو لبانو ملهم
له مسجدی ځنی اخر دغه جهان پاتی شو

Ketabton.com



د مسجدی آواز ۱۷۲ ر ۱

# سروکی

جنگی دلی د ای لاړی ای وری لیلو ماز دیگر دینه
منگی راواخله ژر شه برگودرته ځو نه ماز دیگردی

• • •

اول می فکر درته نه ؤ
اوس می دزړه متنی کېږی در پسی دینه

تیکری ئی تور په مخ راخور کړ
لکه سپوږمی په وریځ کی دوبه دوبه ځینه

چی ماز دیگر پری شه بنکار یږی
هغی جلی ته مور منگی نه ور کوینه

رباب زما په لاس کی راکړه
زه می دخپلی ځوانی ویر په کی کوومه

• • •

Ketabton.com



د گل خانگی آواز ۳ر۱۸۸۵

# سروکی

دچارچاپیر په کلی بل شومشالونه جانه گله شال میروښان دی


ټیک می په وربل وهی تالونه

گوره چه وار دی خطا نه شی

دگلوخانگه دی په سر ولاړه یمه

یوځلی بیا په دیلار راشه

چه په ما ورانه دنیا بیا ودانه شینه



Ketabton.com



دخان تحصیل آواز ۳ر۱۸۷۰

# لوبه

د لیونو په شانی زه لیونی شوم در پسی
جانانه مرم در پسی جانا نه مرم در پسی

• • •

دلیونو غوندی بد حال گرځم دیدن پسی لیوال
سر دی راپورته کړه په خیال
له سترگو اوښکی تویوومه دم په دم در پسی
جانانه مرم در پسی

زما له سترگوځی رودونه چاته ښکاره کړمه حالونه
هیڅوك می نه اوری عرضونه

د ننه زړه کی زخمونه تیروم در پسی جانانه مرم در پسی

زخمت په ما باندی تیر یږی وارمی خطارنگ می زیړیږی
زړه می لتا نه نه صبریږی

لکه ما شوم دنا پوهی ساگی وهم در پسی جانانه مرم در پسی

دآغامحمدآواز ۱۶۱۱ره



# بابولالی

نجلۍ په سينه دې شفتالو دی دا يو شفتالو راکړه
نجلۍ در نځور سړی دارو دی

* * *

تردې نجلی مکاره بله نشته
درو د له هغې غاړې لستوڼې ښوروی لاس په کی نشته
تر پاڼ لاندې مې ځالې جوړ ولی
دا پاڼ را باندې رنګ شوز ما ولاړی ئې خونی ورانی کړلی
د چيت کميس دې غاړه سو لوينه
ما ته شين کنياو يز راوړه په سره کی مې غماز تل ځوروينه

* * *

Ketabton.com



دشرین آواز ۸ر۱۳۹۷


# سروکی

تور وربل ئی ولونه‌ولونه ځینه      دګلو لوکوینه د ګلو

د بام په سر ولاړی جلی      مرګی‌دی هیردی په‌وربل وهی لاسونه

هروخت په‌تورو سترګوژاړی      نن‌خو په‌سپینه خولی‌نی وخانده په‌مینه

مین سر تور ولاړ دی      لیلا په سپینه خوله خنداو رته‌کوینه



Keta[redacted]n.com



دشیرین آواز

۹ر۱۵۸۸

# سروګی

ستر ګی تور وینه ځان جوړوینه لیلا دیار دیدن ته ځینه

په سره سالوکی ګناه نه شته
ګناه جلکی کی ده چه رنګه بنکه ځینه


[redacted]

دا سخامخ ناستی دی مه کړه

ستا دچار ګل غمی می ستر ګی پر کوینه

که دیدن کړی بیره راو کړه [redacted]

د نجونو جمعه دګود رغاړی ته ځینه



Ketabton.com



د شیرین آواز

۸ر۱۵۳۴

# سروکی

سری شونډی توری ستر گی هسکه غاړه

لیلا گودر ته لاړه لیلا

* * *

ستر گی دی د اسی ښا ئسته دی لکه ببری توری غوټی نیولی د ینه

د جلکی و نه د ببری ده وړ کو و نه کړل د ببری لاندی خو بونه

خاو نده بیا دی ساز دیگر کړو جلکی د خیال سنگی په لپوړ کوینه


خدایه په څه طبیب می سر شو رنځور می زړه دارو د ستر گورا کوینه

Ketabton.com



دمدمدی آواز

۵ر۱۲۸۳



# ترانه

داوطن داښکلی ښکلی زیبا وطن داوطن زما وطن دامی د بابا وطن
دارا باندی گران دی د افغانستان دی

* * *

ستا بلخ و بخدی او دا د بست برم و عظمت چی دی
لوړ شان او شوکت چی دی

ستا زابل کابل او د پامیر داسر او چت چی دی
لوړ شان او شوکت چی دی

Ketabton.com



ستا تخارستان داتلانولوی قوت چی دی

لوړشان او شوکت چی دی

داام البلاد دنهضتونودجهان دی      داافغانستان دی

* * *

داخاوره تاتوبی دغازیانو دغوریانودی      فخردسوریانودی

دلته غزیدلی عالی دوردلودیانودی      فخردسوریانودی

دلته رپیدلی لوړبیرغ دغزنویانودی      فخرد سوریا نودی

بیت نیکه فولاد کروړدی بیل بیل ثناخوان دی

داافغانستان دی

* * *

گرانه افغانستانه څه ملت چه دافغان یو      ټول درنه قربان یو

نر او ښځی واړه ستا د شمعی پتنګان یو      ټول درنه قربان یو

بیا ستا ترقیءته موتی شوي زوړاو ځوان یو      ټول درنه قربان یو

ډیره ترقی دی د سیلاب دزړه ارمان دی      داافغانستان دي

Ketabton.com



دمه‌دی آواز

۵۱۵۹۲ ر

# سروکی

باغ دی یم باغوانه الله باغ توتیا نو اوت که سبا کم له خیالی باغه لیلو

باغ دی یم باغوانه

• • •

گلاب نرگس نه بو کای کیږی

مادا شنا په مخکی دواړه و لیدنه

گل دی چه را کړ په خندا شوی

زه دی له گله په خندا خوشحاله یم

پاس په کمره ولاړه گله

نصیب د چا ئی او به زه د رخیجوو مه




Ketabton.com



## د عزیز آواز

۱۳۱۲ ر ۱



راځه محبوبې شال دې را واخله چه د ګلو سېل ته ځو نه

* * *

په زړه مې نوې اندیښنې دي راځه
د بېلتانه بدې کانې دي راځه

راځه محبوبې د عاشقۍ په لار کې ډېر دې ګړاونه راځه

* * *

Ketabton.com



غم می دځانه سره مل دی راځه
زړګی می وړی تور و ربل دی راځه

راځه محبوبی ده یرمی یاد یږی ستا دزلفو ځنځیرونه راځه

* * *

د خوږی سینی لیونی یم راځه
د ستا لـه سره سپیلنی یم راځه

راځه محبوبی که را په خوله کړی د سر کوشونه وسرونه راځه

* * *

ته چه له نازه په خندا شوی راځه
دژوندون شپی ته می رڼا شوی راځه

راځه محبوبی غم یا رته ورکړه دخپل وصل شربتونه راځه

* * *

دجمیلی آواز ۱۷۷۱ ر ۱

# لوبه

روح مې له تنه کشوی هغه زیبا صنم    څه کوی په ما صنم
اور را لګوی

• • •

ماویل سفته عاشقی به وي اسانه    چه ورحمله مې کړله اورته ناګمانه
هلته مې جوړه شوه د غم خونه و دانه    زن ئې له ځانه جلا کړی یم رښتیا صنم
څه کوی په ما صنم    اور را لګوی

چه ګل ګلاب ته و ګورم زړه مې نری شی    وماته هلته را په یاد هغه غمی شی
چه نا ارامه شمه هلته مې زګیروي شی    په ما ئې وخندول خلک شا او خوا صنم
څه کوی په ما صنم    اور را لګوی

• • •

د جمیلی آواز ۱۷۸۲ ر ۳

# سروکی

په بلی ګرځم لیونی لاری څارمه آشنا به وګورمه

* * *

زړه می په خپله یار ته ور کړ مینی مجبور کړم اوس زاری ورته کوومه

په لاری ځم ټوله زنګیږم له خوبه نه یم دیارغم می زنګوینه

څراغ ته ګورم را په یاد شی خوله چی خندا ته جوړوم ژړا راځینه

* * *



Ketabton.com



دمکیش پر ان آواز ۱۳۳۸ ر ۱۰

# غزل

رنګ شوزیړترزر زما او ښکی د رو ګوهر زما
ګبر ګا دلبر زما نه اخلی خبر زما

صبر می دزړه نه ځی نور می دلیمه نه ځی
ولی پیاله خندګ نه ځي دا ښکلی دلبر زما

هر چه راته تا ویل زما منل
بی له محبته بل هیڅ نه شه هنر زما

ژاړم معزالله همیش کړم ژړا او آه همیش
غواړم خپل د لخواه همیش نه راځی ترورزما

* * *

Ketabton.com



دایوب آواز ۳۱۲۱۷

# سروګی

ما نهو ګلی یا ران وریږی مستی قلندری کاروان باریږی


* * *

ستا د ګیلاس په شان غړی ده زما شړی به دستا ګله خوښه شینه

د نجلی سرو منګولو وسوم ربه تالا ګړی د ګریزو د کانونه



د غازی محمد آواز    ۲۱۹ ۱ ر ۲



# غزل

لاره به د ژوند داور په ښنګ ساتم    پټ به د عشق راز لکه پتنګ ساتم
دا صحنه که ډیره هم خونینه ده    سترګی به می ستا سره په جنګ ساتم

څوچه لونګین دی په سینه زانګی    زه په مات کچکول کښی به لونګ ساتم

ستا له شوخو سترګو فتنه ګرو نه
زه کمین به څنګه نام و ننګ ساتم

* * *

Ketabton.com



٣ر١٧٩٤

دنبی هنرمل آواز

# غزل

په وچو شونه وا یښی جام به خه وی     ساقی ددی نشی انجام به خه وی ؟

ورځ خومی تیره شوه د هجر په غم     یم په سوداکی چی ما ښام به خه وی ؟


یار چی جفا کړی نو وفا به زه کړم     له دینه بل ښه انتقام به خه وی ؟

خیر که بدنام شو مه دمینی په کار     دیو بی نامه زلمی نام به خه وی ؟

ما ته خوزلفی د جانان ښکار یدی

هیڅ خبر نه وو مه چه دام به خه وی ؟

* * *



Ketabton.com



دنبی هنرمل آواز ۱۳۴۱ ر ۳

# غزل

ساقی نن بیا ستا میخانی ته درځم
ستا د شرابو پیمانی ته درځم

که په یوه پیاله بی‌خوده نه شوم
ستا د جامونو سلسلی ته درځم

شمع دی ستا په محفل بله وی تل
زه خو ایرود پروانی ته درځم

چه بد نظر پری د جانان شی دفع
زه دادخپل سر نذرانی ته درځم

چه د جانان دزلفو بوی وی په کی
زه هغه دام هغی دانی ته درځم

Ketabton.com





# لوبه

دمازد يګراو بوتهځي مستهخالداره
پهنجونو کي سرداره خيالي پيزوان ئي رنګ دي

* * *

منګي پهولي قدم اخلي شاته ګوري
ګلابي حسن ئي ساتلي دي په سيوري
نري نري دپسرلي باران پري اوري
ديدن بهئي وکړم شين خالي ده وفاداره

* * *

پيزوان مي رنګ دي ستاله غمه زمايار ه
ځاي مي جوړکړي پهپالنګ دستا دپاره
پهدروازه کي يم ولاړه ترسهاره
داځه ياري دهچهته خوب کړي زهبيداره

* * *

راځهبي غمه ترغوتي خولې مي چاپيرشه
کهديدن غواړي تهله خپله سره تيرشه
کهدروغ وائي درومهدرومه لهماتيرشه
ګوره منصورته ولي نهتښتي لهداره

* * *

پهآشنائي کي تينګ ولاړ بهائي جان دي
پهمادي کړي ولي داسي بدګمان دي
خوك چهتوبه له ياري باسي نونادان دي
دميني سوز مي معلوميږي لهګفتاره

Ketabton.com

دهیڅل آواز ۲ر۱۹۰۲

# غزل

کله به راشی په پو ښننه د بیمار یاره
عمرسی تیرشو تمامی په انتظار یاره

* * *

سحرسباو ما په خوب دیار جمال ولید
خوظالم چرګ په خپل آواز کړم رابیدار یاره


دا نوشته ده دازل چا نه ګیله نه کووم
زما په برخه به ئی لیکلی وی آزار یاره

سر په سودا عمرتمام زه ملنګ جان ګرځمه
عشق دنیا په درد او غم کړم ګرفتار یاره

* * *

د محمدعثمان آواز

٦ر٢١٧٦



# غزل

راغله دلرو با په گلشن سيل د هر يو گل کوي
زه ئې کړم بيمار اوس به نو کاله رغول کوي

وي و يل په ژبه چه شربت د وصال در به کړم
ورشه اې رنځباره دا رښتيا که غولول کوي

مخ مې د يار وليد په ځان پوه نه شوم بې خوده شوم
تېزه ده لمبه د حسن د غمې سېزل کوي

زر مخونه يو طرف ته مخ مې د يار بل طرف
سترگو کې خنجر لري او زړونه غوڅول کوي

خلکه داسې مخ باندې شيدا زه ملنگ جان يمه
گل ترينه شرميږي مخ په پاڼو پټول کوي

Ketabton.com



دملینا آواز

۳ر۱۸۶۳

# غزل

زه دی غمونه په خندا تیر وم
تر څو به عمر بی لتا تیر وم

دلبره ستا د احترام په خاطر
زه ستونه د هرچا تیروم

په یو نظر دی رانه زړه وړی دی
اوس شپې اوورځې په سودا تیروم



Ketabton.com

## دخوشخوی آواز

۲ر۱۳۱۳



## غزل

چې مې تن ملک د ختن شو زما لاله
دا اثر ګنم د ستا له خط او خاله

زه به درسته شپه ژړا لکه شبنم کړم
خاندې ته د ګل په څیر تازه خوشاله

ګله ګله به ئې مخ چیرې څرګند کړې
که دې حوره یا پرۍ دې د مخ سیاله

ژر زوال د ستا د مخ له شرمه وخوري
لمر سپوږمۍ چې ورسیږي تر کماله

که منصف ئې د انصاف په تله تول کا
قیل قال د حمید کم نه دی تر حاله

Ketabton.com



دخوشخوی آواز ۳ ز ۱۳۵۶

# غزل

زه دی وسوم په هجران تهراځی که نه راځی
لوند په اوښکو می گریوان تهراځی که نه راځی

* * *

زه دی زار شم نازنینی سودائی کړم دستا مینی
اوس راځه که حال می وینی درپه‌درخوار و حیران
تهراځی که نه‌راځی

هر ساعت یم ستا په تمه فریا دونه کړم له‌غمه
و لی نه راځـی همدمه ستاله ستر کونه قربان
تهراځی که نه‌راځی

د تسل در نسـخ طبیبه د ناښاد زړگی حبیبه
مه شـر مېږه لـه رقیبه خو به یم ستا په‌ار مان
تهراځی که نه‌راځی

* * *

Ketabton.com



دگل رسول آواز

۳ر۲۳۱۹



# سروکی

گودرته د روسی توری سترگی سره لاسونه
سرگی دی هیردی په وربل وهی لاسونه

* * *

ته خود لوړو غرو چنیه ئی
عاشقان تږی ور کوه لږ دیدنونه
گورته څه پروامی نشته
داڅه دستور دی چی په ورو ږدی قدمونه
گودر خو کلي ته نیژدی دی
داکبرجنه څی د ځنله اوبه راوړینه


* * *

Ketabton.com



## دشاه ولی آواز

۷۲ ۲۶ ر ۶



# غزل

ستا چې په کجلو سترګې! تورې دي
نن دې ارادې جوړې بیا نوردې

* * *

ما چې کومې سترګې وې لیدلې ستا
هغه سترګې نورې دې دا نورې دي
یا خو دي په لپو لپو ښکلې دي
یا دي سترګې هسې شراب خورې دي
نن په میکده کې ساقي ناسته دي
ځکه پیمانې واړه نسکورې دي
یا خو په محفل کې شمعه ناسته دي
یا شمسه! زما سترګې شبکورې دي

Ketabton.com

د شاه ولي آواز ۲ر ۱۹۵۴

# غزل

زلفې کړه خورې چه د تو بې په زړه تیاره کا
شوخې دې ککۍ کړه چه مې دو اړه ککۍ زړه کا

نه ده د اژړا دې د ریښتیا وچه سپرلی دی
گل ته خودې گوره دو ربل د پاسه څه کا

ډېر زړو نه تیرو تې ستا په سترگو غلچکو دي
خنگه د ما شوم غو ندې ساده ساده کاته کا

زه ښتنو سترگو ته نازبین زړه ور کومه
گورم چه نازبینه ښتنه ورسره څه کا

وخت د پسرلی د ی هر شی راغی د باندې
اوس به خمزه و اړه د د ېدنو ړی ماړه کا

# غزل

ستر گی دی راواړوه نشه می لا پو ره نه‌ده

اور می په‌زړه بل دی خو وتلی تری لمبه نه‌ده

زه چی ستا په مینه کی نن سوی لیونی یمه

ته چی بی پروائی کلی دا خبر مینه نه ده

هسی می خپه کړی چه ته راشی تږی پاتی شم

داد عمر تنده ده ساعت نه دی لحظه نه ده

مخ دی راښکاره کړو بیا دی زلفی پری خوری کړلی

سیوری ته حاجت نشته مهر دی لا غرمه نه‌ده




Ketabton.com



## د احمد شاه حسن آواز

۳ر۲۶۰۱



## غزل

په غرور غوکی غوړېد لی د بهار گلونه
غونچې غونچې به تولوم د لاله زار گلونه

زلمیانو بیا پری ښکلی کړی د پگړیوو لونه
پیغلو په زلفو کی ټومبلی د سینگار گلونه

په دامانو کی و رته زر کی اتڼو نه کوی
بورا په بڼ کی ښکلوی په هرسهار گلونه

د سړد رو نسیم د نوی ژوند پیغام راوړی
په کانو بوټو کی غوړیږی وار په وار گلونه

هر سبا ئی پری ملغلری د شبنم وریږی
تسله! بیا شود بلبل د غاړی هار گلونه

Ketabton.com



داحمدشاه حسن آواز

# دهنر پیغله

ساز د محبت راته غریبری نن
پیغله د هنر راته نخیږی نن

یو نظر می ستا د مخ ښایست و لید
یو جهان رڼا پرما وریږی نن

تش چی تصور ستا د ښشری و کړم
ټول جهان می خیال کې نه ځایږی نن

خوب کی می او ښکنې سترگی و لیدې
ځاځکی د ما تم پرما څڅیږی نن

ښکل می کړی خو پری سری خندنی ء شونډی
زړه می اور د مینی کی سوېزی نن

وې کتل په ناز راته ښولا ندې
ځکه می اغزی په سترگو کیږی نن

مرگ او ژوند (فنا) راته جنون ښکاري
خیال چی د لیلی راته پسخیږی نن

Ketabton.com



داحمدولید آواز ۳ر۲۶۷۳



## غزل

اشنا روح مې حصار دی ته راځې که نه راځې

بس ستا په انتظار دی ته راځې که نه راځې

یارانو پیالې نوش کړې زه یم ستا په تمه پاتې

په څنګ کې یار د یار دی ته راځې که نه راځې

یو ځل بیا درته وایمه د خوږ زړګی ارامه

مین دی ناکرار دی ته راځې که نه راځې

Ketabton.com



د پیغلی هما آواز

۵ر۲۶۶۷

# نوی ترانه

راوړه ساقي راوړه د شرابو پیمانه نوې

چنګ نوی رباب نوی د مینې میخانه نوې

نوی بلبل راغلی ښکلي باغ ته له نغمو سره


نوی شو آواز او نوی ساز او ترانه نوې

راغلل ښکلي باغ ته بلبلان په خوشحالۍ سره

رسي اوس غوږو نو ته د نوي ژوند نغمه نوې

هره خوا چه ګورمه ګلان راغوړېدلي دي

ګرځي د هیواد غرو نو رغونو کي ورمه نوې



سرگیتاهای: هما

Ketabton.com

# راوره ساقی راوره



هما :[illegible]

# لالیه درتشخان سنگاروم




Ketabton.com

Ketabton.com

د پیغلی هما آواز ۲۶۸۵ ر ا

# غزل

لالیه درته ځان سنګاروم که ته راځی
هر مخ می تورې زلفی جوړوم که ته راځی

* * *

نن بیا می د مرګو نوا رمانونو په انګړکی
ډیوی د مستی مینی بلووم چی ته راځی
غونچه د پیغلتوب می ستا په تمه مړاوی کیږی
شبنم پری تل داوښکو وروم چی ته راځی
غوټۍ غوندی موسکا کی به دی ناسته یم دیدن ته
قدم به دی په سترګو ښکلوم چی ته راځی

امیل به دی په غاړه کړم د حسن ماغلاری
لالیه اهرمنت دی قبلوم چی ته راځی

* * *

دفضل مالک آواز ۳۱۲۸۸۰

# غزل

ساقي په ستر گو کي نشې راکړي دي
ليمو کي ئي مستي دزماني راکړي دي

څواني سي زړوی نشي غمونه دجهان
ستا ميني نوی نوی حوصلې راکړي دي

همدمه رانه مه غواړه سندري دښادي
الفت راته دسوز ډکي نغمې راکړي دي
ارمان دي صد ارمان چه بوارمان نه دي په زړه
قسمت دارمانونو سلسلې راکړي دي



Ketabton.com



دپرستو آواز ۱۴۲۰ ره

# سووکی

زماجانانه‌ربدی زما که چه‌لوگی درپسی شومه


• • •

خدایه زما جانان زما کړی بوښنا ئسته دی‌بل زماپه رضاخینه

چه‌سوداوزیان‌دی‌په کی‌نه‌وی غمازه ولی پدوی دخلکو زړونه

راشه زما د سینی گل شه چه‌هرسبادی په‌دیدن تازه کوومه

• • •



Ketabton.com



د پرستو آواز ۱۹۴۹ ر ۶

# غزل

په بیلتون کی‌دی ژړیږم راشه راشه
نا آرامه تل کړیږم راشه راشه

داخه ژوند دی‌چه بی‌تائی تیرومه
د فراق په‌اور سوزیږم راشه راشه

ته‌غونچی په‌شان خندان راځنی لاړی
زه‌دغم په‌تال زنګیږم راشه راشه

خداتا صدقه بی پروا آشنا ته وایه
مظهری وائی دردیږم راشه راشه



Ketabton.com



دگلالی آو از        ۱۶۴۳ ر ۲

# دبروگی ناری

گله مکوه دقت        په مړو تل راځی زحمت

• • •

زړه می ډك د ارمانو        لکه انار د سرو دانو

اند یښنی او فکر دواړه        مړه ئی کړم دخدای دپاره

پردیسی یوغرونه غرونه        یاره پورته که لاسونه

پردیسی گاللی نشم        موری پټ ژړلی نه شم



Ketabton.com



دگلالی آواز

۳ر۱٦۳۳

# دادام خان دنیکل ناری

# ددرخانی لەخوا

ځانه خپله ځانه‌رب دی‌راوله خیالی‌ادمه گرانه

برابر راشه‌ادمه‌سپینه خوله‌دی مهمانی‌ځای دی‌دالانه

• • •

دآدام‌آسه مجنونه درته وایم‌په‌خوله‌دی وړی دزرو لومه

سباجنگ پرسپین میدان‌دی‌د دښمن پرلیمو کیږده قدمونه

• • •

چه‌او به وینم بیریږم ادی‌موری چه‌رښتیاوایم شرمیږم

دیکه‌آدم دپاره موری‌ادی‌موری‌په اوو رودوگډ یږم

• • •

Ketabton.com



دولی محمد آواز ۱۱۱۷۱۹



## غزل

مستی لیلا بیا په غاړه سور امیل پېیلی وړی
زیب کوی پېزوان دی په ژیړ تیک سی زړه ریبلی وړی

• • •

مستی لیلا بیا په سرو شونډانو سور رومال وهی
اوردی که راپوری په تندی کی شنکی خال وهی

Ketabton.com



ځی لکه کوتره په سینه دی شاباز تال و هی
تورپیکی په سپین تندی له نازه غورزولی وړی

● ● ●

مستی لیلا بیادی کړلې تا به بلبلان دباغ
ناڅی سول پرسیل درته ښاری لاری توتیان دباغ
ځی په زرغونه جستو کی ماتوی ګلان دباغ
سورشال په اوږه مردانه رنګه اچولی وړی

● ● ●

مستی لیلا بیا کړی په آئینه کی دخپل ځان سیل
یووار ګل ته وګوری بیا وکړی دپیزوان سیل

خاندی لکه زرکه آهو کړی ستاد چشمان سیل
هم د نظرتاویز پربازو بندترلی وړی

● ● ●

Ketabton.com



د سلما آواز ۲ر۲ ۱۹۷

# دجمهوریت ترانه

نن چه په جهان کې هسکه غاړه سر او چت لرو      مونږ جمهوریت لرو

زړه دا یشا کې لرغوني شان او شوکت لرو      مونږ جمهوریت لرو

سر او مال به زار کړو خو چه دا وطن ودان کړو      لوړ به د دې شان کړو

سر به د دې خاورې د عمرو سلې ارمان کړو      لوړ به د دې شان کړو

عزم پولادي باور په خپل ملت او طاقت لرو      مونږ جمهوریت لرو

دا شاړې میرې به اوس په مینه گلزارونه شي      تول ژوند به گلونه شي

هم رڼا رڼا به د وطن غرونه رغونه شي      تول ژوند به گلونه شي

لال د بدخشان جنت نشان غونډې ثروت لرو      مونږ جمهوریت لرو

اوس د مینې ډک نوی ژوندون دی را روان په مونږ
      ښه رنگین دوران په مونږ

جوړ د خوشالۍ د ملغلرو دي باران په مونږ      ښه رنگین دوران په مونږ

زړونو کې سیلا به د وطن مینه نعمت لرو      مونږ جمهوریت لرو

Ketabton.com



د گلشن آواز

۲۲۹۶ ر ۳



# غزل

زړګی مې ډک دی له غمونو حال ویلی نشم
دغه پټ راز د محبت چا ته ښیلې نشم

خندګه دی هیره کړمه مینې هیریدلی نشي
تا نه بغیر زه یو ساعت هم تیرولی نشم

تا د زلفانو په رسی باندی تړلی یمه
ځکه د مینې د سور اوره تښتیدلی نشم

خدای به دی پوه کړی که پوهیږی ای ناداره آشنا
زه یاره خان دی په پښتو نور پوهولی نشم

* * *

## د ناله آواز



# زاری

زاري ورته کړم خوجانان نه راځي
ژړاسې نه اوري ارمان نه راځي

* * *

په اور د بېلتون مې ځگــر شوایره
له خنګه مې شو تیر دل و جان نه راځي

* * *

که یو ځلي راشي ته ښکلــي لیلا
دیدن ته دې ناست یم کاروان نه راځي

* * *

دنورجهان آواز ۲۶۸۸ ر ۲



# لوبه

مادرته‌زړه‌در کړو نازبینه داپه‌ما څه کوی
روی دالله‌و منه خوږه اشنا څه کوی
تاوی دمینی منت باریم ماوی تا نه‌قربان
که یوه مینه وی نومینه دبل‌چا څه کوی
درپسی ژاړم هرسحر لکه شبنم په گلو
گریوان‌می‌خا ندی گله‌ته دچاخندا څه کوی
دیومینزړه په داغلو کی نوکوم‌ثواب‌دی
دستر گوتوره چی‌ثواب شته نوگناه څه کوی
اوردزاخیل په‌ژوندون‌پوری کړه‌خوته‌خوشاله
نن دمین زړگی آزار اخلی سبا څه کوی

* * *

Ketabton.com

د نور جهان آواز

٦ر٢٦٣٨

# سروکی

زماخیالی ور بل ته جوړ کړه تاویزونه
وىء وىء زرگره یاره

• • •

مادرته لهویل شرمیدمه
دسری ننکی سره پیزوان مزه کوینه

• • •

دغره پهسرلاتین بلیږی
یارمی زرگردی ماته ګوتی جوړ وینه

• • •


د لونګین په لړ راخیجه
پهوګی شپه کړه دچار ګل و کړهسیلونه

* * *

وىء وىء زرگره یاره



داحمدظاهر آواز ۲۱۱۳



# ترانه

تل دی وی نصیب ملی وحدت او سعادت زمونږ
داجمهوریت زمونږ
ساتو به په سراو سرو وینو دا نعمت زمونږ
داجمهوریت زمونږ

* * *

نشته دی تبعیض و اوره په نوم باندی افغان یو
یو بل نه قربان یو
گل به دغه شاړی دهیواد شی په زحمت زمونږ
داجمهوریت زمونږ
ځوان نسل زمونږ سره عالی ، عالی فکرونه شته
ښه استعدادونه شته
اوس راغلی وخت دابتکار او دزحمت زمونږ
داجمهوریت زمونږ

Ketabton.com



داحمد مرید آواز ۲۵۱۳



# سروکی

زما مینا یا فیروزه یا ملغلره ده
څه وکړم چاره څه ده مانه مروره ده

* * *

غم دی لتا ئه وفا دار دی
ته کله کله غم دی تل راسره وینه

* * *

زما دیار داسی خندا ده
دملو کالو مرور پخلا کوینه

* * *

مینا پرما ئی دومره گرانه
مین پر تا یم نازدې یرو خلکو ورمه

Ketabton.com





# سروکی

یاره نن می اوریدلی د لیلا د بنگړو
شرنگ دی

• • •

په آخرت کی به ناري کړم
زه د دنیا نه ارمانجن راغلی یمه

• • •

زه چی له خپله ځانه ورك شم
بانه می داده چی لیلا می ژړوینه



Ketabton.com

# گڵی سندری

Ketabton.com

د قمرگلی او محمددین آواز

۲۰۱۹

# دجمهوریت ترانه

دجمهوریت د یوه چه پله شوه روښانه — بخت دی را ببدار شو افغانه

* * *

تیاری پدلی په رڼا شوی — په ټول وطن کی خوشالی ده
اوس هغه توری شپی سبا شوی — لمر را ختلی رڼا ئی ده
دی دښادیء ناری او چتی له هر خوانه — بخت دی را ببدار شو افغانه

* * *

د جمهوریت دیوه بلیږی — هلی را درومیء پښتنگا نو
اوس به مومینه معلو میږی — په خپله خاوره مینا نو
لکه ایمان د وطن مینه په مو نږ گرانه — بخت دی را ببدار شو افغانه

* * *

اوس هغه وخت راسیدلی — چه ئی ارمان ؤ زمونږ زړه کی
بلی گلشن دی غوړیدلی — چه ئی ارمان ؤ زمونږ زړه کی
لکه بلبل شه په سرو گلو غزلخوانه — بخت دی را ببدار شو افغانه

* * *

ملی ارمان ور سره لیږدی — د قافلی جرس غږیږی
د زړه جهان ور سره لیږ دی — د قافلی جرس غږیږی
را پورته کیږه پاتی نشی له کاروانه — بخت دی را ببدار شو افغانه

Ketabton.com




دقمر گلی او نور جهان گله آوازونه ۲۶۵۹ ر ۲

# سروگی

گوره د لونگو د لونگوونه گوره ده
ماته ئی مه کړی لیونی پسی ر نځوره ده

روکیه! لری کوژدن وکړه
چی په گډا گډامی سترې شی ځانګونه
خاونده ما گردی کښی کړی
په توریکی به د نګریزو گیډی ورمه

دگردی غوټه ار سیره
لاس می په داورو جالوایښی سینه می ورینه



سندرغاړی :: علا احمد

# مستا مستو خمارو سترگو




Ketabton.com

Ketabton.com



دامین جان او طلا محمد آوازونه ۹ ر ۳

# لوبه

راځه چه شوغاړه په غاړه مرور مرور لالیه نور به پخلا شو

• • •

زړه دی په زړه کی راته کینوده مرور
لاس می دی غاړه لره پرینوده مرور
ورکی مانی مرکی نیژدی دی مرور
خولی نه می سوراو سیلی ستا په یاد کی لاړ مرور
مرور لالیه نور به پخلا شو
تا پسی وم په ځنکدن کی مرور
او قات می تریخ ؤ په وطن کی مرور
ومه یوبل ته خوشامن کی مرور
زړه ته می ورکړه تسلی چه نور مه ژاړه مرور
مرور لالیه نور به پخلا شو
زړکی له تا نه ئه صبر یږی مرور
ستر کو کښی ستا بشره غریږی مرور
نظر می بل خوانه لګیږی مرور
نور به ګیلی او کیسی پرېږدو مره دواړه مرور
مرور لالیه نور به پخلا شو
ما مره لاس په لاس روان شه مرور
لکه توتی راته ګویان شه مرور
ما ملنګ جان لره درمان شه مرور
دستا رسی او زما غاړه مرور
مرور لالیه نور به پخلا شو

Ketabton.com



د طلا محمد او ملګرو په آواز نوکی کورس    ۱۵۸۰ ر ۱

# لوبه

ستا مستو خمارو سترګو په ما کړی اثر دی    عالم په ما خبر دی

* * *

مغروری ناز نینی له سترګو می ځی وینی    رسوا کړمه ستا مینی
په حال می خبر شوی کوراو کلی لراو بر دی    عالم په ما خبردی

* * *

ستا مینی ځور و لی بیلتون یم کړو لی    په اورئی اړو لی
ارمان می ستا د مستو خمارو سترګو نظر دی    عالم په ما خبردی

* * *

که توره ئی که سپینه    په تا می راځی مینه    راځه په مینه مینه
سیلاب در باندی ایښی له اوله مال او سر دی    عالم په ما خبردی

* * *

Ketabton.com



دګل زمان او ملګرو آوازونه ۱۵۹۲ ر م

# دپکتیا داتڼ سروکی

شنه شنه دی خالونه وربل دی جوړ کړ ولونه ولونه

* * *

تګی لیلا تګی لستونی راکوی لاس په کی نه شته

د اسپین مخ دی خولی دی محبوبی خوب دی کړی نه غرمی دی

ښکلیه ګند هاره خلور دی دروازی خلور ها زاره

پاس په بام ولاړی دا سوال درته کووم که خولګی راوړی

لیلا کمیس دی توردی اوربل دی اړولی لورپه لوردی

که شین دی آسمان شین دی شیرین لالی می دغاړی لونګین دی

* * *

Ketabton.com



په ګډو آوازونو کي ګلالند ، سارا ، شهروان ، ناهیدمهوش

۱۹۳۲ر۳

# دجمهوریت ترانه

چه مو سر پری ټول جهان کی لکه دننګ پامیر اوچت دی
دا زمونږ جمهوریت دی
چه تینګ شوی مو پری مزی د ورورولی د محبت دی
دازمونږ جمهوریت دی
چه زمونږ دژوند ښکلاده چه زمونږ دژوند زینت دی
دازمونږ جمهور یت دی

• • •

مونږ به ځان پهده قربان کړو سر به دا مای ارمان کړو
دومره لوړ به دده شان کړو چه جهان ورته حیران کړو
چه په کی زمونږ آرام دی چه په کی زمونږ عزت دی
دازمونږ جمهوریت دی
دا ځپا ند ځپا ند سیندونه دا به ټول شی مها رونه
که میری دی که ډاګونه دا به شی سمسور باغونه
نن له خو به پا ځید لی په رښتیا افغان ملت دی
دازمونږ جمهوریت دی

• • •

نن افغان بچی بیدار دی ټول روان په یوه لاردی
لوی وایه پهدی اقرار دی چه له ګران وطن نهزاردی
دوطن مینه سیلا به دافغان بچی صفت دی
دازمونږ جمهوریت دی

• • •


Ketabton.com



دگل زمان او تجلی آواز ۱۲۵۹م ر ۱

# غزل

تا چې په سرو شونډو خندا خوره کړه
زما په ژوند کې دې رڼا خوره کړه
خورشوی زړه مې پرې را ټول غونډې شو
دا لو پټه را باندې چا خوره کړه
ژوند دتقوې په لمبو مه سوزوه
دژوند رګونو کې دې سا خوره کړه
زمادا څیرې ګریوان څیرې پرېږده
ناصحه! ځان باندې قبا خوره کړه



Ketabton.com



دگل‌زمان او تجلی آوازونه

۳ر۲۶۵۹

## غبرگه‌غرنی سندره

ماد لیلا له ستر گوجار کړی چی همیشه ئی له ژړانه ډکی وینه
جار زما شیرینه یاره

دسرو ستر گودی جار شم نن دی ډیر ژړلی دینه

* * *

مین زړگی ته می سلام دی چی تمامی عمر په صبر تیروینه
جار شیرینه یاره

ډیره مینه مکړه لیونی به شی مینه

* * *

ستر گوته رش درنجو ور کړه
شو نه‌وته رنگ‌دد ندداننسی ور کړه مینه

جار شیرینه یاره

ته په ډول جوړه ئی که زه‌درمین شومه

Ketabton.com



دناهیداوملگروپه‌آوازنوکی کورس

۳ر۲۳۶۸

# ترانه

نصیب چه نن په‌ژوند کی جمهوریت زمونږه‌دی
پرسربا ندی ځلاند لمردوحدت زمونږه‌دی

چه گل شی او گلزارشی دغه‌شاړی دعمرونو
ددی مرام دپاره زیارزحمت زمونږه‌دی

نړی نن راته‌غوږده ملتونه‌راته‌گوري
راغلی‌چه په مونږه‌تیر عظمت زمونږه‌دی

وروری‌برابری‌د یوگډژوند دپاره‌غواړو
دژوند په کار اوبار کی صداقت زمونږه‌دی

دسولی دنیاغواړواو په‌سوله کی‌کړو ژوند
داغږ له‌هری‌خولی نه‌نن اوچت زمونږه‌دی



Ketabton.com



د نسیم اوملگروآوازونه ۱۳۳۱ر۲

# لوبه

خیرګه اشنا رانه په زړه کې مرور دی پخلا به شو اختردی
خوله ئې غونچه شونډې شکرې مخ ئې لمردی پخلا به شو اختردی

• • •

سره په نکریزو ئې لاسونه راځي په نازاو میکزونه
وګې په غاړه سور لاکې ټیکرې په سردی پخلا به شو اختردی

• • •

اخترخو هغلته اختر شي چه د جانان په مخ نظر شي
ریبار راوړې ماته خوسره خوږ خبردی پخلا به شو اختردی

• • •

مودام ولاړ په لویه لاریم محبوبې تاته انتظار یم
شوغیږ په غیږ به شیبه پسدامې باوردی پخلا به شو اختردی

د پښتون قمر او گل زمان آواز

۱۸۶۱ر۳

## سروکی

اور په لمن وړم یاره اور په لمن وړم

بلې لمبې وړم اشنا بلې لمبې وړم

اور په لمن وړي لیلا اور په لمن وړي

بلې لمبې وړي لیلا بلې لمبې وړي

* * *

د تناره لمبه تری ښه ده

د بېلتانه لمبه سړی ستی کوینه

راشه په زړه سی گوتی کیږده

چه در معلوم شی د یاری سوی داغونه



Ketabton.com



دگل زمان او پښتون قمر گله آوازونه ۱۸۷۸ ر ا

# سروکی

هلک:— شرین بی بی درخانی دادم خان رباب ته و اچوه لاسونه
شیرینی

نجلی:— شرینه ادم خانه نن می و هلی په لنډی زنه خالونه
شیرینه

* * *

هلک:— در با به سختی پردی دی لکه د پېغلی نجلی سخت وی ځوابونه

نجلی:— در با به بدی ځونډی شم دغماز انو نه می پټه و ړه مینه

* * *



Ketabton.com



دسید علم‌اودهغه دملگرو آوازونه ۱۵۹۶ ره

# دننگرهار ژمی

## لوبه

دلته‌می ساړه کیږی راځه چه ننگرهار ته‌ځو ژمی کی گلزارته‌ځو

• • •

هلته شه سیلونه‌دی رنگ‌په رنگ‌گلونه‌دی
و به گرو میلی‌په کی ډیرسمسور باغونه‌دی
تیربه موساعت شی‌ددوستی گرم‌بازارته‌ځو ژمی کی گلزار ته‌ځو

• • •

ځوجلال آباد گورو ونی دشمشاد گورو
مل به‌دنارنجو کړو تول زړونه‌به‌ښاد گورو
جوړی به‌دسرو گلوگیډی کړو نوبهارته‌ځو ژمی کی گلزارته‌ځو

• • •

ښه پسته هوا لری ښکلی تماشا لری
موج وهی نرگس‌په کی هرگل ئی خندالری
زړه به موتسل شی دیاراتوانتظارته‌ځو ژمی کی گلزارته‌ځو

Ketabton.com

## دسید علم اوملګرو آواز

٦٣٦٨ ر ١

# ترانه

عجبه خوشحالي ده جمهوري جشن جوړیږي    وطن دي چراغان
د هر شاعر له خولې نه ملغلري دي وریږي    صفت کا د افغان

* * *

عجبه خوشحالي ده زمکې پیا نوی فشن کړ    منډري وائي غرونه
نظام د جمهوري هیواد نه جوړ ښکلی ګلشن کړ    ګلان وهي موجونه
ځوانانو پیغلو نجونو د خوښۍ جوړ انجمن کړ    راټول دي عالمونه
بیرغ د جمهوري هسکه غړې وینم رپیږي    د نو ژوند نشان

* * *

عجبه خوشحالي ده چه راوړي ده افغان ته    رهبرد انقلاب
او په دي د حیاتو ور کوي ئې زوړ او ځوان ته    ملت ئې کړ سیراب
ښکاره ئې شهامت او شجاعت که ټول جهان ته    شوورك را نه عذاب
زمونږه افتخار دي نر او ښځې پرې نازیږي    په ټول اولس دي ګران

* * *

Ketabton.com



دګلزمان اوملګرو پهآوازکی کورس ۲۳۶۲ ر ۱

# دجمهوریت اختر

هر کله راشی ستړی مشی پهعزت اختره
دجمهوریت اختره
زمونږ وقار عزت او پت شان او شوکت اختره
دجمهوریت اختره

* * *

همزولوزیری مي در باندی نن اختردی زمونږ
اقبال په سردی زمونږ
دافغان سردی کړپه ټول جهان اوچت اختره
دجمهوریت اختره

* * *

نن زمونږ جشن دی اختردی خوشحالی ده زمونږ
پوره سیالی ده زمونږ
تمثیلوی زمونږ قدرت ملی وحدت اختره
دجمهوریت اختره

* * *

دخوشحالی نښی د هرچا له تندی ځلیږی
لکه ګلاب خندیږی
ستا په راتلودی نن راغلی مسرت اختره
دجمهوریت اختره



Ketabton.com



د سيد علم او طلا محمد آواز و نه ۳ر۲۲۶۳

# لوبه

شاه ليلا راشه سور پيزوان په شونډو سرو کيږده  قدم په ورو کيږده
خان دی سنبال کړه شينکی خان پاس په ابرو کيږده  قدم په ورو کيږده

• • •

در تلم د يدن د پاره  رقيب کړم بند په لاره
زيارت ته ور شه سره لاسونه په ښيرو کيږده  قدم په ورو کيږده

جهان په ما شو تورتم  په ستر گو نه دی وينم
ته مښا لونه د چار گل څلور پرو کيږده  قدم په ورو کيږده

پرتا مين يم ليلا  گوره در څمه بيگا
يو څل می سر په تو روز لفو منگرو کيږده  قدم په ورو کيږده

ودی سوم اورد بيلتون  نوردی کړم تنگ په ژوندون
د عشق ملهم د نعيم جان په پر هرو کيږده  قدم په ورو کيږده

• • •

Ketabton.com



د سید علم او منور آوازونه ۲۹ر۴

# سروکی

له میله راغله په ګټ کې پر یوته چې ډېره ستړې یمه

• • •

زه چې د استا سترګو ته ګورم

زه په کې نښې د یارۍ وینم مینه

چې د دیدن نصیب ئې نه وي

یوه ګوښه کې سره وړاندی وروسته شینه

زما په سترګو کې دې ګوردی

چې چرته ګورم هلته ته ښکاری مینه



Ketabton.com



دمهوش او مرجانی آوازونه ۱۶۵۷ ر ۳

# سروګی

د شیر پور درو ازه وانه مور دی بلاو اخله هاشم جانه


• • •

د املغلر دی چه اوری که د هاشم په و ینو سره دي دیوالونه

د هاشم جان جنازه راغله نجونی په سرو منګولو ګل پری وروینه

تا چه خپل سر په وطن کیښود د وطن خاوری به دی ګل غوندی ساتینه

هاشمه مړ نه ئی ژوندی ئی چه د وطن په مینه مری ژوندی به وینه



Ketabton.com

# ددیری دمجلس

# سندری

Ketabton.com



دمنور آواز ۴۰ر۳

ددیری مجلس

# لوبه

الماس ئې په نروکو اعلان کاو د حسن
کاږه واږه خيالونه ترې چاپېره گرځېدل
د شونډو و تبسم ئې ارزو کانو ته ؤ کوابښ
ښائست ته ئې له ورا انتظارونه رپېدل
روانئې ځنداسره هنزولي بدرگه شوي
خيالونو د ځوانۍ ورته په مينه نڅېدل
په گوتو ئې شمارلې تلوسې د مستۍ مينې
د ستر گو اروالو ته ئې زړونه پخسېدل

مکېزاو په نخره ئې ټول مجلس ؤ په نشه ۰
څه گرمې غزونې ارمانونه چلېدل
خو ستر گو مخامخ ورته نيولې سلامې وه
روغېږ ته ئې سندرې او سازونه غږېدل
ساعت ئې په مړوند کاو حساب د سليقو
څه غلې او سېلۍ ئې ننداري ته تاوېدل
يونا زؤ په مجلس کې ترې چاپېره سويلۍ وې
دا ناسته وه مغروره په خندا به ئې کتل
په مينه پوهېدله په يوغلي تبسم کې
په مستوا شارو کې پټ رمزونه خپرېدل

Ketabton.com



دمحمدظاهرآواز ۱۱۱۲ر۱

ددیری مجلس

## چاربیته

نن دی شنه خالونه ایښی په جبین کی
لکه ستوری دآسمان هسی ځلیږی
دښائست ګانی دی نښته په زمین کی
عاشقان دی په دیدن پسی کړیږی

* * *

خماری سترګی دی ښکاری چراغان
چی دزړګی په شان اخلی قدمونه

ستالیدوته هرسړی دی په ارمان
رب دپاره دو سره مکوه نازونه

تل دی سینه کی کړیږی عاشقان
سوزوی ولی په اور کی دغه زړونه

چی ښکاره شی ستا بشرلا په آئین کی
نن دی شنه خالونی ایښی په جبین کی

په صورت می ستادحسن اور بلیږی
عاشقان دی په دیدن پسی کړیږی

Ketabton.com

توری زلفی‌دی په مخ جوړ کړی گلونه
سومن غاښونه‌دی‌رنا کړی لکه لمر

داسری شونډی‌دی په‌شان‌لکه لعلونه
غونډه‌زنه دی‌ده ډکه‌داثر

توروربل دی‌اړولی ولونه واونه
کج‌بانه لری تیره‌لکه نیشتر

په وربل کی چی کتار گلان رنګین کی
نن‌دی‌شنه خالونو ایښی په‌جبین کی

په‌گریوان می درپسی اوښکی بهیږی
عاشقان دی‌په دیدن پسی کړیږی

ستاپه دوه سترګو کی‌شکاری څه کمال
څکه شپه ورځی کوومه فریادونه

درته‌وایم‌لږمی موږکه په‌وصال
رب دپاره نورمی لری‌کړه غمونه

ای دلبری درته‌کړمه دغه سوال
نوردی پریږده‌دا جفا اوداظلمونه

ولی وړی می‌په‌خپود اباسین کی
نن‌دی شنه خالونه ایښی‌په جبین کی

نور رحمن مسکین یا رتا پسی ژړیږی
عاشقان‌دی په‌دیدن پسی کړیږی

دفضل غني آواز

ددیري مجلس

# په پښتني ټنګ ټکورکې

# دکیسې نمونه

عیسی ؤ پیغمبر      استازی دا کبر

داخل په ادیره شو دزاړه قبر تر څنګ

دیره ؤ یومنګ

• • •

عیسی ووی ای څوانه      پوښتنه کړم لتانه

داڅومره موده کیږي دې مکان ته راغلی کله

دې څای کې ناست ئې څله؟

• • •

فقیروی پیغمبره      دتولو معتبره

یوزه یوه مې ښځه دلو اړو کړې مصلحت ؤ

چې دائې حکایت ؤ

ماوویل نجلی      له عشقه لیونې

که زه مړشوم اول ته بیاکومړ اته کوندتون

چې څو دې وي ژوندون

دې وویلي هوښیاره      زما د مینې یاره

که زه مړه شوم اول چې بیاودان ته کړې هل کور

دیره مې شه په ګور

Ketabton.com



موږ دا کړي وعده وه    بالاشوي موده وه
داشوه راځخه مړه ځکه ئې ناست يم زه په قبر
په خاورو ئې کوم صبر

بې شانه ښائسته وه    په حسن آراسته وه
سپين مخ ئې ځليد و رڼائي کړه لکه دلمر
عيسی ؤ پيغمبر

داوه په نوم مهتابه    ښائسته وه بې حسابه
سرې شونډه سره غاښونه بلوري پياله د ښنګک
ديره ؤ يو ملنګک

• • •

عيسی ويل ليونيه    کم عقل سارانيه
ورځه بيرته خپل کورته دغه مه تا خوشې خواري ده
د مړو ښه ياري ده

فقيرو يل ګورمې دادی    قسم خوړلی مادی
ترمرګه پورې شپې ورځې به کړمه ورته ټيري
که لږې وي که ډيري

عيسی وي په ريښتيني    مين په نازنيني
داتلی عمرتلی باقي کړیء مره قسمت
که ډير دی وي حاجت

چې و کړمه دعا زه    په حکم د مولا زه
دا ښځه به ژوندیءشي نور به ځي ځغاړه په غاړه
ميړه او ښځه دواړه

فقير ويل پيغمبره    په ټولو معتبره
داپاتې عمرما کړو ددې ښځې سره نيم
ورځه ياد کړه رحيم

Ketabton.com



عیسی ویل غنی‌خدایه     دخلکو رهنما یه
په عمر کې محجن دی‌دغه ستا بنده فقیر
په قبر ناست زهیر
دی‌ژاړی‌روزوشب     حاصل ئی که مطلب
زور قبر شودوه‌ځایه چی‌قبول ئی‌دعا شوه
حاصله ئی‌مدعا شوه
مړه‌ښځه ژوندی شوه     راپورته په‌توندی شوه
له‌ویری لړزیدله هری‌خواته‌ئی که‌نظر
عیسی ؤ پیغمبره
میره اوښځه دواړه     روان‌شولو همغاړه
چی‌بیرته ئی کتلو عیسی ورلئ شوهغه درنګ
دیره‌ؤیو ملنګ

• • •

دی‌ښځی وی‌ښیتنه     دعمر کړمنه
راځه چه‌ځوځپل کورته‌ځه‌به‌وکړو ادیره کې
په‌دی‌ خوشی‌میره کې
فقیر ویلی نګاری     یودم کینه‌قراری
ما کړی‌شو گیرونه چی‌وده شمه‌په ناز
ورنونه دی کړه ساز
دی‌غوږ کړه‌ورته سمه     ویده‌شو پری بی غمه
ناگاه یوشهزاده ؤچی‌راهیښ کړو کردګار
وتلی ؤپه‌ښکار
له‌ورایه ئی‌ولیدله     چی‌ناسته وه‌ملیله
ورو ورو ئی‌خواته راغی ورنه‌ئی وکړلوپرسان
حال کړه راته عیان

Ketabton.com



تەشو کێ ئی راتە واپە     راغلی لە کوم ځایە
داځوك دی چی بی غمەدی پەغیږ کی کوی خواب
چی نەدی شتە حجاب
دی بنځی وی داغل دی     همیش راسرە مل دی
زەدە یم تسپتولی پەتکیەلەخپل مکانە
کەتەشی مهربانە
مین پری شهزادە شو     پەمینە ئی آلودە شو
داهم شوە پری مینە دوارو جوړ دغسی چل کړو
فقیر ئی منځ کی غل کړو
سورە ئی کړە پەاس     پەچە خدا هوس
فقیر ئی رو یدە پریښود هیڅ پەځان نەۇخبر
عیسیٰ ۇ پیغمبر
دەبنځە کړە روانە     خوشحالە ۇ بی شانە
پەمځکی بەئی وهل شول سرودونەرنگ پەرنگ
دیرە ۇیوملنگ
راویښ چی هغە ځوان شو     خوارپاتی هک حیران شو
تری ورکە معشوقەوە گرځیدوپەغر اوسمە
ژړل بەئی لەغمە
گرځیدو بە چپ چاپیر     پەغر اوسمە ډیر
لەوړایە ئی ولیدل یوځوسوارە پەیو مکان
فقیر شوور روان
روان چی داغریب شو     لښکرتەور قریب شو
چی کوری خپلەبنځە ئی شهزادەپسی سورەوە
پی شوی مسخرەوە

Ketabton.com



فقیر ویلی حاکمه پـه مـا پاندی ظالمه
زما دا نکاح کړی ته لما نه بیا ئی چری
مومن ئی که کافری
راستون چی شهزاده شو فقیر ته په غوصه شو
ویل دا ښځه خووائی چی په ما ئی کړی چل دی
میړه می له دی غل دی
سوټ بوټ ئی فقیر کړو بندی ئی په زنځیر کړو
داخل ئی کړو په ښار کی په لاس پر یوت د کوتوال
غوږ کیده وایم حال
پاچا ئی له دی حاله خبر کړو زما لاله
ما غل دی راوستلی ښکار ته تللی ووم سحر
عیسی ؤ پیغمبر
د ده سره نجلی وه راغلی په ځوانی وه
بی غمه ئی په غیږ کی خوب کا ؤ لکه پالنګ
د یره ؤ یوملنګ
پاچا و یلی کوتواله خبر شه له دی حاله
ته راوله سری چی په رښتینی سره غل دی
که دوی جوړ کړی چل دی
میړه او ښځه ئی سم روان کړل هغه دم
پاچا و یلی دی ښځی ته چی څنګه تیل قال دی
داخه پیښ شوی حال دی
دی ښځی و یلی شا زموږ د سر پنا
زه ده یم تښتولی په تنګی له خپل مکانه
خبره نه یم له ځانه
فقیر ویلی سلطانه دا دروغ وائی شیطانه
دولت می دی ور کړی په هوس می و اده کړی
زما ده نکاح کړی

Ketabton.com

پاچا و یلی ای ځوانه خبره دی شوه گرانه
ددوار و شریعت دی یو شاهد تیر که پری باندی
ددی قاضی به وړاندی

فقیر شو په خندا ویل شاهد لرم عیسی
سبا دلمر په خرک کی به ئی دلته کړم زهیر
روان شو د افقیر

عیسی به چرته گوری په کوم طرف به ښوری
چی دائی بهانه وه ځان ئی کړلو ارا و بر
عیسی ؤ پیغمبر

دی ښځی ویل امیره جوگی لاړ وله گیره
دعوه ئی خوشی لاره ځان له مرگه ئی کړو په ښځنگ
دیره ؤ یو ملنگ

جاسوس ئی پسی سم کړ روان ئی هغه دم کړ
ویل لاړشه لاس تړلی سړی راوله په لاس
چی نه شی درنه خلاص

فقیر چی له دی ښاره وتلی ؤ زما یاره
بهر په یوه دښته کی ولاړی ونی تاندی
ویده شودی ورلاندی

عیسی په یو دستور په خوب شو ور حضور
ویل څه په ما سپینین د خیره در به شم سبا له
دا ده لاړشه خوشحاله

له خوب چی شو بیدار ولاړ ؤ خو کیدار
فقیر ئی لاس تړلی هلته بیرته کړو روان
حضور ته د سلطان

پاچا ویلی بدرایه عیسی څه شواوس وایه
دروغجنه سنا فقه کاردی تول وارده چل دی
راغلی دی اجل دی

Ketabton.com

فقیرو یلی صاحبه    داواوره مناسبه
سبا په ماسپښین به ئی عالم وینی تمام
عیسی علیه اسلام

خو سبا په ماسپښین    عیسی له شو تښین
فقیر غریب څپه ؤغلی کې ناستو ستومانه
پاچاو یلی شیطانه

راغلی دی اجل دی    خولږ په کی معطل دی
جوګی ئی په رښتینی چی اری مکرو هنر
عیسیٰ ؤ پیغمبر

ناڅا په شو یوغږ    بازار کی جوړ شوزوږ
عیسی حضور ته راغی ددی ښځی زیږشور نګ
دیره ؤیو ملنګ

پاچا ویل پیغمبره    په تولو معتبره
ددی دوارو دعوه ده که معلوم وي درته حال
نو لنډ کړه داجنجال

عیسی و یلی ای ښځی    کم عقلی بی تمیزی
درکړی امانت ددی سړی ور کړه دو باره
چی ځی په خپله لاره

ددی ښځی دانیت ؤ    راغلی ئی شو میت ؤ
دوزخ نه تیری شوی او به بیا ګله چار اوځی
زما په خوله به څه ځي

وی واخله امانت    که ستاوی څه دولت
خو دا ددی و یناوه نور د خاورو شو ډیران
فقیر شو تری روان

Ketabton.com



پاچاوی پیغمبره پهتولو معتبره

داځنګه معامله وه چی تا پته فیصله کړه

زموږ دی تلوسه کړه

قصه ئی کړه بیان پاچا شو هک حیران

دربارکی چی ځوك ناست ؤ وارهشول پهدیخبر

عیسیؤ پیغمبر

سیدعبدالغفاره ګل نشته بی لهخاره

چی چرته معشوقه وي نه وفا لري نه ننګ

دیرهؤ یوملنګ

Ketabton.com



# دفضل غني آواز

## دد يري مجلس

## لوبه

په ژړا ځي ځي ځنګ‌ته مي‌ راځي نجلى
په لاس کي شمع ګرځوي ما پري سيزي نجلى
په ژړا ځي ځي دا دي څه مکيز وړو کي
په ويشن ګرځي دځواني دي کړي خيز وړو کي
ولى دي زه له‌تش ديدن نه کړم پرهيز وړو کي
لکه ملنګ په ژړا ځم ستا له روضى نجلى

• • •

لکه ملنګ غوا ړمه خير ستا د ديدن وړو کي
مينه‌دي تيغ دي پري‌غوځوي مي‌ګردن وړو کي
سه‌يدي نشم اوس خبر شو تول وطن وړو کي
ستا عاشقي مي په زړه خښي کړي نيزي نجلى

• • •

ستا عاشقيء راله راکړي په زړه داغ دينه
مخ دي فانوس رڼا کوي بدن دي باغ دينه
اوس تري راخيجي خوشبو ئي لوي دي‌دماغ دينه
ټيک دي بلبل‌دي‌په کي کا ندي آوازي نجلى

• • •

Ketabton.com



تیک دی بلبل دی زه توتی ستا دچمن یمه
سیدی نشم ستا د زلفو په دام بند یمه

یو ځل می پریږده ارمانی ستا د مرو ند یمه
تا غوړ ولی دي د زلفو د وګړی نجلی

• • •

زلفی می دواړه دوګزی تا به پری ګیر کړمه
دا باقي عمر به په تا پاندی اند یر کړمه
سپینه ګوګی به زه په تا زارو ګندیر کړمه
ما په یارئی کی ستا ګولی ملازی نجلی

• • •

ما په یاری کی تا سره کړی اقراز دینه
ګلله رغیږم ټول وجود می نا قرار دینه

په شاعرانو کی می خوښ عبدالغفار دینه
ټول شاعران ئی لاندی کړی تر قبضی نجلی

• • •

Ketabton.com



دحیات الله آواز
د دیری مجلس

# رنگارنگ چاربیته

سپینه ده نجلی سپین ئی په غاړه هیکلونه دی
سپین ئی اننگی سپینه ئی خوله سپین ئی غاښونه دی

• • •

توره ده نجلی تور ئی په غاړه لونگین دی
تور زړوکی کړی تور کمیس ئی کمرچین دی

توری سترگی راغله تور وربل خوئی رنگین دی
تور ئی لیونی کړم تور دزلفوئی تالونه دی

• • •

خره ده نجلی خړی جامی د یارانې کړي
خره شپه کی راغله خړی ځه دغلوکانې کړی
خړی نه خوله غواړم خړی داراته بانې کړی
خړموزی مونږ وینی خړ دمینی تومتونه دي

• • •

زیړه ده نجلـی زیړه زیـړی تبی کـوینه
زیړ دعاشق رنگ دی چی زیړی معشوق لرینه

Ketabton.com



زیرکمیس ئی کړی زیربه ځوك و رپسی مرینه
زیره نجلی راغله زیرئی څنوکی ګاونه دی

• • •

شنه ده نجلی شنه شین ئی په سردی زرین شال
شین باغ ئی تالا کړود شنی کبرشه زوال

شنه کشما لی کوري د شنې څومره دی ډیرخیال
شین می پسی زړه دی شنه ئی څه عجب خالونه دی

• • •

برګه ده نجلی برګه له ورا کوی کتل
برګی ئی جامی دی برګه نن کوی سیزل

برګ ورته ولاړیم ه برګی نه راځی چل
دی برګی خوړلي په تګی رانه مالونه دی

• • •

برګه نجلی پر یږده ای پاچا سید مهربانه
برګ ورته ولاړئی خواره ډیر به ئی ستومانه

برګه زمانه ده ګیله څله کړی لــه چانه
برګی یارانې دی برګ ئی ګوره ډیرغمونه دی
• • •

Ketabton.com



## دمشکی آواز
## ددیری مجلس

# لوبه

نن می یاد یږی شهندروز دګلبدنه سره
خندګه مزه کړی سور چارګل دسپین بدنه سره

• • •

نن می یاد یږی شهندروزدسور پیزوانه سره
زرګره وکړه اشنائی زما دخانه سره
سپینه خولګی به درکووم دبنه احسانه سره
پیزوان می جوړ کړه لرم مینه دفیشنه سره

• • •

پیزوان به جوړ کړم ستادسروشونډو دپاره نجلی
وګړه معطل مکړه تلوار درب دپاره نجلی
تاله به راوړمه غمیزه دبازاره نجلی
ته لیونی ئی هرڅه خوند کړی له وطنه سره

• • •

سبا به څم چی تاله راوړمه غمی صنمی
یادکابل یا بخارا دجګدلی صنمی
دعمر دین سره ونکړی بی لوزی صنمی
ستادښا ئست ثانی هیڅ نشته له ختنه سره

• • •

زرجانه ورشه تسلیم جان ته په ورو وروباندی
ورته ووایه خالی می ایښی په ابرو باندی
زیاتی می ګرځه دسینی په منارو باندی
لکه طوطی ناری وهم له هرګلشنه سره
نن می یادیږی شهندروز دګلبدنه سره

Ketabton.com


## دمشکی آواز

## ددیری مجلس

# چار بیته

تاچی دخیال زلفی په عطرو معطر کړلی نن
دخوشبوئی پسی دی چتر بوراکان گرځی
ته چی له خیاله زلفی څوړند په صدر گرځوی
دحسن غړدی څکه خور شوپه اطراف صنم
وباسی زړونه دعاشق په لاس خنجر گرځوی
ښکلی بشر دی نورانی نشته خلاف صنم
لکه نرگس ستر گی شهلا چی لراو بر گرځوی
برون له حده خوی خصلت لری اشراف صنم
که دی عاشق له وراعطا لبی ثمر کړلی نن
تاچی دخیال زلفی په عطرو معطر کړلی نن
شی به صحت په جستجودی رنځوران گرځی
دخوشبوئی پسی دی چتر بوراگان گرځی

• • •

رنځوران ډیرزما په دربانډی کړیږی مودام
ورځه هلکه لاس په سرشه له دیدنه زما
وصال دښکلو په خوارو موندلی کیږی مودام
ته په کاله کی میوه غواړی له چمنه زما
عاشقان ډیر د محبت په اور سوزیږی مودام
که ارمانجن ئی په رښتیا له خپل بدنه زما
پلار می خونکار دی خلکی ئی زیروزبر کړلی نن
تاچی دخیال زلفی په عطرو معطر کړلی نن
بیلتون شوورك شوق می دعشق مهربان گرځی
دخوشبوئی پسی دی چتر بوراگان گرځی

Ketabton.com



## داستاد اول میر آواز

## ددیری مجلس

# ټپې

مجنون ځنګل کې په ژړا شو
مسته لیلا به نن په کوم ګلشن کې وینه
سپینې سپوږمۍ حال راته وایه
چې مې اشنا مجلس د چا سره کوینه

ستر ګې دې سرې لکه د زرګې
که په نظر کې مې ساتې اشنا دې یمه

څه به د زړه حال و نه وایم
دغو نچه فم صنم په غم کې قلم شومه
قلم د سرو کاغذ د سپینو
د زړه په وینو کاغذ سور یا رته لیږمه

خبر ئې بیا داخیستو دې
په پخوانې ګناه و به بیا ولاړه وینه

خبر مې ګله ګله اخله
دلیو نتوب آواز مې نن سبا د رځینه
راشه په دې د فیصله وې
دخدای رحمت دې په دې نا ستو خلکو وینه

Ketabton.com



د حضرت باز آواز
د دیري مجلس

۷ر۱۳۵۸

# لوبه

اکچه غرمه ده میمونه حلا لوینه
سره لاسو نه وار په وار وهی سلام کوینه

• • •

د میمونی د مرگ آوازشو زړگی زماپسی دراز شو
تو تی لکه د پیاز شو
راغی خزان په دی تیرشو دوران په دی
کوم ارمان ددی
داخو خوشحاله خوشحالی له زړه نه وړینه

• • •

چه میمونه ئی کړه حلاله په شهید گی شوله خوشحاله
بنه دی شوه خلاصه له جنجاله
میمونه گل ؤ کنه اختیار ئی خپل ؤ کنه
زړه ئی بلبل ؤ کنه
همزولوئی پرینبودل منکی په گود رونه

• • •

د اشیرعلم په کرسی ناست ؤ کنه د میمونی سره ئی خوی پاس ؤ کنه
داخبر کړی کوم خناس ؤ کنه
خلیل خوورو رؤددی دستر گو تور ؤددی
اوس ئی پیغور رؤددی
داشاعران دجان محمد سلام کوینه

Ketabton.com



د محمد عثمان آواز
ددیری مجلس

# لس مصری چاربیته

په چپاو راغلی ما پښین باندی
خالونه ایښی په جبین باندی
تیک دوربل په کنار وګرځوی
مسته پیزوان په شونډو سرو ګرځوی

• • •

غونچه پیزوان سپین دی هیکل دی
خوله پټاسه خوند هرزمان لری
هیڅ نظر نه کړی په مسکین باندی
هیڅ نظر نکوی نګاره
اوس می لیلا په جزیرو ګرځوی

تورلونګین ورسره مل دی
ښه تاو یزونه ښه نشان لری
په چپاو راغله ما سپین باندی
په غضب توره شوه له قاره
مسته پیزوان په شونډو سرو ګرځوی

• • •

سینه دی باغ دی د کشمیر
که مسلی درپسی لنګ کړمه
ستاد درخاوری دی منلی زما
که می وهی په تبرزین باندی
که می په تورو کی قصاب کړی
عاشقان سر په معشوقو ګرځوی

درپسی زه شوم هوا ګیر
ځان به دا ستاد درملنګ کړمه
نه دی په کار نوری بلبلی زما
په چپاو راغله ما سپین باندی
پټ به می خوله په حجاب کړی
مسته پیزوان په شونډو سرو ګرځوی

• • •

خپل سراو مال به تری قربان کړمه
که خرڅوی می په بازار باندی

ورته پیش کش به هرزمان کړمه
زه خپه نه یم په دا کار باندی

Ketabton.com



زه خوپه نه یمه خوشحال یمه       دیوانه گرځم پر کمال یمه

چرته دی وینم په دوربین باندی       په چپاور اغلی ماسپښین باندی

دیوانه گرځمه ملنګ یمه       په شمع ځان سیزم پتنګ یمه

په سینه چتر د گونګرو گرځوی       مسته پیزوان په شونډو سرو گرځوی

• • •

زرجانه! پیردی د بغداددی       د ډیر نازولی په سوادددی

کنددی راواچوه و و له       چی پاتی نشی نور و شپوله

کنددی راواخله برابر راځه       د میا عمر صاحب په در راځه

په سینه ولګید سنګین باندی       په چپاور اغلی ماسپښین باندی

ځان دی د پیربابا تو ګز کړه       خپل همګی مطلب ترسر کړه

اوس می بلا په جزیرو ګرځوی       مسته پیزوان په شونډو سرو ګرځوی

Ketabton.com



دمحمدعثمان آواز
ددیری مجلس

# اته مصری چاربیته

دلیلا په لاس کې سری او شنې ګجرې دی
پورته کېږي ترینه هر رنګه سازونه

ستا دغم او ښکې زما په مخ خورې دي
چې اشنا مې شامدام که مکېزونه

• • •

دهجران له لاسه ډوب شوم په دریاب کې
رار سېږه نن دي وار دی دستګیره
هیرومه دلیلا غم په رباب کې
عمر تول را باندي تیر شو بې تدبیره

دپتنګ په شانې و سوم په دې باب کې
رب دې خلاص کړي عاشقان له دې زنځیره

هر طرف ته دغم جوړې نظارې دي
هر سبا دبیلتانه دي آوازونه

• • •

دهجران له لاس ناست یم په تورتم کې
ربه راولې هماغه مخ خراغه
شپه او روځ وهم تا لو نه ستا په غم کې
دجبین په ګل ئې سه وای توره زاغه

Ketabton.com



کچ بانه‌می شوو راسته دستر گونم کی
دلاله په‌شان می‌زره له‌غمه‌داغه

ملغلری‌دی په‌سور پیزوان سپری‌دی
تاوی‌زلفی دی‌سینه باندی‌مارو نه

* * *

هجران‌خه‌غواری کم بخته‌نوی کال‌دی
چتکی‌و کره چی‌زه نشم‌خراب

سپین هیکل سپینه‌و پری‌بل می‌شین‌خال‌دی
که‌دی‌و لید ته‌به‌خلاص‌شی له‌عذاب

په‌سر کری می‌عجب زرزری شال‌دی
در له‌وایم‌ځان‌بیدار کره تمله‌خواب

زما ستا دیاری‌ء هرچیری‌ناری‌دی
لیلاتورور بل دی‌جال‌نسی بازو نه

* * *

تورو ربل می‌الول لتانه جارشه
زه‌پوهیږم‌ته زما دزړکی سرنی

سردی کیږده‌زماغیږکی پری‌خمارشه
چی‌په‌مینه کی‌زما تل‌در په‌درنی
در په‌خوله‌دی دازما زنه‌انارشه
دیاری‌ءخبری واوری براپرنی
سید کماله دمحبوبو تل نخری‌دی
نروی‌د عاشقانو دزره خونه

Ketabton.com



۲۸۷ر۲

## دطلامحمداو سیدعلم آوازو ته
## ددیری مجلس

# تو ده‌لوبه

په مخ شانه که‌توری‌زلفی ولونه‌و لونه
شنه‌دی خالونه

• • •

په مخ شانه که‌توری زلفی الول  توری‌دی ور بل
تورلونگین دی دزلفانو سره سل  سپین دی هیکل
سپینوپاولیودی سینه کی کتارونه  شنه‌دی خالونه

• • •

خو کاله کیږی چی په‌تا باندی سین یم  په‌زړه‌غمجن یم
یوځلی‌را شه‌ددیدن‌دی ارمانجن یم  سوی بدن یم
لرم‌په‌زړه کی‌ددیدن‌دی ارمانونه  شنه‌دی خالونه

• • •

د گلو ځانگی‌زه بلبل په تا شیدا یم  صفت‌دی وایم
شونډی سی وچی‌رنگ سی‌زیړ په‌واویلا یم  مودام‌دیستایم
درته معلوم‌دی‌د مسکین عاشق حالونه  شنه‌دی‌خالونه

• • •

گله راوځی په‌خندا گله‌په تا رنی  ای پریواری
دستا دیدن‌ته‌زه ملنگ شوسه دلاری  ښکلی نگاری
خواجه محمد یم‌زماو منه سوالونه  شنه‌دی‌خالونه

Ketabton.com

د طلا محمد او سيد علم آو ازونه ۴۴ ره

دديري مجلس

# زنځيري

## چاربيته

دوه سترګي دي خونکاري     پري وژني عاشقان
چي وځي له حرمه سو يليو نه په سر کي     عالم به در په در کړي

* * *


باڼه دي لکه غشي     چي هر طرف خواره شي     ابرو يې مي په تشي
په دي نري خندا دي ږ يري خو ني کړي آواري     دوه سترګي دي خونکاري
دي دوه وروځي دي توري     ښائست کي مشهوري     خپل حسن ته مغروري
خنداد نزاکت سره چي بيرته کړي لبان     پري وژني عاشقان
سپين مخ لري ګلاب     چي پورته کړي حجاب     عالم دي کړ کباب
چي سيل ته د ګلشن وځي په وخت د نازديګر کي     عالم به در په در کي
ته سرو د چمن ئي     ګلرخ غونچه دهن ئي     پري نازک بدن ئي
خو باني د حرم دي ځي په مخ کي خدمتګاري     دوه سترګي دي خونکاري
ابرو په مخ دي خال     په مثل د هلال     چار ګل غمي دي لال
سيني په خزانه دي توري زلفي ښاماران     پري وژني عاشقان
خو بانو کي افسري     ګل رخ پري پيکري     زما دزړګي سري
که دواړه خماري سترګي راپورته په هنر کي     عالم به در په در کي

Ketabton.com

پەزرەکی می مدامئی    تەروح می داندامئی    نازکی گل اندامئی
زنخیرمی شودغاری ستاخوارەوارەزلفان    پری وژنی عاشقان
شیرینە شکرلب ئی    خورە لکە عنب ئی    زما دژوند سبب ئی
کەمیس گل بخمل بنارمی شال چی پەسرکی    عالم بەدرپە درکی

• • •

نرگس پەشانی سترگی    چی راشی پەنظرکی    رفتار لري دزرکی
دانوری سویلی بەدرپسی گرځی کتاری    دوەسترگی دی خونکاری
عاشق کەسوداگرشی    چی تیرترمال وسرشی    پورەبەدی ولورشی
عاشق نەدی چی نەوی ستادزلفو بندیوان    پری وژنی عاشقان
پرون می ولید لی    شیرین سخن بلبلی    دکمی باغچی گل ئی
ملاخواجە محمدوائی کەسورشال دی پەسرکی    عالم بەدرپەدرکی



Ketabton.com

دشاولی اوسپین بادام آوازونه
د دیری مجلس

## چار بیته

لیلا روپی په سر کتاری نه کړی    زما دزړه بازار به وران شینه

• • •

روپی دی زانګی په جبین باندی    صورت دی سم دی د کجوری په شان
مکوه ظلم په مسکین باندی    باهو دی پرک وهی د توری په شان
اوازدی خور په سرزمین باندی    ښکلی قدم اخلی د حوری په شان
سترګی رنجو باندی خماری نه کړی    وطن به ټول په ماتیران شینه

• • •

وطن به ټول در باندی اور کړمه    بند می د زلفو په زنځیر شولی
زه چی کمیس په رنګریز تور کړمه    لاړی له ملکه هواګیر شولی
دا ټول وطن به په تا ګور کړمه    که می په سینه کی اسیر شولی
درحمه ګور ته چی کو کارونه کړی    ګور و مالت به په سوران شینه

• • •

لاړی ساتی مل می اکبر د ینه    زه تری په چل تاله د رتیر شومه
زما استا د مومند ز رګر د ینه    ستا د پالنګ نه به چا پیر شمه
ما شو کړا نه منلی سر د ینه    که ستا په نر مو شو نلو میر شمه
وزیمبه شونډی مخ نو کاری نه کړی    رنګ به می زیړ لکه زعفران شینه

Ketabton.com



د عبد الله او فضل غني آوازونه
د دیري مجلس

# شپاړس مصري ء چار بیته

چر گوناري کړي سردو باره | پا څه زما له غیري یاره
خو ندمی د سرو لبا نو هیر که | هلکه مخه خوك بهدي گیر که

* * *

چرگوناري کړي صبحدم شو | په ما خبر کوراو عالم شو
پهما خبر شو کوراو کلي | هلکه‌و مخه رانه غلي
غلي مي وو مخه لسه کسوره | مشغولا مکوه پهز وره
دادا بهغږو که چي غل دي | ورته معلوم دیاري ء چل دي
چل دیاري ورته معلوم دي | چادي په خوله اخیستي نوم دي
نوم دي لیکلي په کاغذ دي | ته چي راتلي څه دي غرض دي
ته چي راتلي شو مه کراره | پا څه زما دغیري یاره
پهوروو رو خلاص دو رهز نخیر که | هلکه‌زه خوك بهدي گیر که

* * *

شمشیر مي غوخ کړ دزړه سر صنمي | ریباره راغله ماز دیگر صنمي
تا ورته و کړي ستغي سپوري | مخنگه مغروره پهخپل زورئي
زوردي په شان دسکندر دي | وړي‌دي میا شت پیزوان دي له‌ردي
رښا دي مخي له شینکي خالسه | ته په کي ناسته ئي خوشحاله
خو شاله گرځي په حرم کي | زهدي اخته کړمه پهغم کي
زهدي سوري کړم په مژگانو | راکړه ملهم دسرو لبانو
زه چي راتلمه ستا دپاره | پا څه زما دغیري یاره
چانانه غیر رانه چا پیر که | هلکه مخه خوك بهدي گیر که

Ketabton.com



دغازي جان او ملګرو آوازونه
د دیري مجلس

# دپکتیا شوري

سپینه خوله کې دې تاري شکري خواندې لیلا
شنو بنګړو یو شور ماشور دې په مړواند دې لیلا

سپینه خولې نې چې وړې وړې کیسې کوي
سره غاښونه دې په پېزوان کې تجالې کوي
عاشقانو باندې تل نازاو نخرې کوي
خال دې وهلی تورو وروځو په پیواند دې لیلا

سپینې خولې نې چې واړه واړه خندا کوي
ګیله من یم چې ظلمونه تل په ما کوي

یوري راشه که دیدن دخوږ اشنا کوي
تورو ربل دې نن جوړ کړې ډیر په خواند دې لیلا

سپینې خولې کې دې آجب ښکلې غاښونه دې
غنم رنګې جلکې د پردې صفاتونه دې

متادیدن پسې مې کړې ارمانونه دې
غازي جان زړه دې په تورو زلفو بند دې لیلا

Ketabton.com



# دشاه‌ولی‌اوسیدعلم آوازونه
# دد یری‌مجلس

## چاربیته

دزاغ دو اره‌ځانگونه‌دی‌له‌مخه‌کړه چاپیره    جمال په‌شوش کی گوری
تابیا په سرولبا ئو دندامه‌دوښلی دیره    ایلادځیا له‌بوری

• • •

ځانگونه دی‌له‌مخه کړه چاپیره دغراب
نن څه‌دی‌په مطلب‌دی
رنبادرځنی خیجی انگی‌دی‌سپین حباب
سری‌شونډی دی‌ذهب‌دی
چنجوسی زړه غابیل که‌تری کولی نشم‌خواب
کارونه‌تول دربدی
مین‌شومه‌په‌تاغمونه‌شورانه چاپیره
شاه‌سره لمبه داوری

• • •

هلک شوی‌غلی‌غلی راته‌گوری په‌تمبوکی
کمبخته‌نه کړی‌صبر
بی‌وخته چری‌رانه شی ته‌گیر‌به‌شی سومبوکی
خوکی‌می کوی‌کبر
دامستا په‌شانته دیرمی‌ستی کړی دی‌لمبوکی
کوچره یم‌دجبر
آدم‌ددرځانی‌مینه به کړمه درنه‌هیره
ته‌وخوری سترگی توری

Ketabton.com

په ستر گومې تیاره شوه په زړ گي مې راغې دود
تک زیړ لکه زعفران شوم

ملهم مې لګولې طبیبا نو په وجود
زه نه رغیدم وزان شوم
ما ستا په یارانه کې لیونې و نه کړو سود
گډ ځکه په سوران شوم
لمن پورې دې نښتې یم دارو را کړه میره
مغرور په خپل زوری

• • •

مغرور ه نه یم یاره ځان ساتمه پری له بدو
تو به مې له یاری ستا
کوم مطالعې تل په دائره کې دا بجدو
لرم مهر مرۍ ستا
بیا لامې په دې پورې نږدم زه په صد ږد وردو
که وی منت زارۍ ستا
لتا مره نامراده چرې ماته کاندې کیره
غلیم زما دوروری

• • •

د ننګ په براق سور ئې رسوی هرچا ته نفې
ما سره امداد که
صفت دې نورالدین کا په عالم کې مشرفې
نصیب دې خدای دیدار که
ولاړ ار سلاخانه دچونتتورمه په کفنئې
دښمن دې مولا خوار که
سخې نه روېی اخلم کمې نه غوارم له میره
زه شپې نه کووم نوری

Ketabton.com



دنورمحمد اوجمال آوازونه ۱۳۴۸ ر ۴
ددیری مجلس

## سروکی

بل به نوی جوړومه دا سی لیلا وائی چار گل سی ورك دی

* * *

دمینی کور دزړه زانګوده ځوك په کی زانګی دچاو شلیده لړونه
چی سوداوزیان دی په کی نه وی غمازه ولی بدوی دخلکو زړونه
سوی به یم سوی به گرځم نه سی دارو شته او نه حال ویلی شمه



Ketabton.com



دهستی گل او نورمحمد آوازونه  ۱۳۵۲ر۲
ددیری مجلس

# سروګی

ورشه ریباره ناری که ورته    پخلا می نه کړه مروره رانه ځینه
ناری کړه ورته

د طبیبا نو ډلی را غلی    زما درنځ طبیب را نه غی مړ به شمه

په مسا پرو مې زړه نه سو    اوس مې ډېری سوزی چې مې یار مسا پر شونه

ګله په زیر ګله په بم شی    دلاس ښنګری دې رنګا رنګ شرنګا ارینه



Ketabton.com

دتجلي آواز
ددیري مجلس

# سروکی

په بام وروورو راځه    پهٔ زنهٔ دې شین خال و هلی دی    مازدیګر دی ګنه
سرو شونډو دی ګرد نیولی دی

• • •

د بام په سر و لاړی تجلی    سترګی پهٔ ورورو اړوهٔ زخمی دی کړمه

په دیوال نیمه راکوږی شه    د تورو زلفو نه راواچوه تالونه

وطن خو تا ظالمی وران کړ    چی سپینی پوندی ګرځیدی پهٔ لوړ با مونه

چی مازدیګرشی زیړی لمرشی    میل پهٔ ګودر شی جنکی منګی راوړینه

• • •



Ketabton.com

دشاه‌ولی آواز
ددیری مجلس

# چاربیته

چی واده شوه گل اندامه په‌نخرو رو
نیمه شپه بهرام ته‌ورغله په شرنګ شرنګ
شهزاده ته به‌ئی‌همداویل په‌ورو ورو
لتا زارشه زما سری لبانی رنګ رنګ

• • •

په نخرو د ګل اندامی واده جوړ شو
ښاپیریانو به کول په کی سازونه
هر فقیر په نعمتونو باندی موړ شو
ګرځول په ساقیانو شرابونه
چی عاشق د زړکی بازارئی موړ شو
هریولاړ په زړه ئی ویوړل ارمانونه
په‌ژړاکی به‌ئی‌ویل په‌سترګو سرو سرو
لاړه لاړه ګل‌خوبان دګل په‌رنګ‌رنګ

• • •

چی واده شوه هغه مسته ګل خوبانه
مین جبین ئی په زیورو کی مینکاره
هسکه غاړه خپل اشناته شوه روانه
ګل اندامه ګل غونچه شوه د بهاره

Ketabton.com



نري ملا کجکې بانه جبين روښانه
د سرو ټيکئ ئي پرې جړاو که شغله داره
تور کجل ئي کړل په سترګو خمارو رو
مستانه شوه لکه ښکلي وي چابنګ بنګ

• • •

ورختې نه شو بهرام له ډيره سامه
دواړه پښې ئي لړزيدلې له هيبته
په خندا شوله را کوزه ګل اندامه
لاس په غاړه ئي که پالنګ ته ورو چته
هره چاره په سرې شي له ناکامه
ګل اندامه شوه په خپله ناطاقته
تر سهاره ؤ په ټوکو مسخرو رو
محبت ئي سره وکړ په ښو رنګ رنګ

• • •

چې په عشق کې ښوك چل او يا هنر که
وبه نه ګوري مخونه د خوبانو
عاشق هغه دې چې ځان ئي قلندر که
خود به و ګورې شغلې د کوکبانو
چې قبول ئي خاکستر ديار در که
بهرام هله شو لايق د سرو لبانو
نور صاحب د ميني شعروائي ورو ورو
راوباسي ملغرې په ښو رنګ رنګ

• • •

Ketabton.com



دسید محمد آواز
ددیری مجلس

# داستان

یوورځ مجنون له کوره شو روان
پښې لوڅې سرسرتور څیرې گریوان

ناگهانه په یودښت وربرابر شو
دلیلا کورئې له ورایه په نظر شو

هلته کېناسته په فکر کې حیران
په ژړا ژړائې سترې کړو خپل ځان

په ارمان ئې ز نگنونه کړ سرپورته
پس له هغې شو روان دلیلا کورته

دملنګ چا مه کې لاړلو زهیر
دلیلا در گاته ودرېد دلګیر

غږئې وکړچې لیلادخدای دپاره
برون ځوارو زار ولاړیم ناکراره

لیلا ویل ورته زما یاره مجنونه
ناری مه وهه درځمه ځګر خونه

Ketabton.com



مجنون و یل ورته زمادزړه بلبلی
چیرته ئی بلادی واخلم نازولی

لیلا و نیو لیونی مجنون له لاسه
دواړه لاړو کیناسته دغره دپاسه

مجنون و یلی ورته خوب ته می زړه کیږی
لیلاستا دمړو ند خوب می ډیر یاد یږی

په ځنګل ئی دلیلا کیښود خپل سر
پریشانیء ویوړ په ځان نه ؤ خبر

مجنون پر پرده چی بی غمه کړی خوبونه
دلیلا په درته وو ایم حالونه

دلیلا کله ایلبندته شوه روانه
مجنون پروت دی هیڅ خبر نه دی له ځانه

په کوم وخت چی لیلا بیا راغله په بیرته
ویلی داچی په مجنون غریب وی چیرته

لیلا هغه ځای ته ورغله یا رانو
چی مجنون په کی ویده ؤ هوښیار انو

مجنون ګوری چی همغسی ویده دی
پروت عاجز فقیر په خاوړو کی سپیره دی

Ketabton.com



## دتاج محمد اوهیکل آوازونه

### ددیزی مجلس

# لوبه

ارمان پهژړا راغی او آرزو می په سلګو
هجران دیارانې په کور راوستی دمرګو

• • •

که هرڅومره دزړه په لار ور وړاندی شوم حضورته
دمینی نهړك زړه می کیږود مخی د منظورته

په روغ نظر ونه کتم دناز سترګو کږو
هجران دیارانې په کور راوستی دمرګو

• • •

شاعروم ګونګی نهوم نهمی مینه چل او ول ؤ
دمینی په رموز میهر مقام او هر غزل ؤ

بیلتون می ایشولی زړه کی وینی دړ ګو
هجران دیارانې په کور راوستی ده مرګو

Ketabton.com



هغه ساعته مه شوی چی به مینه مشغو لاوه
مجنون ته به دمینی مخامخ هغه لیلا وه

ساعت په تیر یدلو په خوږو ناصو جرګو
هجران دیارانی په کور راو ستی ده مرګو

• • •

هغه ګلو نه مړاوي شول خزان شول بی غوری ءنه
باغ لوټ شو دوصا ل آشنا مخ و اړاؤ یاری ءنه

پنډونه دغمونو می راباار شول په و ږو
هجران دیارانې په کور راوستی ده مرګو

• • •

صاعه بې کی ګرځم خوپه بوټو کی ګل نشته
در نه ناسته ولاړه خه و یل او کتل نشته

خودسری او بکی بهیږی د بینا په اننګو
هجران دیارانې په کور راوستی ده مرګو



Ketabton.com

## دعمرا خان او هیکل آوازونه ۳۵۴

### دديرې مجلس

# مسته چاربيته

مستې نې په مستو اننګو ايښې خالونه دي
مسته يې سينه ده مستې يې زلفې پرې تالونه دي

• • •

مسته چې ښکاره شي مستې سترګې يې ويشتل کوي
مسته د مستۍ نه ښه په ټس بانډې خندل کوي
مسته يې کوکې ده مسته زنه يې چيچل کوي
مستي نه مې بيا کړي د مست ديدن سوالونه دي
مستي نې په مستو اننګو ايښې خالونه دي
مسته چې مې وليده قسم دې مستانه شومه
مسته چې په مسته خوله موسکۍ شوه ديوانه شومه
مست ګرېوان يې کورم زه د مستې پروانه شومه
مست څې په کېنج د مستې تلوکې کمالونه دي
مسته يې سينه ده مستې زلفې پرې تالونه دي
مسته شپه کې راغله مستې جوخته وعده کړې ده
مستې مې فرياد کاو په غېږ کې مسته ستړې ده
مستې بيا په تلوکې مسته ښه مانه وړې ده
مستې راسره کړې د مست پالنګ سيلونه دي
مستې نې په مستو اننګو ايښې خالونه دي
مست يم زه جمشيد مستې ته زه هسې زاري کووم
مست حسن مې خوښ شي ور سره څکه ياري کووم
مست کړمه خوبانو څکه مسته شاعري کووم
مست پرې عاشقان شي دا مې مست مې مثالونه دي
مستې نې په مستو اننګو ايښې خالونه دي
مسته يې سينه ده مستې زلفې پرې تالونه دي

Ketabton.com

## دصنم او هیکل آوازونه
## ددیری مجلس

# چار بیته

تالا شول چمنو نه بلبلان ځی دباغچو  بورا موږی منګولی
آخر به دبیلتون له لاسه غوځ شی په برچو  سرمه ږده په څنګلی

• • •

دادواړه ښکلی شونډی دی د شنو ښنګوپیالی دی  نشه ئی ګړمه پرکاله
په زلفو دی موږلی بی حسابه مسالی دی  پری تیر د سر او ماله
نن بیا دی په سر ګړی ښنه‌ښا اونه دوشالی دی  په مخه راغلی ماله
وربل دی ښکلی ګړی د میملی د باغ غونچو  دخیاله څنګولی

• • •

ناترسی ماپری ولی نه ویریږی له ازاره  ډوب ناست یمه په غم کی
عجبه خوشبوئی دی پورته ګیږی له ګلزاره  په وخت د صحبدم کی
په شانی د مجنون له خلکو بیل ناست یم کناره  شر میږم په عالم کی
ګی یوځلی دی موږ ګرمه د شونډو په مانچو  صفت به دی کړم ګلی
مولا می په نصیب کانجلی ستا د مینی باغ  تول غم می اواره که
ماتلی دی په بهتر چی خبر پری نشی زاغ  توتی په ګی دیره که
شین خال دی ځلیده که په جبین لکه چراغ  دوراپه را ښکاره که
آخر به شریف پر یوزی د هزولو له چړچو  نور به نه وائی غزلی

Ketabton.com

دمیرافضل آواز
ددیری محلس

# لوبه

ماته اصیله لو پته راوړه د ښاره
گلونه د بازاره چی ځان درته سینگار کړم

• • •

پیزوان به پاس په شونډو سور کړم
عاشق به هلته وریت په اور کړم
په تورخاور وکی به ئې گور کړم
داښکلی مخ چی زه لرمه جلوه داره

• • •

ستا یارانی کړمه کباب صنمی
ژوندون دی کړو راته خراب صنمی
شوم ستا په مینه کی بی‌تاب صنمی
مینی دی زستی په اور کړمه ای یاره

• • •

لکه بلبل په چمن ناست وم
ښا یسته گلو نو ته په خواست وم
حضرت ولی سره هم راست وم
ستر گی می سری په ئم ژړ یږم خوار وزاره

Ketabton.com

## دمنوراوسیدمحمدآوازونه

## ددیری مجلس

# لوبه

روپۍ مې ستا دپاره د بنګړو ساتلې دینه
دواړه متې ډکې کړه بنګړي راغلي دینه

• • •

راشه روپۍ یوسه بنګړي واخله متې ډکې که
مه رانه شرمېږه نجلۍ سترګې نوري ګلګې که

یا به دې خوګ راګړي یا به ښناختې په مالکې که
په زړه باندې سوری شم چې دخولې مې شاڅې وینه
دواړه متې ډکې کړه بنګړي راغلي دینه
په زړه باندې سوري شوم چې دې وینم تشې متې

نه بدې خوګ راګړي نه مړه کېږي دغم څتې
ای په ځان مغروري رانه تېره شوې مخ پټې

هزو لی ښا پیري د باغ ارم درته راځینه
دواړه متې ډکې کړه بنګړي راغلي دینه

Ketabton.com

همزو لی بنا پیری دی سلامی ته‌ر اخی و اره
و اچوه بنگری متی دی ده کی که پری دو اره
و لی نار استی کری لری چم کی بنگر یو اله

آز ار به دعا شقو یار ه ستا له‌غا ری و ینه
دو اره متی ده کی کره بنگری ر اغلی دینه

آز ار او د بیرو نه‌زه‌د چا کله‌و یر بیم
نه یا ری کوم نه په یا ری ه با ند یوی هیم
له می چر ته یا ر شته نه د چا سره‌و دریم
یو یا ر می گلبت خان دی مود ام او بی جور وینه

دو اره متی ده کی کره بنگری ر اغلی د ینه
رو پی می ستاد یا ره‌د بنگرو سا تلی د ینه



Ketabton.com

PROPERTY OF ACKU
9860



دگل شیرین آواز
ددیری مجلس

# دادم خان دنکل ذارې

مال چې ښوری دنوتیا زلفې مې بې شماله ښوری
میرمنې زیرې مې در باندې آ شیرین اشنادې راغې که ئې گوری

* * *

مال که شین دی له ښادی نه مې زړه شین دی
بلو نظرور باندې وګړه دادمستې له باهو نه سرو نه سپین دی

* * *

دا پاس په بام ناستې محبوبې حال زما درته معلوم دی
چې په خدای مې قسم در کړو هغه مستې درخانۍ د کورور کوم دی

* * *

مال که خانه آدم خانه داخیالې رباب دې لرې کړه له مخې
د درخانۍ دا سې رضاده چې په مخکې دې پرهردی که دې زخې

* * *

دغه پرند دی دهیلیو دلته څه غواړې نرغځې
له مخې لرې شې توفان شې، آدم خان او درخانۍ ترغاړه وځې

* * *

درخو سیا شت د پنځلسې ده نرسې ستر گه د سپا ده
که چرته ویش د نجونو راغې آدم خانه در خوستا نرسې زماده